د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه ییز مطالعات

فصلنامهٔ مرکز مطالعات منطقه‌یی افغانستان



۴


- دوره: اول
- سال:۱۴۰۴ هـ.ش
- ربع: څلورمه
- شماره مسلسل:۷۹
- سال تأسیس:۱۳۸۵ هـ.ش
- کابل - افغانستان


پـه دې ګڼه کې:


- نسخه شناس و متن شناس نستوه...
- له همګټو هېوادونو سره د...
- جزایر سه ګانه خلیج فارس و نقش...
- د حماس او اسرائیلو د جګړې په اړه...
- د روسيې او ایران وروستی اړیکې او...


سیمه ییز مطالعات
شماره: ۷۹ ، سال ۱۴۰۴ هـ.ش

# REGIONAL STUDIES
## Quarterly Journal

Establishment: 2006
Academic Publication
Afghanistan Science Academy
Serial No:79

Address:
Afghanistan Science Academy
Sherpoor Square, Kabul-Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه‌ییز مطالعات

**مجلهٔ علمی- تحقیقی**

مطالعات سیاسی، اقتصادی و فرهنگی منطقه‌یی، معرفی، بررسی و تحلیل سازمان-ها، کنفرانس‌ها و نهادهای منطقه‌یی

د تأسیس کال: ۱۳۸۵ ل

پرله‌پسې شمېره: ۷۹ (۱۴۰۴ ل، ۴ گڼه)

**یادونه:**

- ✓ مقاله دې له یوې رسمي پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلېفون شمېره او برېښنالیک وي؛ د علومو اکاډمۍ ادارې ته راولېږل شي.
- ✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه، څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.
- ✓ رالېږل شوې مقاله باید بل ځای نه وي خپره شوې.
- ✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او ل منځپانګې سره سمون ولري.
- ✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو تر منځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي؛ همدا راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.
- ✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش یا مېتود، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.
- ✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې و نه لري او له منطقي تسلسل سره په یوه A4 مخ په word کې تنظیم شوې وي.
- ✓ د مقالې حجم حد اقل ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو تر منځ فاصله باید Single وي او ادارې ته دې سافټ او هارډ کاپي راولېږل شي.
- ✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تایید او رد واک لري.
- ✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسؤلیت نه لري.
- ✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول بې له مأخذه جواز نه لري.
- ✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی**: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر**: څېړندوی بشرمل زرغون

**کتنپلاوي**:

څېړنپوه دوکتور رفیع‌الله نیازی

څېړنوال عبدالشکور سالنگی

څېړنوال عبدالصبور مبارز

څېړندوی عمران زکریا

څېړندوی احسان الله احسان

**پته**: د افغانستان د علومو اکاډمي، سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د شېرپور څلور لارې، شهر نو، کابل.

**مطبعه**: ستاره همت

د اړیکو شمېرې:

+۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹۹۳ - +۹۳۷۶۶۱۱۰۰۰۸

**د افغانستان د علومو اکاډمي برېښنلیک**: Info@asa.gov.af

**د مجلې برېښنلیک**: rsc@asa.gov.afg

**د کالنۍ ګډون بیې**:

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایتونو کې: ۳۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ۲۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمي د څېړونکو او استاذانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| سرلیک | ل/ ژ | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱- نسخه شناس و متن شناس نستوه... | سرمحقق زلمی هیوادمل | ۱ |
| ۲- له همګټو هېوادونو سره د تاجکستان... | څېړنپوه عبدالرحیم بختانی | ۹ |
| ۳- جزایر سه گانه خلیج فارس و نقش... | معاون سرمحقق راضیه غوث | ۳۳ |
| ۴- د حماس او اسرائیلو د جګړې په اړه... | څېړنوال رحمت الله همت مظلومیار | ۵۹ |
| ۵- د روسیې او ایران وروستی اړیکې او... | څېړنواله خاطره شینوا رې | ۷۵ |
| ٦- د زنګزور دهلېز؛ د سیمې هېوادونو ګټې او... | څېړنوال عبدالخالق فردوس | ۸۹ |
| ۷- د روسیې- اوکراین او ایران- اسرائیلو د جګړو... | څېړندوی محمداسماعیل امیري | ۱۰۵ |
| ۸- اهمیت دهلیز واخان و چالش‌های تحقق... | محقق کوشا اکبری | ۱۴۳ |
| ۹- په منځني ختیځ کې د ایران او سعودي... | څېړندوی عاشق الله اخلاصیار | ۱۶۱ |

سرمحقق زلمی هیوادمل

# نسخه شناس و متن شناس نستوه

## پروفیسور عبدالغنی میرزایف

# Distinguished Manuscript and Textual Studies Scholar Professor Abdulghani Mirzayev

Professor Zalmay Hewadmal

**Abstract**

This article examines the academic standing and scholarly contributions of a prominent Central Asian figure who remains little known in Afghanistan.

Professor Mirzayev maintained strong relationships with academic institutions and with leading scientific and cultural scholars. This brief note introduces his esteemed profile to the readers of this magazine in our country.

### چکیده

این نبشته پیرامون موقف اکادمیک و کارکردهای علمی شخصیت سرشناس آسیای مرکزی، ولی کمتر شناخته شده در افغانستان تهیه گریده است.

استاد میرزایف با مؤسسات علمی و فرزانه‌گان علمی و فرهنگی روابط نیکو داشت، این نبشتهٔ کوتاه زمینهٔ شناسایی میرزایف بزرگوار را با خواننده‌گان این مجله در کشور ما مساعد میسازد.

### مقدمه

در سدهٔ بیستم در جمهوری تاجیکستان در رشته‌های گونه‌گون دانش‌ها و علوم چهره‌های نابناک اکادمیک درخشیدند، که نه تنها در محافل علمی تاجیکستان و جمهوری های دیگر آسیای مرکز مورد توجه و احترام علما و دانشمندان قرار داشتند، بلکه در محافل اکادمیک تمام اتحاد شوروی مطرح بودند و در حلقات علمی کشورهای منطقه نیز به آنها و آثارشان ارج گذاشته میشد.

در این شمار دانشمندان یکی هم پروفیسور عبدالغنی میرزایف بود، که عمرش را در کسب دانش، تدریس و تحقیق سپری کرد، به شاگردان زیادی آموزش داد و آثار فراوانی از خود به یادگار گذاشت.

پروفیسور عبدالغنی میرزایف با دانشمندان و مؤسسات علمی و فرهنگی افغانستان نیز میانهٔ خوبی داشت.

من در این نبشته دربارهٔ او و کارهای اکادمیک وی مختصری را غرض آشنایی هم میهنان با این دانشمند تقدیم میدارم.

## اهمیت و ضرورت

استاد عبدالغنی میرزایف با کشور ما علاقهٔ فراوان داشت، در سمینارهای بین‌المللی برگزارشده در افغانستان اشتراک میورزید و مقالاتش را تقدیم اشتراک کننده‌گان نشست‌ها میداشت، آشنایی و دوستی با دانشمندان و فرهنگیان افغانستان حاصل نموده بود.

معرفی این همه گامها اثرگذار در تاریخ روابط فرهنگی افغانستان و تاجیکستان خواهد بود.

## روش پژوهش

پژوهش این نبشته از منظر نوع پژوهش کتابخانه‌یی است و از نگاه روش پژوهش از روش کمپوزیت پیروی میکند.

## استاد میرزایف

عبدالغنی میرزایف در سال ۱۹۰۸م در کشرود از توابع ازبیکستان چشم به جهان گشود، آموزشهای ابتدایی را در زادگاه خود فرا گرفت و بعد از آن به لنینگراد رفت و در دانشگاه دولتی آن دیار در رشتهٔ خاورشناسی آموزش دید، در سال ۱۹۳۹م فارغ شد و به تاجیکستان برگشت و در دانشگاه آموزگاری دوشنبه به تدریس زبانشناسی و تاریخ زبان پارسی پرداخت، چند سالی مصروف آموزگاری در این دانشگاه بود و بعد در سال ۱۹۴۲ م در سفارت شوروی در ایران به کار گماشته شد و تا سال ۱۹۴۴م در تهران بود.

در سالهای ۱۹۴۵-۱۹۴۷ م به حیث مدیر بخش ادبیات انستیتوت تاریخ اکادمی شوروی اجرای وظیفه کرد و از سال ۱۹۴۷ تا ۱۹۵۱ م به حیث رئیس همان انستیتوت کار کرد، در سالهای ۱۹۵۱- ۱۹۵٦ م مدیر بخش ادبیات اکادمی علوم تاجیکستان بود.

در سالهای ۱۹۵٦- ۱۹۷٦م استاد میرزایف انستیتوت خاورشناسی اکادمی علوم تاجیکستان را رهبری میکرد و به حیث رئیس آن مرکز پژوهشی مصروف خدمت بود.

پروفیسور عبدالغنی میرزایف در سال ۱۹۵۱م عضو وابستهء اکادمی علوم تاجیکستان و در سال ۱۹۵۷م دوکتوری علوم را به دست آورد و در سال ۱۹٦۱م به مقام اکادمیک پروفیسوری رسید[۱].

استاد میرزایف در سال ۱۹۴۸م، عضویت اتحادیه نویسندگان کشور شوروی را نیز حاصل کرده بود، میرزایف در شورای عالی تاجیکستان نمایندهء مردم بود، عضو انجمن فرهنگی شوروی با کشورهای عربی، مدیر افتخاری ماهنامهء شرق نو در پراگ، عضو هیئت مشاوران خارجی نشریهء ایران شناسی بود.

## کارهای اکادمیک او

پروفیسور عبدالغنی میرزایف نویسنده و پژوهشگر بود، از جوانی به نوشتن مقاله ها میپرداخت، پس از تحصیل در رشتهء خاورشناسی و گزینش پیشهء آموزگاری و بعد کار در مؤسسات اکادمیک به پژوهش رخ کرد و شماری از مقالات و آثار مستقل پژوهشی نوشت.

بنا بر گفتهء خودش در سال ۱۹٦۱م شمار مقاله ها و آثار او به ۱۲۹ میرسیدند[۲].

چون بعد از این سال، استاد میرزایف ۱۴سال دیگر هم زنده بود و به کارهای پژوهش فعالانه میپرداخت، آثار دیگری نیز به رشتهء تحریر کشیده باشد.

در دانشنامهء ادب فارسی آورده است که استاد میرزایف دربارهء مسایل زبان و ادبیات فارسی، تاجیکی و فوکلور نبشته‌ها و پژوهشهایی دارد، که از آن جمله پژوهشهای او در ادبیات تاجیک و همچنان دربارهء روابط تاجیکستان با افغانستان

و ایران جایگاه خاصی دارد، این پژوهشها به تاجیکی در سال ۱۹۴۷م و به زبان روسی در سال ۱۹۵۴م چاپ شده اند.

مقالات او در روزنامه‌های آواز تاجیک، بیداری تاجیک، تاجکستان سرخ و ماهنامهء ادبیات سوسیالیستی چاپ گردیده‌اند.

استاد میرزایف مقالات و نبشته های خود را به امضای: گلخنی، شهدی و عبدالغنی به چاپ میرسانده است[۳].

سالهای پیش در یکی از یادداشتهای معرفی گونهء دربارهء میرزایف از سه اثر او نام گرفته بود:

(۱) **حیات و آثار بنایی هروی**، تاجیکی ۱۹۵۷م این اثر پس از مرگ او در سال ۱۹۸۰ به زبان روسی نیز چاپ شده است.

(۲) **حیات و آثار ابوعبدالله رودکی**، تاجیکی ۱۹۵۸، روسی ۱۹٦۵م.

(۳) **رودکی و انکشاف غزل** (۱۹۵۷).

چند سالی بعد از خوانش این یادداشت نسخهء چاپی (رودکی و انکشاف غزل) را یافتم، که به رسم الخط عربی به زبان فارسی- تاجیکی از سوی ادارهء نشریات دولتی تاجیکستان در دوشنبه چاپ شده است.

در دانشنامهء ادب فارسي در آثار میرزایف از پژوهشهای زیرینی نام گرفته شده است:

**(۱) در بخش تدوین متون**

دیوان منتخب سیدا (۱۹۴۴م)، رسالهء احمد دانش، مختصری دربارهء سلطنت خانوادهء منغیتیه (۱۹٦۰م)؛ حکایات و تمثیلات بنایی (۱۹٦۳م)؛ اشعار معاصران رودکی (۱۹۵۸م)؛ آثار رودکی (۱۹۵۸م)؛ آثار منتخب جامی (۱۹٦۴م) و آثار منتخب امیر خسرو دهلوی (۱۹۷۱-۱۹۷۵م).

**(۲) در بخش نسخه شناسی و فهرست سازی**

کار فهرست سازی نسخ خطی اکادمی علوم تاجبکستان به کوشش و زیر نظر استاد میرزایف در شش جلد تکمیل گردید و کار نشر آن در سال ۱۹٦۱ آغاز و در سال ۱۹۸۸م خاتمه یافت.

### (۳) در بخش ادبیات شناسی

در بخش ادبیات شناسی نیز استاد میرزایف کارهای سودمندی به فرجام رسانده، همه آن کارآمد برای تاریخ ادبیات پارسی- تاجیکی تواند بود، چون:

ملهم بخارایی (۱۹۴۸م)؛ ملیحای سمرقندی و تذکرهء مذاکرالاصحاب (۱۹٦۹م)؛ حکایت‌های دربارهء بوعلی سینا و شخصیت وی (۱۹٦۳م) امیر خسرو دهلوی و مقام او (۱۹۷٦م) و سیزده مقاله (۱۹۷۱م)(۵).

شایسته به یاد آوری است که پژوهشهای استاد میرزایف دربارهء تذکرهء ملیحای سمرقندی، گسترده و مورد توجه پژوهشگران بعدی بودند، چنان که دانشمندان تاجیک از جمله کمال الدین صدرالدین زاده عینی در مقدمهء تذکرهء مذاکر الاصحاب نوشته است: «استاد عبدالغنی میرزایف یکی از پژوهشگران صاحب نظر در زمینهء تذکرهء ملیحا می‌باشد. این دانشمند برجستهء ادبیات تاجیک یک سلسله بررسی‌های علمی در زمینهء این تذکره نوشته است».

کمال الدین صدرالدین زاده عینی فهرست مقالاتی را نیز آورده است، که استاد میرزایف دربارهء تذکره ملیحای سمرقندی نوشته است، شمار این مقالات را هشت نشان داده، مقالات به زبانهای پارسی، تاجیکی و روسی نوشته شده‌اند و بعضی از آنها به زبان انگلیسی ترجمه نیز شده‌اند(٦).

### اشتراک در همایشهای بین المللی

اکادمیسین عبدالغنی میرزایف در دوران کارها و وظایف اکادمیک افزون بر سیمینار های ملی، در همایشهای بین المللی اکادمیک و علمی نیز اشتراک کرده بود:

-کنگره‌های بین المللی خاورشناسان، به حیث عضو هیئت خاورشناسان شوروی، در سال ۱۹۵۷م در میونیخ؛ مسکو (۱۹٦۰)، دهلی (۱۹٦۴م) و پاریس (۱۹۷۳م).

- نخستین کنگرهء جهانی ایران شناسان در تهران (۱۹٦٦م).

- سیمینار به مناسبت نهصدمین سال وفات خواجه عبدالله انصاری، کابل (۱۹٦۳م).

- کنگرهء ناصر خسرو در مشهد (۱۹۷۴م).

- کنگرهء ابوریحان البیرونی در ایران و پاکستان (۱۹۷۵م)[۷].

اکادمیسین عبدالغنی میرزایف در تمام کنگره‌ها سیمینارها و همایش‌های یاد شده سخنرانی داشته است.

به قول کمال‌الدین صدرالدین زاده عینی، استاد میرزایف در کنگرهء جهانی خاورشناسان در مسکو، (۱۹٦۰م) دربارهء تذکرهء ملیحای سمرقندی سخنرانی کرد[۸].

## استاد میرزایف و افغانستان

ما در همین نبشته خواندیم که استاد میرزایف در سلسلهء کارهای اکادمیک خود دربارهء روابط ادبی افغانستان و تاجیکستان نیز کاری کرده است.

استاد در سال ۱۹٦۲م غرض اشتراک در همایش بین‌المللی به مناسبت نهصدمین سال وفات خواجه عبدالله انصاری به کابل آمد، در سیمینار اشتراک کرد و با دانشمندان آن وقت افغانستان دید و بازدیدها داشت. در یکی از جلسات علمی سیمینار زیر عنوان (نسخه های قلمی آثار پیر هرات در اتحاد شوروی و اهمیت آنها برای نشر انتقادی) سخنرانی کرد و این سخنرانی او در مجموعهء مقالات همان همایش بین‌المللی در آن زمان چاپ شد [۹].

هر گاهی که دانشمندان افغان به تاجیکستان میرفتند، با استاد میرزایف ملاقاتها میکردند و با وی پیرامون مسایل فرهنگ به مباحثه میپرداختند.

به گونه مثال: پوهاند صدیق‌الله رښتین در یکی از سفرنامه های خود نبشته است، که او در سال ۱۳۵۱/ ۱۹۷۲م ضمن سفر به آسیای مرکزی مدتی در دوشنبه نیز بود.

پوهاند رښتین در این اقامت دیدارهای با استاد میرزایف داشته، در جایی از سفرنامه خود اطلاعات جالبی در زمینه به ما میدهد، وی نوشته است: آقای عبدالغنی میرزایف کتاب خطیی را از کتابخانهء شخصی خود به من نشان داد، که بر حواشی آن اشعار دو شاعر قدیم پشتو نوشته شده اند، اصل کتاب دیوان فارسی

بود، اما بر حواشی آن به خط زیبا، نخست اشعار ارزانی و بعد اشعار تصوفی میرخان نقل شده‌اند[۱۰].

این یاداشت سفرنامهء پوهاند رښتین به ما خبر میدهد، که استاد میرزایف در کتابخانهء شخصی خود نیز نسخه‌های خطی داشت و در حواشی یکی از این نسخه ها آثار دو شاعر قدیم پشتو نیز محفوظ است، زمانی موسسات اکادمیک آن وقت افغانستان از مرگ نابه هنگام استاد عبدالغنی میرزایف اطلاع یافتند، پیامهای تسلیت فرستادند و خبر مرگ او در نشرات آن وقت کابل به نشر رسید.

من (هیوادمل) در آن زمان مدیر اخبار زیری ارگان نشراتی پشتو ټولنه (اکادمی پشتو) بودم و خبر مرگ او را نشر کردم، که ترجمهء دری- پارسی آن در سطور زیرین آورده میشود:

اکادمسین عبدالغنی میرزایف از رجال مشهور علمی تاجیکستان شوروی بود، روز ١٦ اگست سال ١٩٧٦م به عمر ٦٨ ساله‌گی وفات یافت.

پروفیسور میرزایف سالها به حیث رئیس انستیتوت خاورشناسی تاجیکستان اجرای وظیفه کرد، در این انستیتوت شعبهء افغانستان شناسی از شعبات مهم این انستیتوت شمرده میشود.

میرزایف در کار رهبری این شعبه زحمات زیادی کشید، کسانی که دربارهء زبان، تاریخ و فرهنگ افغانستان به تحصیلات عالی میپرداختند، زیر نظر میرزایف کار کردند، افغان‌شناش شکرالله عارف یکی از شاگردان میرزایف بود، که زیر نظر او از رسالهء دوکتورای خود در سال ١٩٧٣م دفاع کرد، وی دربارهء ادبیات معاصر پشتو به ویژه آثار بینوا رسالهء خود را تکمیل کرده بود... [۱۱].

**مآخذ**

(۱) م. شکور زاده: میرزایف، در (دانشنامهء ادب فارسی) ج۱، به سرپرستی حسن انوشه، تهران، ۱۳۸۰هـ ش، ص ص ۸۸۳- ۸۸۴.

(۲) نهصدمین سال وفات خواجه عبدالله انصاری هروی، کابل، ۱۳۴۱هـش، ص ۱۹۹.

(۳) دانشنامهء ادب فارسی، ج ۱ ص ۸۸۴.

(۵) دانشنامهء ادب فارسی، ج۱ ص ۸۸۴.

(٦) کمال‌الدین صدرالدین زاده عینی: مقدمهء تدکرهء مذاکرالاصحاب، ۱۳۸۵ هـ ش، دوشنبه ، ص ص ۳۱- ۳۳.

(۷) دانشنامهء ادب فارسی، ج۱، ص ۸۸۴.

(۹) میرزایف، عبدالغنی: نسخه های قلمی آثار پیر هرات در اتحاد شوروی، کابل، ۱۳۴۱هـ ش، ص ص۱۳۵-۱۴۰.

(۱۰) رښتین، پوهاند صدیق الله: دعشق آباد سفر،کابل (مجله) شمارهء ۹، سال ۱۳۵۱، ص ۴۲.

(۱۱) زیری (جریده) ارگان نشراتی پشتو ټولنه، ۱۳۵۵هـ ش.

تدوین: عمرو خان ظریفي

ژباړن: څېړنپوه عبدالرحیم بختاني

## له همګنو هېوادونو سره د تاجکستان اړیکې

د تاجکستان جمهوریت د خپلې بهرنۍ تګلارې د طرحې او تنظیم پر مهال د خپلواکو هېوادونو لکه د پخواني شوروي اتحاد د وارثانو په څېر له هېوادونو سره د هر اړخیزو همکاریو وده او پراختیا د یو مهم لوري په توګه په ګوته کړې وه، له همدې امله د تاجکستان د خپلواکۍ له لومړیو ورځو راهیسې له دغو هېوادونو سره هر اړخیزې اړیکې ټینګې شوې دي، په دغو هېوادونو کې په زیات شمېر کې تاجکستان خپل ډیپلوماټیک ماموریتونه پرانېستي دي او د دغو هېوادونو سفارتونه د دوشنبې په ښار کې فعالیت کوي، هغه مشترکات او ارزښتونه چې د پخواني شوروي اتحاد په چوکاټ کې د ګډ ژوند له وخته پاتې دي، نن ورځ شونې ده چې هغه اړیکې او همکارۍ دوام وکړي او مثبتې پایلې ولري.

د پخواني شوروي د هېوادونو تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا په برخه کې مثبتې هڅې وشوې چې د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په بهیر کې رامنځ ته شوې ستونزې کمې شي، همدارنګه د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو د پراختیا په موخه د خپلواکو دولتونو تر منځ څو اتحادیې جوړې شوې چې په کې د خپلواکو دولتونو اتحادیه، د یوریشیا اقتصادي اتحادیه او د ټولیز امنیت تړون سازمان شامل دي، تاجکستان په دې سازمانونو کې شامل دی او د خپلو ګډو موخو د پلي کولو لپاره په فعاله توګه کار کوي.

تاجکستان د خپلواکو هېوادونو په اتحادیه کې له خپلو ملګرو سره د دوه اړخیزو همکاریو په برخه کې له نړیوالو منل شوو اصولو سره سم کار کړی دی، دا د دوستانه اړیکو وده او پیاوړتیا ته بنسټیز اهمیت ورکړی، تاجکستان د سیاسي، سوداګریزو، اقتصادي، علمي او فرهنګي اړیکو د ټینګښت په برخه کې هر اړخیزې هڅې کړې دي او په بهر کې یې د تاجکستان د ملي، دولتي او د تاجکستان د وګړو له ګټو څخه هر اړخیزه همکاري کړې ده، د خپلواکو هېوادونو د اتحادیې په کچه د روسیې له فدراسیون سره همکاري د تاجکستان په بهرني سیاست کې ځانګړی

ځای لري او د روسيې فدراسيون د تاجکستان د جمهوريت د يوه مهم ستراتيژيک ملګري په توګه منل شوی، د روسيې فدراسيون يو له لومړنيو دولتونو څخه دی چې د تاجکستان جمهوريت خپلواکي يې په رسميت وپېژندله.

## ۱- د فدراتيفي روسيې او تاجکستان جمهوريت تر منځ اړيکې

د تاجکستان او روسيې تر منځ د همکاريو او د اړيکو د پراختيا د نوو لارو چارو د پېژندلو په موخه، د تاجکستان د پراختيا په رياست کې د تاجکستان او روسيې تر منځ د ډيپلوماټيکو اړيکو د ټينګښت په اړه يو پروتوکول د ۱۹۹۲ز. د اپريل په اتمه د دوشنبې په ښار کې لاسليک شو او د ۱۹۹۲ز. د مې په مياشت کې د روسيې سفارت د تاجکستان په پلازمېنه کې پرانېستل شو او په خپل فعاليت يې پيل وکړ، وروسته بيا د تاجکستان د خجند په ښار کې د روسيې کونسلګرۍ په کار پيل وکړ.

د تاجکستان جمهوريت د خپلواکۍ له لومړيو ورځو راهيسې په مسکو کې ډيپلوماټيک ماموريت درلود او د ۱۹۹۳ز. د جون په اتمه د روسيې په فدراسيون کې د تاجکستان د جمهوريت دايمي استازولۍ په کار پيل وکړ چې وروسته د همدې کال د ډسمبر په ۱۸مه د تاجکستان جمهوريت سفارت په رسمي ډول د روسيې په پلازمېنه کې پرانېستل شو، بايد يادونه وشي چې دا په بهر کې د تاجکستان د جمهوريت تر ټولو لوی سفارت دی، له ستراتيژيک ملګري سره د اړيکو د پراختيا او د تلپاتې اړيکو د ټينګښت لپاره دومره ستر سفارت ته اړتيا ده، په وروستيو کلونو کې د تاجکستان کونسلګرۍ په يکاترينبورګ او اوفا ښارونو کې پرانېستل شوې چې د روسيې په خاوره کې د تاجکستان د اتباعو د حقوقو او ګټو د ساتنې او د دوه اړخيزو همکاريو د پراختيا لپاره مهم او اړين دي.

يو مهم نړيوال سند چې د ۱۹۹۳ز. د مې په ۲۵مه لاسليک شو، د تاجکستان او روسيې تر منځ د دوو خپلواکو هېوادونو په توګه د همکارۍ له بهير سره ډېره مرسته وکړه، دا سند د دوستۍ، همکارۍ او متقابلو مرستو يو تړون دی، دمګړۍ د دواړو دوستو هېوادونو د دوه اړخيزو اړيکو په برخه کې نږدې ۲۱۶ دوه اړخيز تړونونه لاسليک شوي دي چې په بېلا بېلو کچو او پړاوونو کې د دواړو هېوادونو تر منځ همکارۍ تنظيموي.

باید یادونه وشي چې د تاجکستان او روسیې تر منځ دوه اړخیزه همکاري بېلابېل اړخونه لري، په ټولیزه توګه د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو کچه د ستراتیژیکو همکاریو پر وړاندې ځوابونه دي چې په عمده توګه په نظامي، سیاسي، اقتصادي، کلتوري او بشري برخو پورې اړه لري.

په دې برخه کې له تاجکستان سره د هېوادونو فعالې سیاسي اړیکې په لوړه کچه دي، همدارنګه د تاجکستان او روسیې مشران هر کال د خپلو رسمي او کاري سفرونو په لړ کې ګټورې ناستې ترسره کوي چې په ترڅ کې یې د تاجکستان او روسیې تر منځ د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو پر مهمو موضوعاتو او ګټورو لارو چارو خبرې کېږي، د ۱۹۹۹ز. د اپریل په میاشت کې روسیې ته د تاجکستان د جمهور رئیس امام علي رحمان رسمي سفر د تاجکستان جمهوریت او د روسیې فدراسیون تر منځ د متقابلو اړیکو د همېشنۍ پراختیا او پیاوړتیا لامل شو، د دغه سفر په ترڅ کې د تاجکستان جمهوریت او د روسیې فدراسیون تر منځ تر ۲۱مې پېړۍ د همکارۍ تړون د تاجکستان په خاوره کې د روسیې د پوځي اډې د موجودیت د وضعیت او شرایطو په اړه لاسلیک شو.

د دواړو هېوادونو د مشرانو د نورو سفرونو له جملې څخه چې ډېر مهم ګڼل کېږي، د ۱۹۹۹ز. په نومبر کې تاجکستان ته د روسیې د ولسمشر ولادیمیر پوتین هغه سفر و چې د ولسمشر په توګه د امام علي رحمان د بیا ټاکل کېدو د لوړې په مراسمو کې ګډون کړی و، همدارنګه تاجکستان ته د روسیې د ولسمشر بل سفر د ۲۰۰۰ز. د جولای په میاشت کې د شانګهای سازمان د مشرانو په غونډه کې د ګډون لپاره و.

د ۲۰۰۴ز. د اکتوبر په میاشت کې تاجکستان ته د روسیې د ولسمشر ولادیمیر پوتین د رسمي سفر په ترڅ کې په ټولو مهمو برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو په اړه ارزونه وشوه او د دواړو لورو د ګټو په پام کې نیولو سره پر موجوده مسئلو جدي خبرې وشوې، همدارنګه د سترو دوه اړخیزو پروژو د تطبیق په اړه په تاجکستان کې د برېښنا د تولید او معدني زېرمو د ایستلو په برخو کې یو اقتصادي هوکړه لیک لاسلیک شو.

د تاجکستان جمهور رئیس امام علي رحمان د روسیې د فدراسیون له جمهور رئیس سره د خپلو څو لیدنو په ترڅ کې په عمده توګه د اقتصادي همکاریو د پراختیا، په

تاجکستان کې د ګډې پانګونې په برخه کې او د زیربنايي تأسیساتو د جوړولو په اړه خبرې وکړې، د ګټورو سیمه ییزو همکاریو د پراختیا د لیدلوري موضوع هم د دواړو خواو د خبرو اترو اصلي تمرکز ګرځېدلی دی، د ۲۰۰۸ز. د اکتوبر پر ۲۹ مه تاجکستان ته د روسیې د جمهور رئیس دیمتري مدویدیف د رسمي سفر په ترځ کې د همکاریو د لا پراختیا په اړه یو ځل بیا خبرې وشوې او څو دوه اړخیز سندونه لاسلیک شول.

د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي اړیکو په چوکاټ کې د تاجکستان او روسیې ترمنځ پارلماني همکاري په فعاله توګه پیل شوې ده، په ځانګړې توګه د ۲۰۰۵ز. په نومبر کې د روسیې د فدراسیون د دولتي دوما (پارلمان) او د تاجکستان د جمهوریت د عالي شورا تر منځ د همکارۍ په اړه د دواړو هېوادونو د پارلماني کمېسیون غونډه په دوشنبه کې ترسره شوه، له دغې غونډې وروسته د تاجکستان په پلازمېنې کې د روسیې لومړنی ملي نندارتون پرانېستل شو، د دواړو هېوادونو قانون جوړونکو په تاجکستان کې د مهاجرو کارګرانو د ستونزو او د تاجکستان جمهوریت او د روسیې فدراسیون تر منځ د حقوقي تړونونو د وضعیت په اړه هر اړخیز بحثونه وکړل، دغه راز د رسمي سفرونو په ترځ کې د تاجکستان او روسیې د پارلمانونو د مدیره هیئت غړي او نور استازي په منظمه توګه د اړیکو د لا ټینګښت په موخه د یو بل له هېوادونو څخه لیدنه کوي چې د دواړو هېوادونو د پارلماني اړیکو په پراختیا کې یې مهم نقش لوبولی دی.

د تاجکستان جمهوریت د ملي شورا او د روسیې د فدرالي شورا تر منځ د همکارۍ د موافقې په ګډون د دواړو هېوادونو د پارلمانونو تر منځ هوکړه لیکونه او نور مهم سندونه لاسلیک شول او د دې هوکړه لیکونو د تطبیق لپاره یو همېشنی اجرایوي کمېسیون جوړ شو.

د تاجکستان او روسیې پارلماني غونډه د ۲۰۰٦ز. په اګست کې د دوشنبې په ښار کې د سیمه ییزو همکاریو فرصتونه برابر کړل، همدارنګه د روسیې او تاجکستان تر منځ راتلونکې پارلماني غونډه د ۲۰۱۱ز. د مې په میاشت کې د روسیې د مسکو او سنټ پیترزبورګ په ښارونو کې جوړه شوې وه چې د دواړو هېوادونو د اړیکو په برخه کې یوه له مهمو پېښو څخه ګڼل کېدای شي، له روسیې سره د همکارۍ بهیر بېلابېلې ځانګړتیاوې لري؛ ځکه چې دا په همېشنۍ توګه د پرمختګ په حال کې ده، په بېلابېلو

پړاوونو کې د دواړو هېوادونو تر منځ په اقتصادي او مالي برخو کې د همکاریو او همدارنګه روسیې ته د تاجک کارګرانو د مهاجرت د تنظیم او د دواړو هېوادونو د ګټو پر بنسټ مهم تړونونه لاسلیک شوي دي.

د تاجکستان او روسیې تر منځ د اقتصادي همکاریو اړخونه په عمده توګه د تاجکستان او روسیې د اقتصادي همکاریو د دولتي کمیسیون د فعالیتونو په چوکاټ کې څېړل شوي او د دواړو هېوادونو تر منځ په بېلابېلو برخو کې د اقتصادي همکاریو یو شمېر نور سندونه هم تصویب شوي دي، د یادونې وړ ده چې تر اوسه د تاجکستان او روسیې تر منځ د یاد کمېسیون یوولس غونډې شوې دي.

د تاجکستان او روسیې تر منځ د اړیکو بنسټ د سوداګریزو او اقتصادي همکاریو، د توکو د تبادلې زیاتوالی، د اوبو د انرژۍ په برخو کې د همکارۍ او د تېلو او ګازو او ګټورو کانونو استخراج او همدارنګه د نظامي، تخنیکي پراختیا مسئلې دي، د دواړو دولتونو غړو د پورتنیو مسایلو په اړه په جدي توګه غور کړی دی، روسیه د توکو د صادراتو او وارداتو په برخه کې د تاجکستان عمده شریک دی، په تېرو اوو کلونو کې د روسیې او تاجکستان تر منځ سوداګري درې برابره زیاته شوې او په تاجکستان کې د بهرنۍ پانګونې یو پر دریېمه برخه د روسیې په فدراسیون پورې اړه لري چې د متقابلې پراختیا او هر اړخیزې همکارۍ څرګند ثبوت دی.

د تاجکستان او روسیې تر منځ د سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو په برخو کې د انرژۍ چارې لومړی ځای لري، د سنګتوده د اوبو د برېښنا د تولید د فابریکې جوړول د مشترک المنافع هېوادونو په قلمرو کې د انرژۍ تر ټولو ستره پروژه ده او د دې فابریکې د جوړولو بشپړېدل د تاجکستان د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره ډېر مهم دي، له دې سره سره روسیه د اوبو د برېښنا په برخه کې هم همکاري کوي، په دې برخه کې روسیه غواړي چې د کاسا-۱۰۰۰ پروژې په پلي کولو کې برخه واخلي او په تاجکستان کې د برېښنا د صادراتو د بازار په برخه کې د امادګۍ اعلان یې کړی دی.

د دې په مقابل کې د تاجکستان د دولت او ګازپروم شرکت تر منځ یو تړون لاسلیک شو چې له مخې یې دواړه خواوې د تاجکستان په خاوره کې د جیولوجیکي کشفیاتو د

عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې د پروژو پلي کول پیل کړي دي، دمګړی د تاجکستان جمهوریت په سرګزون، رنګون او شاهمباري سیمو کې د نفتو او ګازو د تولید چارې په بریالیتوب سره دوام لري، د ساریقمش په سیمه کې په ۲۰۱۰ز. کې د ګازو استخراج پیل شو، په همدې ډول له نورو روسي شرکتونو سره د ځمکې پېژندنې او د تاجکستان د سرو زرو او نورو فلزاتو په ګډون د ځمکې لاندې زېرمو په برخو کې د کادرونو د روزنې لپاره همکاري په ښه کچه روانه ده.

د حکومت د اړیکو د پیاوړتیا او د مسلکي همکاریو د پراخولو په موخه د ۲۰۰۸ز. په مارچ کې فدراتیفې روسیې ته د تاجکستان جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر عمرو خان ظریفي رسمي سفر وکړ، د مشترک المنافع دولتونو د ټولنې دې سفر په لړ کې په سیاسي، اقتصادي او بشري برخو کې د اتحاد او ستراتېژیکو همکاریو پر بنسټ خبرې وشوې، دوه اړخیزو پر یو لړ مهمو مسایلو په دې کتنه کې ستراتېژیکه همکاري د ګډو ګټو هېوادونو د ټولنې د فعالیتونو د اغېزمنتیا او د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا په اړه د نظریو تبادله وشوه، په دې کتنه کې د ګډو ګټو هېوادونو د ټولنې(مشترک المنافع هېوادونو) د فعالیتونو د اغېزمنتیا او د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا په اړه د نظریو تبادله وشوه، دغه راز په دوه اړخیزو دریځونو او له نړیوالو سازمانونو سره د تاجکستان او روسیې د بهرني سیاست د پرمختګ لپاره د راتلونکو هڅو د همغږي کولو لپاره د دواړو خواو پر چمتووالي ټینګار وشو، د ۲۰۱۱ ز لپاره د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو تر منځ د همکارۍ پروګرام اړخونه هم لاسلیک کړل.

د خپلواکۍ په موده کې دواړو خواو د سیمه ییزو همکاریو پراختیا ته ډېره پاملرنه کړې ده، د سیمه ییزو همکاریو په برخه کې د تاجکستان او روسیې د حکومتونو تر منځ د یوه هوکړه لیک د لاسلیکولو لپاره د روسیې له اقدام څخه ملاتړ وشو چې د سیمه ییزو همکاریو په برخه کې به د دواړو خواو د معیاري او حقوقي چوکاټ په بشپړولو کې مرسته وکړي، د یادونې وړ ده چې اوسمهال تاجکستان له ۷۰ ځانګو او لویې روسیې سره په ښه کچه سوداګریزې همکارۍ جوړې کړې دي.

د دواړو هېوادونو سياسي او اقتصادي همکاري د مشترک المنافع خپلواکو هېوادونو، د يورو آسيا د اقتصادي ټولنې، د شانګهاى د همکارۍ سازمان او نورو نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو سره په پرله پسې توګه د پراخېدو په حال کې ده، د دغو همکاريو بنسټيز اړخونه د سيمه ييز امنيت او ثبات پياوړتيا او همدارنګه د هماهنګي پروسو له پراختيا سره مرسته کول دي، د بېړنيو مسايلو د بحث او څېړنې په بهير کې د تاجکستان او روسيې دريځونه او له دغو سازمانونو سره لېوالتيا په ډېرو مواردو کې يو شان وه.

تاجکستان او روسيه تل سيمه ييزو امنيتي مسايلو ته پاملرنه کوي او د هېوادونو د ګډو اقداماتو همغږي په دې برخه کې مهم نقش لوبوي، د تاجکستان رهبري تل په افغانستان کې د وضعيت د اعتدال او د منځنۍ آسيا د سيمې د ثبات د ټينګښت لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي او په دې برخه کې له نورو هېوادونو څخه د مرستې غوښتنه کوي، د همدغو هڅو په پايله کې د ۲۰۰۱ ز په اکتوبر مياشت کې د تاجکستان، افغانستان او روسيې د ولسمشرانو درې اړخيزه غونډه په دوشنبه کې جوړه شوه، د دې غونډې اصلي موضوع په افغانستان کې د حالاتو د اعتدال په اړه د مهمو موضوعاتو څېړل وو، د تاجکستان، روسيې، افغانستان او پاکستان د ولسمشرانو په حضور کې د دوشنبې په لومړۍ څلور اړخيزه غونډه کې چې د ۲۰۰۹ ز. د جولاى په پاى کې د دوشنبې په ښار کې جوړه شوه؛ د سيمه ييزو مسايلو په برخه کې د يادو هېوادونو تر منځ د همکارۍ نوې بڼه پيل کړه، دويمه څلور اړخيزه غونډه د روسيې د ولسمشر په نوښت د ۲۰۱۰ز. د اګست په مياشت کې د روسيې په سوچي ښار کې جوړه شوه.

د علمي او ښوونيزو چارو په برخو کې د دواړو هېوادونو تر منځ همکاري په تدريجي ډول د پراختيا په حال کې ده، په دوشنبه کې د مسکو د دولتي پوهنتون د څانګې جوړېدل د ګډو ګټو هېوادونو په خاوره کې د يووالي تعليمي او کلتوري چاپېريال د ساتلو لپاره د دواړو هېوادونو د لېوالتيا نخښه ده، په پلان کې ده چې د روسيې په پوهنتونونو کې د دوو نورو ډيپارټمنټونو د جوړولو لپاره چې نومونه يې د انرژۍ پوهنتون او په دوشنبه کې د څېړنې او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون دى.

د تاجکستان او روسیې د خلکو کلتور، ژبې او نورو معنوي ارزښتونو ته وده ورکول په دوه اړخیزو اړیکو کې ځانګړی ځای لري، په دې برخه کې د اړیکو د ټینګښت په موخه، د تاجکستان جمهوریت او د روسیې فدراسیون تر منځ د فرهنګي مرکزونو او اطلاعاتو د جوړولو او فعالیت د شرایطو په اړه یو هوکړه لیک لاسلیک شو، د یادونې وړ ده چې د دا ډول مرکزونو جوړول به په راتلونکي کې په علمي، تعلیمي، تخنیکي او فرهنګي برخو کې د همکاریو د پراختیا لپاره مهم وي.

د یادونې وړ ده چې د تاجکستان له خپلواکۍ وروسته په دوو لسیزو کې د دواړو هېوادونو کلتوري ورځې او نورې علمي او ادبي غونډې د مسکو، سنټ پيټرزبورګ او دوشنبې په ښارونو کې جوړېږي او دا یو دود ګرځېدلی او د لا زیاتېدو په حال کې دی او د تاریخي دوستانه اړیکو په ټینګښت کې د تاجکستان او روسیې خلک مهم نقش لوبوي.

دغه راز د تاجکستان او روسیې تر منځ د دوه اړخیزو او څو اړخیزو اړیکو لړۍ عمومي ده او دایمي او مخ پر ودې ځانګړتیاوې لري، دواړو هېوادونو په خپل وروستي تاریخ کې، یعنې د تاجکستان له خپلواکۍ وروسته د همکاریو په بېلابېلو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي.

## ۲- د بیلاروس او تاجکستان جمهوریتونو تر منځ اړیکې

د تاجکستان او بیلاروس جمهوریت تر منځ دوه اړخیزې همکارۍ د تاجکستان له خپلواکۍ وروسته د ۱۹۹۶ز. د سپټمبر په پنځمه د ډیپلوماټیکو اړیکو په بیارغولو سره پیل شوې او په عین وخت کې د بیلاروس په پلازمېنه کې د تاجکستان جمهوریت سفارت پرانېستل شو، د بیلاروس جمهوریت ډیپلوماټیک ماموریت د یاد هېواد پلازمېنې په ۲۰۱۱ ز. کې پرانېستل شو.

یو مهم سند چې د دوه اړخیزو اړیکو اصلي دریځونه تنظیموي، د دوستۍ او همکارۍ تړون دی چې د ۲۰۰۰ز. په اپریل کې تاجکستان جمهوریت ته د بیلاروس جمهوریت د ولسمشر الکساندر لوکاشینکوف د لومړي سفر په جریان کې لاسلیک شو، دمګړۍ د دواړو هېوادونو تر منځ د حقوقي همکاریو د تړونونو شمېر

څه باندې ۵۳ مهم سندونه دي چې د سياسي اړيکو، سوداګريزو او اقتصادي، علمي، تعليمي او فرهنګي برخو پورې اړه لري.

د دوه اړخيزو اړيکو د دغه ډول مثبت جريان په دوام کې د ۲۰۰۱ز. د جون په مياشت کې د تاجکستان جمهور رئيس امام علي رحمان د بيلاروس له جمهوريت څخه ليدنه وکړه چې په اغېزمنه توګه ترسره شوه او څرګندې پايلې يې درلودې، د دغه سفر په ترڅ کې د اقتصاد او سوداګرۍ په برخو کې شپږ هوکړه ليکونه لاسليک شول.

د دواړو هېوادونو اړيکې د نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو په چوکاټ کې په ځانګړې توګه د مشترک المنافع خپلواکو هېوادونو، د امنيت او همکارۍ سازمان او د يورو آسيا د اقتصادي ټولنې په چوکاټ کې پراخېږي، تر ټولو مهمو نړيوالو او سيمه ييزو مسئلو په اړه د تاجکستان او بيلاروس دريځونه نږدې دي.

د تاجکستان د خپلواکۍ په لومړيو کلونو کې (له ۱۹۹۷ ز. وروسته) د دوه اړخيزو اړيکو د لا ټينګښت او د دواړو هېوادونو د پارلمانونو تر منځ د همکارۍ او د نظريو د تبادلې د رامنځ ته کولو په موخه د دواړو هېوادونو د پارلمانونو تر منځ د يوې کاري ډلې پر جوړولو موافقه وشوه.

د دوستانه اړيکو او منظمو سياسي اړيکو د پراختيا په رڼا کې د متقابلو ګټورو سوداګريزو او اقتصادي همکاريو پراختيا د دواړو هېوادونو د اړوندو جوړښتونو له مهمو او لومړيو کارونو څخه دي، دغه راز د تاجکستان او بيلاروس د حکومتونو د سوداګرۍ او اقتصادي همکاريو د کميسيون اووه غونډې تر اوسه ترسره شوې دي، د دغو غونډو تنظيموونکي به د اقتصادي همکاريو بهير ګام پر ګام لوړې کچې ته ورسوي، دمګړۍ د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګريزو همکاريو او نورو راکړو ورکړو بنسټ د خامو موادو، درنو وسايلو، صنعتي توليداتو او د خلکو د اړتيا وړ نورو توکو او همدارنګه د سبزيجاتو او مېوو د ټولو ډولونو واردول او صادرول دي.

موږ کولای شو په خوښۍ ووايو چې د تاجکستان او بيلاروس د صنعتي او توليدي فابريکو ترمنځ په فعاله توګه مستقيمې اړيکې ټينګې شوې دي چې د دواړو خواو په ګټه ګټل کېږي، د سوداګريزو او اقتصادي همکاريو د لا پراختيا موضوع په ځانګړې توګه په دولتي کچه د دواړو خواو د هيلو او د اقتصادي نږدېوالي په پام کې نيولو سره

پیلېږي، تاجکستان ته د بیلاروس د نوموتو شرکتونو د استازو پرله پسې سفرونه او د دوه اړخیزو ګټورو تړونونو رامنځ ته کول د دغو اړیکو روښانه پایلې دي، د دواړو خواو د هوکړې له مخې په بیلاروس کې ټول تولید شوي ماشینونه او درانه تجهیزات به په تاجکستان کې د راغون د برېښنا د تولید د فابریکې په جوړولو کې د کارونې لپاره پېرودل کېږي او په تاجکستان کې د کارېدونکو وسایلو د ترمیم لپاره هم هوکړې ته رسېدلي دي، د تاجکستان او بیلاروس اړونده جوړښتونه د همکارۍ د پراخولو په موخه د صنعتي ماشینونو، ترانسفارمرونو او نورو برېښنايي تجهیزاتو د تولید لپاره د ګډو فابریکو د جوړولو په اړه بحث کوي، د دواړو هېوادونو تر منځ د کلتوري، علمي او تعلیمي همکاریو په ډګر کې د پام وړ پراختیا او پرمختګ لیدل کېدای شي.

د بیلاروس جمهوریت د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د تاجک محصلینو زده کړه او له هغه هېواده د ځوانو متخصصینو فارغېدل د تاجکستان لپاره خورا مهم ګڼل کېږي.

## ۳- له تاجکستان سره د اوکراین اړیکې

اوکراین د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته په سیمه کې د تاجکستان یو له مهمو متحدینو څخه دی، د ۱۹۹۲ ز. د اپریل په ۲۴مه د تاجکستان او اوکراین ترمنځ ډیپلوماټیکې اړیکې پیل شوې، د دوی د اړیکو راتلونکې پراختیا د متقابل تفاهم او متقابل احترام او باور په روحیه کې دوام کوي، د تاجکستان جمهوریت د دوه اړخیزو اړیکو پراختیا او له اوکراین سره د متقابلې او ګټورې همکارۍ او پیاوړتیا غوښتونکی دی، د دې موخو لپاره د ۲۰۱۰ز. په ډسمبر کې د تاجکستان سفارت د اوکراین په پلازمېنه کې خپل فعالیت پیل کړ، یو مهم سند چې د دوه اړخیزو همکاریو اساسي بنسټ دی؛ هغه د تاجکستان او اوکراین د جمهوریتونو تر منځ د دوستۍ او همکارۍ تړون دی چې د ۲۰۰۱ز. د جولای په شپږمه د دواړو هېوادونو تر منځ لاسلیک شو، په ټولیز ډول هغه حقوقي تړونونه چې د تاجکستان او اوکراین جمهوریتونو تر منځ د همکارۍ په مختلفو برخو کې شامل دي؛ شاوخوا ۷۳ سندونه تشکیلوي، باید ټینګار وشي چې د دواړو هېوادونو مشرانو د رسمي او سوداګریزو سفرونو په ترڅ کې د تاجکستان او اوکراین تر منځ د اړیکو په پیاوړتیا او پراختیا کې مهم نقش لوبولی دی، دوی په هر سفر کې مهم سندونه لاسلیک کړي او اړیکې یې پراخې کړې دي.

د دوه اړخیزو همکاریو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره یو له مهمو همغږي اقداماتو څخه د اقتصادي همکاریو په برخه کې د تاجکستان او اوکراین د دولتي کمیسیون ماموریت دی چې په ۲۰۰۲ز. کې تأسیس شوی، د دغه کمېسیون د دوو غونډو په ترځ کې په ۲۰۰۳ز. د دوشنبې په ښار او په ۲۰۰۵ز.کې د کیف په ښار کې ترسره شوه، په دې غونډو کې د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو مهم اړخونه او د هېوادونو له شته فرصتونو او ظرفیتونو سره د همکارۍ د کچې د برابرولو امکانات وڅېړل شول، د تاجکستان او اوکراین تر منځ د ګټورو دوه اړخیزو اړیکو د ټینګښت په موخه، د انرژۍ، صنعت، ټرانسپورټ او ساختماني برخو کې د اوږدمهاله اقتصادي همکاریو، آزادې سوداګرۍ او د پانګونې د متقابل ملاتړ د اساسي لارو چارو د ټاکلو لپاره مهم سندونه لاسلیک شول.

په دغو کلونو کې د خپلواکو هېوادونو په توګه دواړو هېوادونو هڅه وکړه چې له خپلو ګټو سره سم پوځي او تخنیکي همکاري په نوې کچه وساتي، په دې برخه کې د تاجکستان او اوکراین د دفاع وزارتونو تر منځ په پوځي، تخنیکي او تعلیمي برخو کې د پوځي پرسونل د روزنې او د پوځي تجهیزاتو د برابرولو په برخه کې ګټورې همکارۍ شوې دي، د دواړو هېوادونو د پولو د ساتنې لپاره دوه اړخیزه همکاري د قناعت وړ دي، د تخنیکي او نظامي همکاریو د پراخولو لپاره قانوني شرایط چمتو دي، د تېلو د تولیداتو او صنایعو په برخو کې د اوکراین د بډایه تجربو ته په پام کې نیولو سره دواړو خواو د نظرونو تبادله وکړه.

بله مهمه برخه د اوبو د برېښنا او ماشین جوړونې په برخو کې دوه اړخیزې همکارۍ دي چې د دواړو هېوادونو تر منځ په ښه کچه رامنځ ته شوې دي، د یادولو وړ ده چې دا مهال د اوکراین د درنو تجهیزاتو د همکارۍ په څانګه کې د نورک د اوبو د برېښنا فابریکه د بشپړېدو په حال کې ده، د دغه برېښناکوټ د ټولو کارونو له بشپړېدو وروسته به یې ظرفیت ۱۰ فازونو ته لوړ شي.

د تاجکستان او اوکراین تر منځ همکاري د هېواد په نورو ولایتونو کې هم په منظم ډول پراخېږي، د تاجکستان جمهوریت د سغد او ختلان ولایتونو د اوکراین له دنیپروپیتروفسک او خارکیف ولایتونو سره د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړل، د دې

تر څنګ د یادو سیمو رسمي پلاوي په منظم ډول د یو بل له هېوادونو څخه لیدنې کوي چې د هېوادونو تر منځ د اړیکو په ټینګښت کې ګټور او ارزښتناک دي، د فرهنګ، پوهنې، ارتباطاتو او بشردوستانه چارو په برخو کې د تاجکستان او اوکراین تر منځ همکاري د پراختیا په حال کې ده او په دې برخو کې د دواړو هېوادونو د لوړو زده کړو د مؤسسو ترمنځ د همکاریو څو تړونونه لاسلیک شوي دي، دمګړۍ د تاجکستان د دوشنبې په ښار کې د اوکراین د خارکوف د تخنیک ملي پوهنتون د یوې برخې د پرانېستلو په برخه کې د دواړو هېوادونو تر منځ خبرې روانې دي، دا ټول هغه څه دي چې د دواړو هېوادونو ولسمشرانو د ۲۰۰۸ز. د ډسمبر په میاشت کې د دوی په غونډه کې موافقې ته رسېدلي وو.

## ۴- د تاجکستان او قزاقستان جمهوریتونو تر منځ اړیکې

د تاجکستان جمهوریت د ۱۹۹۳ز. د جنورۍ په اوومه د قزاقستان له جمهوریت سره ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې کړې، د همدې کال په جون میاشت کې د دواړو خواو ډیپلوماټیکو استازو په دغو هېوادونو کې خپل کار پیل کړ، د تاجکستان او قزاقستان تر منځ د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو له پیل راهیسې په ګټوره فضا او ښه تفاهم کې جریان لري او دا مهال د ودې او پرمختګ په حال کې دی، په ډېرو مهمو نړیوالو او سیمه ییزو مسایلو کې د دواړو لورو ګټې همغږې شوې او نږدې یا ورته وضعیت رامنځ ته شوی دی، د دواړو هېوادونو جمهورو رئیسانو د لیدنو کتنو په ترڅ کې د اړیکو د پراختیا او د همکاریو د حقوقي بنسټونو د پیاوړتیا لپاره مثبت شرایط رامنځ ته شوه، پر دې بنسټ په ۱۹۹۳ز. کې قزاقستان ته د امام علي رحمان د سفر پایلې او په ۱۹۹۵ز. او ۲۰۰٦ز. کلونو کې قزاقستان ته د تاجکستان د ولسمشر د پرله پسې سفرونو په ترڅ کې او په ۲۰۰۸ز. کې د تاجکستان او قزاقستان جمهوریت تر منځ د اړیکو د شرایطو، د دواړو هېوادونو تر منځ د اقتصادي او کلتوري هوکړه لیک او د هر اړخیزو سندونو یوه ټولګه لاسلیک کړه.

په ۲۰۰۰ز. کې د تاجکستان جمهوریت ته د قزاقستان ولسمشر نورسلطان نظربایف لومړی سفر وکړ، دا د دواړو هېوادونو د اړیکو په تاریخ کې تر ټولو مهمه پېښه وه، د دغه سفر په ترڅ کې د سیاسي، اقتصادي، علمي، تخنیکي او ګمرکي

برخو ۸ دولتي سندونه لاسلیک شول، د ۲۰۰۷ ز. د سپټمبر په میاشت کې تاجکستان ته د قزاقستان د جمهور رئیس د رسمي سفر په ترځ کې په فرهنګي، هنري، تعلیمي، سوداګریزو، پانګونې او کرنیزو مسایلو کې د دوه اړخیزو همکاریو په اړه نور سندونه لاسلیک شول چې د دوه اړخیزو اړیکو بهیر پیاوړی کوي.

په ۱۹۹۸، ۲۰۰۱، ۲۰۰۴، ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ز. کلونو کې د سوداګریزو او اقتصادي همکاریو د دولتي کمیسیون غونډې جوړې شوې، په ۲۰۰۸ز. کې په دغو کتنو کې د دواړو هېوادونو د اړیکو د وضعیت او پخواني لاسلیک شوي سندونه وڅېړل شول او د دوه اړخیزو اړیکو د لا پراختیا په اړه یې خبرې وکړې.

دمګړی د تاجکستان او قزاقستان تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو حقوقي تړونونه له ۷۰ څخه زیات سندونه لري، یاد شوي اسناد په عمده توګه د همکارۍ مهمې برخې تشکیلوي، پانګه اچونه او مالیه، بانکوالي او ګمرکونه او همدارنګه نظامي او تخنیکي همکارۍ هم په کې شامل دي.

د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو په چوکاټ کې د دواړو هېوادونو د دریځونو فعالیتونه او همغږي په ځرګنده توګه د ملګرو ملتونو، د ګډو ګټو خپلواکو دولتونو، د یورو آسیا د اقتصادي ټولنې، د ګډ امنیت او همکارۍ سازمان او د شانګهای د همکارۍ سازمان په چوکاټ کې ځرګند دي، په دې کتنه کې د تاجکستان جمهوریت رهبري د قزاقستان جمهوریت د مشاور په توګه د قزاقستان جمهوریت کړنې بیان کړې او له کړنو او همکاریو څخه یې ملاتړ (د تعامل کنفرانس او په آسیا کې د باور جوړونې له کړنو) وکړ، تاجکستان هم په نړیوالو او سیمه ییزو سیاستونو کې د قزاقستان د نورو اقداماتو ملاتړ کوي، د تاجکستان جمهوریت یو له هغو لومړنیو هېوادونو څخه دی چې د اروپا د امنیت او همکارۍ د سازمان د ولسمشرۍ لپاره یې د قزاقستان د کاندیدۍ ملاتړ وکړ.

د تاجکستان او قزاقستان تر منځ د اقتصادي همکاریو بنسټ د برېښنا، پولاد، انرژۍ، ټرانسپورټ، اړیکو او کرنیز محصولات دي، تاجکستان قزاقستان ته برېښنا، پنبه، المونیم او نور بېلابېل محصولات ورکوي او له هغه هېواده غنم، غلې دانې، غوړي او اوسپنه واردوي، دواړو اړخونو موافقه وکړه چې د «تاجکستان- قزاقستان د مستقیمې پانګونې صندوق» رامنځ ته کړي چې موخه یې د دواړو هېوادونو په خاورو او له دې

هېوادونو څخه بهر د پانګونې پروژې عملي کول دي، د تاجکستان رهبري هم د خپلو هېوادوالو په ژوند او فعالیتونو پورې تړلې ده، قزاقستان جدي لېوالتیا ښیي او دغه هېواد ته د هر سفر په ترڅ کې د تاجکستان له دولتي بنسټونو سره جلا جلا ناستې کوي او د ملاتړ لپاره یې هر اړخیزې لاربښوونې وزارتونو او چارواکو ته په ګوته کوي، د دوی اړوند هېوادونه د دوو خپلواکو هېوادونو تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا په برخه کې د بین الحکومتي کمیسیونونو د غونډو جوړول، سوداګریزې او اقتصادي همکارۍ او د دوه اړخیزو سلامشورو پیاوړتیا هم شامله ده، په تېره بیا د تاجکستان او قزاقستان د بهرنیو اړیکو په برخه کې د کاري غونډو په ترڅ کې د ګټورو همکاریو پر مسایلو په همېشنۍ توګه خبرې کېږي، د دې ګټورې لړۍ د دوام لپاره د راتلونکو فعالیتونو او نورو فعالیتونو په اړه بحث او پلان جوړ شو.

د تاجکستان جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر عمرو خان ظریفي د قزاقستان جمهوریت ته د ۲۰۱۰ز. د اګست له ۲۳ نه تر ۲۴ مې رسمي سفر وکړ، د دغه رسمي سفر په ترڅ کې د تاجکستان او قزاقستان د بهرنیو چارو د وزیرانو د شورا لومړۍ غونډه د دواړو هېوادونو د استازو په حضور کې جوړه شوه، دا غونډه د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو د لا پراختیا لپاره یو مهم ګام دی.

د ۲۰۱۰ز. په سپتمبر کې د صادراتو، پانګونې او سوداګرۍ په برخو کې د قزاقستان د ملي سوداګرۍ د استازي په دفتر کې د دوشنبې په ښار کې غونډه وشوه، د ۲۰۱۰ز. په نومبر میاشت کې تاجکستان ته د قزاقستان د صدراعظم د رسمي سفر په ترڅ کې د سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو په اړه د تاجکستان او قزاقستان د دولتي کمېسیون راتلونکې غونډه جوړه شوه، په دې کتنه کې د تاجکستان او قزاقستان جمهوریت د دولتونو تر منځ د ګرځندوی په برخه کې د همکارۍ سندونه لاسلیک شول.

د تاجکستان او قزاقستان په اړیکو کې یوه بله مهمه پېښه چې د دواړو هېوادونو د پیاوړو سیاسي اړیکو ښودنه کوي؛ د ډسمبر میاشت په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د سازمان په سرمشریزه کې د تاجکستان د جمهور رئیس امام علي رحمان ګډون دی.

د یادونې وړ ده چې د تاجکستان او قزاقستان تر منځ د فرهنګي او بشري همکاریو ځرنګوالی په لوړه کچه پراخ شوی او د دواړو هېوادونو د دوستو خلکو له خوا په هره برخه کې ملاتړ کېږي، په دې پړاو کې د دواړو هېوادونو رسمي پلاوي په همېشنۍ توګه د یو بل په کلتوري، علمي او تخنیکي غونډو کې ګډون کوي، په قزاقستان کې د تاجکستان د کلتوري ورځو په بریالیتوب سره او د ۲۰۰۷ ز په اګست کې د استانه په ښار کې د تاجکستان د کرنیزو محصولاتو نندارتون پرانېستل شو، دا د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ او نږدې اړیکو استازیتوب کوي.

## ۵- د تاجکستان او ازبکستان جمهوریتونو تر منځ اړیکې

د ۱۹۹۲ ز د اکتوبر په ۲۲ مه د تاجکستان او ازبکستان جمهوریت تر منځ ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې شوې، له هغه وخت راهیسې په دواړو هېوادونو کې د یو بل سفارتونه فعالیت کوي، په اوسنیو شرایطو کې د تاجکستان او ازبکستان تر منځ د تړونونو شمېر ۱۱۱ ته رسېږي چې له ۱۹۹۲ز. نه تر ۲۰۰۹ز. پورې په مختلفو کچو لاسلیک شوي دي، هغه سندونه چې د دواړو هېوادونو تر منځ د همکاریو مهم دریځونه منل شوي؛ د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا لپاره لازمه ده چې هر لوری په راتلونکي کې په سیاسي، سوداګریزو او اقتصادي برخو کې پیاوړي حقوقي بنسټونه رامنځ ته کړي، د دواړو هېوادونو د مشرانو په کچه لاسلیک شوي اصلي سندونه چې د دواړو خواو تر منځ د ډېرو مهمو اړیکو لارښوونه کوي؛ د تاجکستان او ازبکستان جمهوریت تر منځ د دوستۍ، نېکمرغۍ او همکارۍ هوکړه لیک د جنورۍ په ځلورمه لاسلیک شو.

د ۲۰۰۰ ز د جون په ۱۵ مه د تاجکستان او ازبکستان جمهوریت تر منځ د دوستۍ تړون لاسلیک شو، د تاجکستان جمهوریت د اقتصادي ودې پروګرام، جغرافیایي موقعیت او د دواړو هېوادونو د خلکو تر منځ د تاریخي اړیکو ټینګښت په پام کې نیولو سره د ازبکستان له جمهوریت سره د متقابلو ګټورو راتلونکو همکاریو ودې او پیاوړتیا ته په پرله پسې توګه پاملرنه کوي، د ۱۹۹۸ ز د جنورۍ په ۴ مه د تاجکستان جمهور رئیس امام علي رحمان د ازبکستان د جمهور رئیس اسلام کریموف په بلنه دغه هېواد ته سفر وکړ، دغه سفر د تاجکستان او ازبکستان تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو پراختیا ته یوه نوې انګېزه ورکړه، د دې لیدنې په پایله کې ځلور

دولتي سندونه لاسليک شول، د ۱۹۹۸ ز د فبرورۍ په ۴ مه د تاجکستان جمهوريت ته د ازبکستان د صدراعظم وی ایس سلطانوف سفر ترسره شو، د دغه سفر په ترڅ کې د دواړو هېوادونو د حکومتونو او وزارتونو تر منځ د اوبو او انرژۍ له منابعو څخه د معقولې استفادې په برخه کې د همکاریو د تړونونو په ګډون ۹ دوه اړخيز سندونه لاسليک شول.

د دوه اړخيزو اړيکو د دغه مثبت بهير په ترڅ کې د ۲۰۰۰ ز د جون په مياشت کې د ازبکستان جمهوريت د جمهور رئيس اسلام کريموف رسمي سفر تاجکستان ته وکړ، ياد سفر هم ځانګړی اهميت لاره، د دغه سفر په ترڅ کې ترسره شوو خبرو اترو او ليدنو وښوده چې د دواړو هېوادونو د مشرانو همغږی دريځ د ښو ګاونډيو اړيکو په پياوړتيا کې پرېکنده نقش لوبولی شي، د دې ليدنې پايلې او په ترڅ کې د لاسليک شوو مهمو سندونو ترتيب چې په هغه کې د تلپاتې دوستۍ او د تاجکستان او ازبکستان جمهوريت تر منځ د دولتي سرحدونو د امنيت په اړه د تفاهم يادښت شامل دي، د دوه اړخيزو اړيکو پرمختګ د نوي پړاو په توګه وارزول شول.

د ۲۰۰۱ ز د ډسمبر په مياشت کې د ازبکستان جمهوريت ته د تاجکستان د جمهور رئيس امام علي رحمان رسمي سفر د دواړو هېوادونو تر منځ د اړيکو د لا پراختيا لپاره نوې هڅونه وکړه، د دواړو ولسمشرانو د خبرو په پايله کې يو ځل بيا ثابته شوه چې د ګاونډيو هېوادونو وضعيت د ډېرو دوه اړخيزو، نړيوالو او سيمه ييزو ستونزو له شتون سره نږدې دی او د ښه ګاونډيتوب د اړيکو پراختيا د دواړو هېوادونو ګډې ګټې دي.

د هغو دندو د عملي کولو لپاره چې د ۲۰۰۱ ز د ډسمبر په مياشت کې د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو په ګډه اعلاميه کې ويل شوي وو؛ د ۲۰۰۲ ز د فبرورۍ پر ۱۲مه ورباندې ټينګار وشو، د تاجکستان صدراعظم د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو د ګډې اعلاميې د بشپړولو په هدف تاشکند ته په يوه سوداګريز سفر تللی و، د دې ليدنې په پايله کې دوی د اقتصاد او سوداګرۍ په برخو کې يو لړ سندونه لاسليک کړل او همدارنګه د تاجکستان جمهوريت او د ازبکستان جمهوريت د دولت او د دواړو هېوادونو تر منځ د سرحدي پولو په اړه يو هوکړه ليک لاسليک شو.

د سرحدي ستونزو حل او د دولتي سرحدونو ټاکل د دواړو هېوادونو تر منځ د خبرو اترو له مهمو موضوعاتو څخه دي، د هغو فعالیتونو په پایله کې چې په دې دوره کې بشپړ شوي دي؛ د دولت د سرحدونو د قانوني پراختیا پورې اړوند مسئلو په حل کې د پام وړ پرمختګ کړی، په دې پړاو کې د تاجکستان او ازبکستان جمهوریت تر منځ د دولتي سرحد په اړه د ۲۰۰۲ ز د اکتوبر په ۵ مه هوکړه لاسلیک شوه، دا مهال د دواړو هېوادونو تر منځ د ٦٠ کیلومترو په اړه وروستی تړون بشپړ شوی چې د دولتي سرحدونو د پاتې برخې کار دوام لري.

په ټوله کې د تاجکستان د خپلواکۍ په دویمه لسیزه کې د ۲۰۰۲ ز د اګست په میاشت کې د تاجکستان او ازبکستان د دولتي کمیسیونونو غونډې د سوداګرۍ، اقتصادي او سرحدي مسایلو په اړه د همکارۍ په اړه جوړې شوې او د ۲۰۰۹ز په فبروري کې ترسره شوه چې د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو د پراختیا تمایل څرګندوي، د دې غونډو اهمیت په دې کې دی چې متقابلې ستونزې په ګوته شي او د حللارې ورته وټاکل شي، په دې کتنه کې د دغو لاسته راوړنو تر څنګ د بربېښنا، د اوبو مدیریت، صنعت، کرنې، ټرانسپورټ او مخابراتو په برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو پر لا زیاتو موضوعاتو هم خبرې وشوې.

په همدې لړ کې د شانګهای د همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو د مشرانو د غونډې په چوکاټ کې د تاجکستان او ازبکستان د جمهورو رئیسانو دوه اړخیزې ناستې او همدا راز د تاجکستان او ازبکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د غونډې په چوکاټ کې د افغانستان او ازبکستان د ولسمشرانو دوه اړخیزې ناستې په همدې مناسبت جوړېږي، په تاشکند ښار کې د شانګهای د همکارۍ سازمان د شورا د غونډې په څنډه کې په ۲۰۱۰ ز کې په سیاسي او اقتصادي برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو د پیاوړتیا هیله څرګنده کړه؛ څکه چې په دغو کتنو کې د انرژۍ، د دواړو هېوادونو تر منځ د ټرانسپورټي زیربناو د استفادې او همدارنګه د سیمه ییز امنیت په ګډون پر یو لړ دوه اړخیزو مسایلو په تفصیل سره خبرې وشوې.

باید یادونه وشي چې ازبکستان د دوه اړخیزو سوداګریزو، اقتصادي، ټولنیزو، علمي او تخنیکي همکاریو او نورو مهمو برخو کې د تاجکستان له مهمو شریکانو

ځخه دی او له دې وروسته يادې شوې مثبتې لاسته راوړنې د دواړو هېوادونو د خلکو هيلې زياتوي، د يادونې وړ ده چې د دواړو هېوادونو د فرهنګي اړيکو پراختيا د دواړو هېوادونو د مشرانو د همېشنۍ اندېښنې وړ خبره ده، په دې توګه د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو د هوکړې پر بنسټ د ۱۹۹۸ ز. د جون له ۲۹ د جولای تر ۵ مې د تاجکستان کلتوري ورځې په ازبکستان کې تر سره شوې چې د دوه اړخيزو کلتوري اړيکو په تاريخ کې يوه ستره پېښه ګڼل کېږي.

## ٦- د تاجکستان او قرغزستان جمهوريتونو تر منځ اړيکې

د تاجکستان او قرغزستان جمهوريت تر منځ ډيپلوماټيکې اړيکې د ۱۹۹۳ز د جنورۍ په ۱۴مه جوړې شوې چې په دواړو هېوادونو کې د يو بل سفارتونو فعاليت پيل وکړ، په اوسني پړاو کې د تاجکستان او قرغزستان تر منځ اړيکې د دوه اړخيزو او څو اړخيزو همکاريو په چوکاټ کې په لوړه کچه وده کړې او د دوستۍ او ښه ګاونډيتوب فضا په فعاله توګه دوام لري.

د تاجکستان او قرغزستان تر منځ د دوه اړخيزو سياسي او اقتصادي اړيکو د حقوقي قراردادونو شمېر ۷۵ سندونه لري چې د دواړو هېوادونو تر منځ د همکارۍ بېلابېل اړخونه په کې شامل دي، د اساسي اسنادو له جملې ځخه چې د تاجکستان او قرغزستان جمهوريت تر منځ د اړيکو مهم اصول او دريځونه ټاکي؛ دغه تړونونه د تاجکستان او قرغزستان جمهوريت تر منځ د دولتي اړيکو پر بنسټ چې د ۱۹۹٦ز د جولای په مياشت کې لاسليک شوي دي، د تاجکستان او قرغزستان جمهوريت تر منځ د ښه ګاونډيتوب د اړيکو په اړه سند د ۲۰۰۴ ز په مۍ مياشت کې لاسليک شوی دی.

د تاجکستان او قرغزستان جمهوريتونو د ولسمشرانو ليدنې او رسمي ناستې او شخصي اړيکې د همکاريو بهير ته جدي پاملرنه کوي، په راتلونکي کې يې د پياوړتيا او پراختيا په برخه کې مرسته کوي، د دغه شان غونډو په ترڅ کې دواړو لورو د دوه اړخيزو همکاريو د لا پياوړتيا او پراختيا لپاره خپل چمتووالی ځرګند کړ، د مهمو مسايلو د ګټور حل او د دوه اړخيزو اړيکو د کچې د لوړولو په موخه د تاجکستان او قرغزستان جمهوريت تر منځ د همغږۍ شورا او د بهرنيو چارو د وزيرانو شورا جوړه شوه.

د تاجکستان او قرغزستان جمهوريت د بهرنيو چارو د وزيرانو د شورا لومړۍ غونډه د ۲۰۰۹ز. د اکتوبر په مياشت کې د دوشنبې په ښار کې تر سره شوه، په دې غونډه کې د حقوقي مسايلو د ښه والي، د مرکزي آسيا په سيمه کې د اوبو له سرچينو څخه د معقولې استفادې لپاره د دوه اړخيزو هڅو رامنځ ته کول، د دواړو هېوادونو په پولو کې د ستونزو او منفي پېښو د مخنيوي لپاره د تدابيرو نيول او د سرحدي مسئلو په اړه د همکاريو پر پياوړتيا په تفصيل سره خبرې او بحثونه وشول، همدارنګه په دې کتنه کې په سيمه کې د اوبو او انرژۍ له منابعو څخه د معقولې استفادې، د سوداګريزو او اقتصادي اړيکو د پراختيا، فرهنګي او بشري همکاريو د تاجکستان او قرغزستان تر منځ د ټرانسپورټي مسايلو په اړه هم پرېکړې وشوې.

د دوستانه او فعالو سياسي اړيکو د بهير په دوام کې د پراخو څو اړخيزو همکاريو پراخول هم ډېر مهم او ضروري دي، له همدې امله د تاجکستان او قرغزستان حکومتي کميسيون د ۱۹۹۷ز. د جولای په مياشت کې د دوه اړخيزو مسايلو د بيا کتنې په موخه تأسيس شو، د کميسيون د کار پايلې ښيي چې د هر اړخيزو همکاريو بهير ګام په ګام نوي کيفي کچې ته رسېږي.

د يادونې وړ ده چې تاجکستان او قرغزستان د فعالو سيمه ييزو همکاريو او د هماهنګۍ د بهيرونو د پراختيا ملاتړي دي، په دې برخه کې د ملګرو ملتونو په جوړښت کې د متقابلو ګټورو همکاريو تر څنګ د يورو آسيا اقتصادي ټولنې، د شانګهای د همکارۍ سازمان، د ارال سمندر د ژغورنې نړيوال بنسټ، مالي سازمانونه او نور نړيوال سازمانونه چې دواړه هېوادونه يې غړيتوب لري، له ځانګړي اهميت څخه برخمنې دي، د دواړو هېوادونو موقف د سيمې د نورو هېوادونو د متقابلو ګټو په پام کې نيولو او له سيمه ييزو ځانګړتياو سره په ډېرو مهمو سياسي او اقتصادي مسايلو کې د موقفونو په اړه يو بل سره موافق دي.

تاجکستان او قرغزستان سره له دې چې ګډه پوله او عامه ارتباطات او ګڼ ټرانزيټي اسانتياوې لري، د سيمې نورو هېوادونو ته د سړکونو جوړول هم د دواړو هېوادونو له مهمو دندو څخه ګڼل کېږي، د برېښنا د لېږد مزي، د اورګاډي پټلۍ او د لويو لارو

٦) زینب فرهمندزاد،" مروری بر حاکمیت بر جزایر سه‌گانه ابوموسی، تنب بزرگ و تنب کوچک از منظر حقوق بین الملل"، دوفصلنامه علمی حقوق بشر و شهروندی، سال هفتم، شماره دوم( پیاپی ۱۴)، پائیز و زمستان ۱۴۰۱، ص ۵۱۳.

٧) خشایار جنیدی،" پنجاهمین سالگرد بازگرداندن جزایرسه گانه( بخش سوم)؛ دوران جدید در خلیج فارس"، ۱۳ قوس ۱۴۰۰، ۴ دسامبر ۲۰۲۱م.
http://www.bbc.com/persian/iran-features-5952779

٨) احمد اقتداری، " سرگذشت تاریخی چهار جزیره در خلیج فارس"(بخش چهارم)، یغما، سا سی و یکم، شماره مسلسل ۳۵۵، شماره دوازدهم، حمل ۱۳۵۷، صص ٤٦-٤٧.

9) Khalid S. Z.AL-Nahyan," The three Islands: Mapping the UEA-IRAN dispute", RUSI, 3 December 2013,P 36, available at:
https://www.rusi.org/explore-our-research/publications/rusi-books/the-three-islands-mapping-the-uae-iran-dispute
]Access:2/4/2025[

10) KHALID S. Z.AL-NAHYAN, “THE THREE ISLANDS Mapping the UAE-Iran Dispute”, p 35.

١١) پیروز مجتهدزاده، طهمورث موصلو،" تبیین استدلال های امارات متحده عربی جهت تصرف جزایر سه‌گانه"، مجموعه مقالات هشتمین همایش ملی خلیج فارس، ص ٦٩.

12) "،Abu Dhabi’s claims on three Iranian islands An instrument of Building a UAE Arab Identity Pirouz Mojtahed-Zadeh p 44.

۱۳) خشایار جنیدی،" پنجاهمین سالگرد بازگرداندن جزایرسه گانه( بخش چهارم)؛ دوران جدید در خلیج فارس"، ۱۳ قوس ۱۴۰۰، ۴ دسامبر ۲۰۲۱م.
http://www.bbc.com/persian/iran-features-5952779
]Access:5/12/2024[

۱۴) همان سایت.

۱۵) خشایار جنیدی، " آیا امارت در پی اجماع جهانی برای سلب حاکمیت ایران بر جزایر سه گانه است؟"، ٢٦ میزان ۱۴۰۳مطابق ۱۷ اکتوبر ۲۰۲۴، دسترسی:
https://www.bbc.com/persian/articles/cp٨m٠٤vdmr٨o
[Access:2/4/2025]

16) Khalid S. Z.AL-Nahyan," The three Islands: Mapping the UEA-IRAN dispute", p 98.

۱۷) احمد اقتداری، " سرگذشت تاریخی چهار جزیره در خلیج فارس"، یغما، سا سی و یکم، شماره مسلسل ۳۵۵، شماره دوازدهم، حمل ۱۳۵۷، ص ٤٨.

18) Noura S. Al- Mazruei, Disputed Islands between UAE and Iran: Abu Musa, Greater Tunb, and Lesser Tunb in the Strait of Hormuz, Gulf Research Centre Cambridge, October 2015, p 13.

19) Ibid, p14.

۲۰) علیرضا کوهکن،" نقش اقتصاد و روابط تجاری دوجانبه در سیاست خارجی امارات متحده عربی در قبال جمهوری اسلامی ایران از ۱۹۹۲تا ۲۰۲۲م"، فصلنامه سیاست خارجی، شماره ۱، سال سی و هشتم، بهار ۱۴۰۳، ص ۱۰۲.

21) KHALID S. Z.AL-NAHYAN, “The Three Islans Mapping the UAE-Iran Dispute”, p 62.

۲۲) محسن رستمی، محمدرضا محمدی، احسان رعنایی، " تحلیل سیاست خارجی امارات متحده در قبال ایران در چارچوب نظریه حصار استراتژیک، فصلنامه دانش تفسیر سیاسی، سال دوم، شماره ۵، پائیز ۱۳۹۹، ص ۱۷۰.

23) KHALID S. Z.AL-NAHYAN, “The Three Islans Mapping the UAE-Iran Dispute” p 67.

24) Ibid, p 71.

25) Ibid, p 77.

26) Ibid.

27) Ibid, p 79

۲۸) موسسه مطالعات و پژوهش های بازرگانی، " رصد تحولات اقتصادی کشورهای اصلی طرف تجاری( توسعه روابط تجاری ایران و امارات متحده عربی)"، تاریخ نشر سنبله ۱۴۰۲هـ ش، دسترسی ۱۴۰۴/۲/۲۳هـ ش، سایت

]Access: 23/2/1404[https://itsr.ir/Content/upload/VBXPV-

۲۹) ایرنا،" مسیر جدید روابط ایران و امارات؛ ثبات منطقه‌یی در سایه دیپلوماسی"، تاریخ نشر ۱۴۰۳/۱۲/۱٦هـ ش ، دسترسی:

/ ۸۵۷٦۹٦۱٦https://www.irna.ir/news/

]Access:23/2/1404[

30) KHALID S. Z.AL-NAHYAN, “The Three Islands Mapping the UAE-Iran Dispute” p 97

31) Ibid, p 126.

32) Ibid, p 57.

۳۳) خشایار جنیدی، " آیا امارت در پی اجماع جهانی برای سلب حاکمیت ایران بر جزایر سه گانه است؟"، تاریخ نشر ۲٦ میزان ۱۴۰۳مطابق ۱۷ اکتوبر ۲۰۲۴، دسترسی:

http://www.bbc.com [ Access:12/2/2025 ]

۳٤) عصر ایران، " امضای دوستان ایران پای بیانیه ادعای امارات بر مالکیت جزایر سه گانه ایرانی"، ۱٤۰۳/۲/۳۰، دسترسی:

https://www.asriran.com/fa/news/ /۹٦۷٦۷۵ [Access: 12/2/2025]

۳۵) خشایار جنیدی، " آیا امارت در پی اجماع جهانی برای سلب حاکمیت ایران بر جزایر سه گانه است؟"، ۲٦ میزان ۱۴۰۳مطابق ۱۷ اکتوبر ۲۰۲۴، سایت

http://www.bbc.com

څېړنوال رحمت الله همت مظلومیار

# د حماس او اسرائیلو د جګړې په اړه د مرکزي آسیا هېوادونو دریځ او پر بهرني سیاست یې اغېزې

# The Position of Central Asian Countries on the Hamas-Israel War and Its Impacts on their Foreign Policy

Assos. Prof. Rahmatullah Hemat Mazlumyar

**Abstract:**

After the Hamas-Israeli conflict and the Israeli attacks on Gaza, Central Asian countries showed a soft response and issued statements calling for a peaceful settlement of the conflict; on the other hand, Central Asian countries continued to relations with Israel and tried to keep satisfy both sides. Central Asian countries' Israel strengthening relationships leads Central Asia to strengthening relations with the West, especially the United States.

The Central Asian countries haven't taken any significant action against Israel's crimes in Gaza, likewise prevented the protests against Israel which cultivated by the civilian people. The Central Asia countries may face problems at inside the country and abroad, their citizens resort to violence at home and may create security threats, and in foreign policy, their relations with Islamic countries may deteriorate.

## لنډیز

د حماس او اسرائیلو د جګړې پیل او پر غزه د اسرائیلو صهیونیستي رژیم بریدونو وروسته د مرکزي آسیا هېوادونو نرم غبرګون ونښوده او یوازې د اعلامیو په خپرولو سره یې د شخړې پر سوله ییز حل ټینګار وکړ او بشري مرستې یې وکړې، له بل لوري د مرکزي آسیا هېوادونو له اسرائیلو سره د اړیکو پاللو ته دوام ورکړ او هڅه کوي دواړه لوري راضي وساتي، له اسرائیلو سره د مرکزي آسیا هېوادونو د اړیکو پیاوړتیا له لوېدیځ په ځانګړې توګه امریکا متحده ایالاتو سره د اړیکو پیاوړتیا لاملېږي.

د مرکزي آسیا هېوادونو نه یوازې د اسرائیلو له خوا په غزه کې د جنایتونو ترسره کولو په اړه کوم مهم اقدام نه دی کړی؛ بلکې کور دننه د اسرائیلو پر ضد د عوامو خلکو له خوا د لاریونونو ترسره کولو مخه یې هم نیولې ده چې له امله یې دغه هېوادونه کېدلای شي په کور دننه او بهر له ستونزو سره مخامخ شي، په کور دننه یې وګړي تاوتریخوالي ته مخه کوي او امنیتي ګواښونه رامنځ ته کولای شي او په بهرني سیاست برخه کې له اسلامي هېوادونو سره یې اړیکې خرابې شي.

## سریزه

اسرائیلو د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د مرکزي آسیا له هېوادونو سره اړیکې ټینګې کړې، د شوروي اتحاد پاشل کېدو او په مرکزي آسیا کې پنځه هېوادونو رامنځ ته کېدو سره اسرائیلو لپاره زمینه برابره شوه چې په سیمه کې نفوذ وکړي، اسرائیلو د مرکزي آسیا هېوادونو سره له لومړیو ورځو نه په امنیتي، نظامي او استخباراتي برخو کې همکارۍ پیل کړې، اسرائیل په خپل بهرني سیاست کې له نرم ځواکه په ګټه اخیستلو هڅه کوي، د اسرائیلو ضد هېوادونه مهار او دغه سیاست پیاوړی کړي او له نورو هېوادونو سره د ډیپلوماټیکو اړیکو رامنځ ته کولو سره له انزوا څخه بهر شي.

اسرائیلو فلسطین اشغال کړی او په لوېدیځه ترانګه (West bank) او غزه کې پر بې ګناه مسلمانانو بریدونه کوي چې د اسرائیلو له دغو کړنو څخه اسلامي هېوادونه

خوښ نه دي او اسرائيلو ته د اشغالگر رژيم په سترگه گوري، د فلسطين مسلمانان د اسرائيلو اشغال پر وړاندې مقاومت کوي او د اسرائيلو له زور زياتي سره مخامخ دي.

د ۲۰۲۳ز. اکتوبر پر ۷ مه په غزه کې د حماس اسلامي ډلې له لوري پر اسرائيلو (اشغال شوي فلسطين) بريد وشو چې اسرائيلو سمدستي پر غزه ځمکني او هوايي وحشيانه بريدونه پيل کړل او د ۲۰۲۵ز. د جنوري په ۱۹مه د قطر، امريکا او مصر په منځگړيتوب د حماس او اسرائيلو تر منځ ۴۲ ورځنی اوربند وشو چې له مخې به يې اسرائيل جگړه دروي، اسرائيل له حماس سره بنديان تبادله کوي؛ خو متأسفانه اوربند د اسرائيلو له خوا نقض شو او جگړې يو ځل بيا زور واخيست او هره ورځ زيات شمېر فلسطيني وگړي شهيدانېږي، له دې سره د اسلامي ملتونو او اسرائيلو صهيونيستي رژيم تر منځ يو ځل بيا کرکه ډېره شوه، د مرکزي آسيا هېوادونو وگړو ډېره برخه مسلمانان دي او له يادو هېوادونو سره اسرائيل نږدې اړيکې لري، دا چې د مرکزي آسيا هېوادونو د حماس ـ اسرائيلو جگړې په اړه څه دريځ نبودلی؟ او پر بهرني سياست يې کومې اغېزې لري؟ په دې مقاله کې څېړل شوې دي.

دا چې د فلسطين مسأله د نړۍ مسلمانانو پورې اړه لري او قدس چې د مسلمانانو لومړۍ قبله او ځانگړې احترام ورته لري؛ نو د فلسطين مظلوم ولس باندې د اسرائيلو ظلمونه او وحشيانه بريدونه د ټولو مسلمانانو پر روان ناوړه اغېزه کوي؛ ځکه مسلمانان سره ورونه دي، يو پر بل خوږېږي؛ نو د يادې موضوع څېړل ځانگړې اهميت لري.

## د څېړنې مبرميت

د فلسطين مساله د ټولو مسلمانو وگړو لپاره اهميت لري، همدارنگه هلته د مسلمانانو لومړۍ قبله بيت المقدس شتون لري له بل لوري ټول مسلمانان سره ورونه دي، يو پر بل حقوق لري، د مرکزي آسيا هېوادونو وگړو ډېره برخه مسلمانان

دي؛ خو واکمن نظامونه یې سیکولر دي؛ نو د حماس او اسرائیلو جګړې اړه د یادو هېوادونو د دریځ څېړل ځانګړی مبرمیت لري.

## د څېړنې موخه

د حماس او اسرائیلو د جګړې په اړه د مرکزي آسیا د هېوادونو دریځ څېړل او پر بهرني سیاست یې د اغېزو روښانه کول د دې څېړنې اصلي موخه ده.

## د څېړنې مېتود

د دې مقالې په لیکلو کې له توصیفي او تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او ډول یې کتابتوني دی.

## له مرکزي آسیا هېوادونو سره د اسرائیلو صهیونیستي رژیم اړیکې

د اسرائیلو صهیونیستي رژیم د شوروي اتحاد پاشل کېدو وروسته د مرکزي آسیا هېوادونو سره ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې کړې او په قزاقستان او ازبکستان کې یې سفارتونه پرانېستل؛ همدارنګه په ۱۴۰۲هـ ش د ترکمنستان پلازمېنه کې یې هم سفارت پرانېست، د مرکزي آسیا پنځو هېوادونو له ډلې څخه یوازې قزاقستان او ازبکستان په اسرائیلو کې سفارت لري، د اسرائیلو لپاره د تاجکستان او قرغزستان نامقیم سفارت په انقره کې او ترکمنستان نامقیم سفارت په روم کې موقعیت لري.

اسرائیل د ټکنالوژیکي او اقتصادي ظرفیت لرلو سره هڅه کوي په مرکزي آسیا کې د نرم ځواک له وسایلو څخه په استفادې نفوذ وکړي، په مرکزي آسیا کې سیکولار نظامونه حاکم دي او د نفوس ډېره برخه یې مسلمانان دي، همدارنګه د مرکزي آسیا هېوادونه د اسلامي همکاریو سازمان غړیتوب لري، په مرکزی آسیا کې د اسرائیلو مهم سیالان ایران او عربي هېوادونه دي، اسرائیل د مرکزي آسیا له هېوادونو سره د اړیکو د پیاوړتیا له لارې هڅه کوي په سیمه کې له ایران سره سیالي او د نفوذ مخه یې ونیسي، له مرکزي آسیا هېوادونو سره د اسرائیلو د اړیکو یوه موخه په سیمه کې د ایران د نفوذ مخنیوی دی، په ترکمنستان کې د اسرائیلو

سفارت پرانېستل او له اسرائیلو سره د ترکمنستان نږدې کېدو ته ایران د امنیتي ګواښ په سترګه ګوري.

اسرائیل له قزاقستان او ازبکستان سره په نظامي او امنیتي برخو کې په پټه توګه خپلې اړیکې پالي، اسرائیلو صهیونیستي رژیم او قزاقستان تر منځ په ۲۰۱۴ز. کې په دفاعي برخه کې تړونونه لاسلیک شول چې له مخې یې اسرائیلو پر قزاقستان بې پیلوټه الوتکې، راکټونه، رادار سیسټمونه، نښلوونکي تجهیزات وپلورل، په ۲۰۱۹ز. کې دواړه هېوادونه په قزاقستان کې د الوتکو تولید لپاره د اسرائیلو Elbit Systems سیسټم باندې هوکړې ته ورسېدل او د الوتکو تولید په ۲۰۲۱ز. کې په عملي ډول پیل شو.[۱]

له اسرائیلو سره د قزاقستان پټې نظامي اړیکې لري، د پګاسوس جاسوسي نرم وسایل ترې اخلي چې د اسرائیلو سایبري وسلو شرکت NSO Group له خوا تولیدېږي.[۲]

اسرائیل هڅه کوي په مرکزي آسیا کې د یهودي مېشتو وګړو نفوذ له لارې خپلې موخې په سیمه کې پلې کړي، قزاقستان کې ۳۳۰۰ ، ازبکستان کې ۴۲۰۰ او اذربایجان کې ۸۸۰۰ یهودي وګړي مېشت دي، په قزاقستان کې د اسرائیلو سفیر مي اُمي (چې خپله هم قزاقستان کې زېږېدلی) د شمېرو له مخې په دغه هېواد کې د مېشتو یهودانو شمېر ۱۰۰۰۰ کسان دي چې ډېره برخه یې د قزاقستان په آلماتا ښار کې ژوند کوي.[۳]

له مرکزي آسیا هېوادونو سره د اسرائیلو سوداګریزې راکړې ورکړې کچه کمه ده او د اصلي سوداګریزو شریکانو له ډلې څخه نه دي. اسرائیلو په مرکزي آسیا هېوادونو کې د تېلو تصفیه خونو، برېښنا، ټکنالوژۍ، کرنې او اوبو مدیریت برخه کې پانګونه کړې او دغو برخو کې یې ګڼ شمېر تړونونه لاسلیک کړي دي.

قزاقستان په آسیا کې د اسرائیلو پنځم لوی سوداګریز شریک دی، قزاقستان په ۲۰۲۲ز. له اسرائیلو سره ۹۰۵ میلیون ډالره دوه اړخیزه سوداګري درلوده، قزاقستان د

ورځې نږدې ۱۰۰ زره بوشکې تېل اسرائیلو ته صادروي، د حماس او اسرائیلو جګړې اوږدېدو او په غزه کې د اسرائیلو جنایتونو او عوامو خلکو وژلو سربېره هم قزاقستان اسرائیلو ته د تېلو صادرات بند نه کړل.[٤]

د یادونې وړ ده چې اسرائیل د اړتیا ۲۵ سلنه تېل له قزاقستان څخه واردوي، په آستانه کې د اسرائیلو سفیر په وینا هر کال اسرائیل له قزاقستان څخه د ۱،۴ میلیارده ډالرو په ارزښت تېل واردوي.[٥]

د قزاقستان سربېره ازبکستان هم له اسرائیلو سره په سیاسي، اقتصادي، کرنې، سیاحت، صحي او فرهنګي برخو کې اړیکې لري. اسرائیلو په سوداګرۍ نړیوال سازمان کې د تاشکند له غړیتوب څخه ملاتړ کړی او له ازبکستان، هند او سریلانکا څخه د ٦٥ زره کارګرو راوستلو غوښتنه یې وکړه، دغه کارګران به د فلسطیني کارګرانو پر ځای وګمارل شي، د ازبکستان او اسرائیلو ترمنځ د کاري ځواک لېږلو په اړه دولتي هوکړه هم شته چې په ۲۰۲۲ز.کال کې لاسلیک شوه.[٦] همدارنګه اسرایل د ازبکستان دکرنې په برخه کې همکاري کوي او د ۲۰۲۲ز.کال د جون پر ۲۸ نېټه په تل ابیب ښار کې د ازبکستان او اسرائیلو د سوداګرۍ مجمع هم جوړه شوه.[٧]

د حماس او اسرائیلو جګړې له پیلېدو ٦ میاشتې وروسته د فلسطین اشغالي ځمکو کې د اسرائیلو له خوا د فلسطیني کارګرانو د کار منعه کېدو سره ۱۱۰۰تنه بهرني کارګر د ساختماني کارونو لپاره اسرائیلو ته راغلل په داسې حال کې چې ۸۰ زره کارګرو ته اړتیا لري. د اسرائیلو کالکالیست ورځپاڼې راپور له مخې اسرائیل د ودانیزو چارو برخه کې د بشري ځواک له کمښت سره مخامخ دي، دولتي چارواکي د ازبکستان، سریلانکا او هند څخه د کارګرانو په راوستلو کې بریالي شوي نه دي. په ازبکستان کې د کارګرانو څخه ازموینه اخېستل کېږي او وروسته اشغالي فلسطیني ځمکو ته لېږل کېږي؛ خو اوس دغه ازموینې اخېستل لغوه شوي دي.[٨]

د ۲۰۲۴ز. سپتمبر پر ۲۰ مه د ازبکستان ولسمشر شوکت میرضیایف ته د اسرائیلو د نوي سفیر باورلیک سپارلو مراسمو په ترڅ کې وویل: «اسرائیل د ازبکستان مهم اقتصادي شریک دی، تېر کال د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګرۍ کچه دوه برابره شوې ده او ۱۲۰ اسرائیلي شرکتونه په ازبکستان کې فعالیت کوي، د بخارا یهودیان له اوږدمهال راهیسې ازبکستان کې ژوند کوي او تر اوسه د ملتونو ترمنځ اړیکو کې یو پیاوړې حلقه ده.»[۹]

**د حماس او اسرائیلو صهیونیستي رژیم جګړې په اړه د مرکزي آسیا هېوادونو دریځ**

پر اسرائیلو د حماس له لوري د ۲۰۲۳ز. اکتوبر پر ۷ مه له برید وروسته اسرائیلو پر غزه ځمکني او هوايي وحشیانه بریدونه پیل کړل او په لومړنیو درېو اوونیو کې یې ۷۵۰۰ تنه چې ډېر یې ماشومان وو؛ شهیدان شول، د مرکزي آسیا پنځو هېوادونو قزاقستان، قرغزستان، ازبکستان او قرغزستان په چټکۍ سره بیانیې ورکړې؛ خو ترکمنستان سکوت وکړ، د تاجکستان بهرنیو چارو وزارت په بیانیه کې د نانظامي زیانونو، ودانیو او ټولنیزو بنسټونو ویجاړولو په اړه شدیده اندېښنه وښودله، قرغزستان او ازبکستان هم بیانیې صادرې کړې.[۱۰]

د قزاقستان بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۲۳ز. اکتوبر پر ۱۷ مه بیانیه صادر کړه چې په اسرائیلو کې پر نانظامیانو د حماس برید او ځینو کسانو برمته کول وغندل؛ همدارنګه له اسرائیلو یې وغوښتل چې له ځواک څخه داسې ناانډوله استفاده و نه کړي چې په غزه کې د نانظامي تلفاتو سبب وګرځي، په دې بیانیه کې راغلي وو «موږ د ملګرو ملتونو سازمان منشي انتونیو ګوترش له غوښتنې چې د برمته کسانو بی قید او شرطه پرېښودلو او بشردوستانه مرستو ته لاسرسي په اړه کړې وه؛ ملاتړ کوو.»[۱۱]

له هغه وروسته د قزاقستان ولسمشر قاسم جومارت توکایف د مشترک المنافع هېوادونو مشرانو غونډه چې بیشکک کې جوړه شوې وه؛ وویل هغه ننګونې چې په

لسگونو کاله کېږي حل شوې نه دي، د ترهګریزو کړنو ترسره کولو سره نه حلېږي او هېڅ توجیح نه لري.[۱۲]

د ازبکستان ولسمشر شوکت میرضیایوف په ۲۰۲۳ز. اکتوبر په تاشکند کې یوه غونډه کې وویل چې د خپلواکه هېواد په توګه د فلسطین د خلکو ملاتړ کوي، نوموړي په غزه کې انساني تلفاتو ته په اشارې وویل چې دغو شخړو کې ډېر شمېر ښځې او ماشومان وژل شوي او د خلکو کورونه وران شوي، زه د فلسطین او اسرائیلي قرباني کورنیو ته تسلیت وایم.[۱۳]

د قرغزستان بهرنیو چارو وزارت د شخړې زیاتېدو په اړه اندېښنه وښوده او د سیاسي حل لارې غوښتنه یې وکړه، همدارنګه په دویمه بیانیه کې له اشغالي فلسطین او لبنان څخه د خپلو اتباعو د وتلو غوښتنه وکړه؛ همدارنګه د تاجکستان بهرنیو چارو وزارت هم تاوتریخوالی وغنده او د ډیپلوماټیک حل لارې غوښتنه یې وکړه، همدارنګه د اکتوبر پر ۱۸ مه دویمه بیانیه صادره کړه او په غزه کې د اسرائیلو له خوا د الاهلي روغتون بمبارول یې محکوم او د عاجل اوربند غوښتنه یې وکړه.[۱٤]

د حماس او اسرائیلو صهیونیستي رژیم ترمنځ د بشردوستانه اوربند په اړه د ملګرو ملتونو سازمان د ۲۰۲۳ز. د اکتوبر ۲۷ مې قطعنامې ته قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان مثبته رایه ورکړه او ترکمنستان و نه کاروله.[۱٥]

د ۲۰۲۴ز. د اکتوبر پر ۲ مه د قزاقستان بهرنیو چارو وزارت استازي په خبري غونډه کې په منځني ختیځ کې د بحران شاملو لوریو څخه غوښتنه وکړه چې د ناورین زیاتېدلو مخنیوی وکړي؛ ځکه د موجوده وضعیت ادامه پیدا کړي، په سیمه کې د بشپړ عیارې جګړې رامنځ ته کېدو ګواښ شتون لري، قزاقستان په سیمه کې د امنیت د ټینګښت او وضعیت عادي کولو لپاره د نړیوالې ټولنې له نوښتونو څخه ملاتړ اعلان کړ، د بل لوري د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان د ۲۰۲۴ز. د اکتوبر پر ۳ مه د قطر په دوحه کې د آسیا همکاري خبرو اترو مجمع کې وویل: «په

منځني ختيځ کې د وضعيت خرابېدل به فاجعه لرونکي پايلې ولري، د امام علي رحمان په وينا د هر ډول اختلاف او شخړې حل لاره د ديپلوماتيکو موثره مذاکراتو ترسره کول دي، نوموړي د نړيوالو قوانيو په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو سازمان منشور په رعايت ټينګار وکړ او د فلسطين خپلواکه هېواد رامنځته کولو په اړه د ملګرو ملتونو سازمان د مصوبې اجرا غوښتونکی شو».[١٦]

د مرکزي آسيا هېوادونه د فلسطين د خلکو د سرنوشت تعيين حق څخه ملاتړ کوي، د ۲۰۲۴ز. نومبر مياشت کې د اسلامي همکارۍ سازمان مشرانو غونډه کې د مرکزي آسيا هېوادونو د خپلواکه فلسطيني دولت رامنځته کولو لپاره رايه ورکړه، همدارنګه د ۲۰۲۴ز. د مي مياشت ۱۰ مه نېټه د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمع اضطراري غونډه کې په ملګرو ملتونو سازمان کې د فلسطين د بشپړ غړيتوب په اړه قطعنامه تصويب کړه. د حماس ډلې محکوميت په اړه د کاناډا وړانديز شوې اصلاحيې په اړه د مرکزي آسيا هېوادونه په برخو وويشل شول، قزاقستان، قرغزستان او تاجکستان د دې وړانديز شوې اصلاحيې ملاتړ څخه ډډه وکړه، ازبکستان او ترکمنستان غوره وبلله چې د رايې ورکولو بهير کې ونډه وانخلي.[١٧]

د غزې پر خلکو د اسرائيلو يرغل او عام وژنې په اړه د مرکزي آسيا هېوادونو د بيانيو په خپرولو سره داسرائيلو بريد محکوم کړ، د رسمي محکوميت پرته د مرکزي آسيا هېوادونو تر اوسه له اسرائيلو سره په اقتصادي او امنيتي اړيکو کې کومه جدي پريکړه نه ده کړې. په اسرائيلو کې د قزاقستان او ازبکستان ديپلوماتيکې استازولۍ فعاليت کوی او د اسرائيلو پر خلاف تر اوسه هيڅ ډيپلوماتيک اقدام نه دی کړی.

## د غزې خلکو سره د مرکزي آسيا بشردوستانه مرستې

د ۲۰۲۳ز. د اکتوبر ۲۳ مه د قرغزستان پارلمان يوه طرحه تصويب کړه چې له مخې يې د پارلمان هر استازي يوې مياشتې حقوق «نږدې ۳۰۰ ډالر» په غزه کې بشردوستانه مرستو لپاره ځانګړي کړل.[١٨]

د بل لورې د قزاقستان ولسمشر د ترک هېوادونو سازمان په غونډه کې چې د ۲۰۲۳ز. د نومبر ۳ مه جوړه شوې وه، د مسایلو حل او فصل کې له تاوتریخوالي او ترهګرۍ کار اخیستل وغندل او د ملګرو ملتونو سازمان امنیت شورا قطعنامې او د هېوادونو حاکمیت ته احترام ساتلو غوښتونکی شو، همدارنګه یو میلیون ډالر یې د غزې له خلکو سره مرسته وکړه. د قزاقستان بهرنیو چارو وزیر مورات نورتلئو هم له اسرائیلو څخه وغوښتل چې د غزې غیرنظامیانو لپاره بشردوستانه کوریډور پرانېزي. د ازبکستان ولسمشر شوکت میرضیایف هم وویل، چې ازبکستان د فلسطین د خلکو له حقوقو ملاتړ کوي. میرضیایف د غزې اوسېدونکو سره ۱،۵ میلیون ډالره بشردوستانه مرستو ورکولو اعلان هم وکړ.[۱۹]

## د مرکزي آسیا پر بهرني سیاست، د حماس او اسرائیلو صهیونیستي رژیم د جګړې اغېزې

د حماس او اسرائیلو جګړې په اړه د مرکزي آسیا هېوادونو دریځ، د مرکزي آسیا پر بهرني سیاست هم اغېزې لري، یعنې د دې جګړې له امله ځینې کورني او بهرني لاملونه د مرکزی آسیا د بهرنی سیاست پر وړاندې ستونزې رامنځته کړي.

### أ: کورني لاملونه

په مرکزي آسیا کې حاکم رژیمونه د اسرائیلو صهیونیستي رژیم سره سیاسي او اقتصادي اړیکې لري خو د مرکزي آسیا وګړي چې لوی شمېر یې مسلمانان دي او له اسرائیلو سره د نږدې اړیکو سره مخالفت لري او له فلسطین څخه ملاتړ کوي. په مرکزي آسیا کې د حاکم حکومتونو له خوا د خلکو له لوري له حماس څخه په ملاتړ لاریونونه منع دي او عوامو ته اجازه نه ورکول کیږی. د مرکزي آسیا په ځینو هېوادونو کې پر مذهبي آزادیو باندې ځینې بندیزونه اود بیان آزادۍ سانسور له امله عام وګړي اړ دي چې تاوتریخوالي ته مخه کړي او له حکومتونو څخه ناراضه دي.

د حماس او اسرائیلو صهیونیستي رژیم ترمنځ د جګړې وروسته په مرکزي آسیا کې د عوامو خلکو له لورې د فلسطین سره همدردي ښودل شوې او د اسرائیلو د بریدونو غندنې ترڅنګ یې په سیمه کې د اسرئیلو ګټو ته زیان اړولو هڅه کړې ده چې بیلګه یې د ۲۰۲۳ز. نوامبر پر ۱۸ او ۲۰ مه د قزاقستان په آلماتا ښار کې پر اسرائیلي مرکزونو د دوه بریدونو ترسره کولو هڅه وه، لومړی برید موخه په آلماتا ښار کې د (Ohr Avner) یهودي روزنیز مرکز و، بریدګر د تاجکستان اتباع وو. دویم برید موخه د آلماتا شاخنوت (د اشغالي ځمکو بهر د صهیونیستي رژیم څو موخیزه استازولي) مرکز و، خو د برید وړاندې کسان ونیول شو، ټول نیول شویو بریدکوونکو په څېړنو کې ویلي وو، چې د برید موخه یې د فلسطین خلکو په ځانګړې توګه د غزې اوسیدونکو سره خواخوږی او ملاتړ ښودل وو.[۲۰]

له اسرائیلو څخه کرکې او پر غزې د بریدونو غندلو په لړ کې د ازبکستان مشهور سندرغاړي یولدوز عثمان آوا د ۲۰۲۳ز. په اکتوبر کې د اسرائیلي شرکتونو محصولات کثافت دانۍ ته واچول او د ازبکستان خلکو څخه یې وغوښتل چې د اسرائیلي محصولاتو سره پریکون وکړي، نوموړي خلک له فلسطین څخه دفاع لپاره راوبلل. له دې وروسته یولدوز عثمان آوا غوښتل د امریکا متحده ایالاتو په نیویارک ښار کې کنسرټ وکړي، خو د بخارا یهودانو په غوښتنه او شکایت کولو سره دغه کنسرټ لغوه شوه.[۲۱] همدارنګه د ۲۰۲۴ز. اپریل پر ۱۹ مه د ازبکستان نړیوالو ژبو دولتي پوهنتون یو محصل په تاشکند کې د اسرائیلو صهیونیستي رژیم سفارت باندې برید وکړ چې د تېلو ډک یو شیشه یي بوتل یې سفارت ودانۍ ته ګوزار کړ، وروسته نوموړی محصل د ملي ګارد مامورینو له خوا ونیول شو او په جنایي محکمه کې د ترهګرۍ په جرم په ۵ کاله بند محکوم شو.[۲۲]

د فلسطین خلکو لپاره د بشر دوستانه مرستو راټولولو له بهیر څخه د مرکزي آسیا خلکو ملاتړ وکړ او د قرغزستان مالیې وزارت د دغو مرستو ښه تنظیم لپاره یو اکونټ

جوړ کړ او د پارلمان استازیو یې د یوې ورځې معاش هم دغه بشردوستانه مرستو ته ورکړ په قزاقستان کې خیریه بنسټونه لکه د بیز بیرگمیز بنسټ او قرغزستان کې الامه بنسټ له لوري هم بشردوستانه مرستې راټولې شوې.[۲۳]

په غزه کې د اسرائیلو جنایاتو لړۍ ادامې او د مرکزي آسیا هېوادونو له خوا جدي غبرگونونه نه ځرگندولو له امله ممکن یاد هېوادونه کور دننه د خلکو له سخت غبرگون سره مخامخ شي، د مرکزي آسیا نفوس نږدې ۸۰ سلنه مسلمانان دي او په فلسطین کې د مسلمانانو پر وړاندې د جنایاتو او ظلمونو په اړه اندېښنه لري. د حماس او اسرائیلو جگړې وروسته په مرکزي آسیا کې وگړو دهغه شرکتونو تولیداتو سره پرېکون کړی چې اسرائیلو پورې اړه لري.

**ب: بهرني لاملونه**

د مرکزي آسیا هېوادونه د اسرائیلو پر وړاندې سخت غبرگون ځرگندولو څخه ډډه کوي، ځکه د اسرائیلو او مرکزي آسیا اړیکو خرابېدل د غرب او په ځانگړې توکه له امریکا سره د اړیکو خرابېدلو په بیه ورته تمامېږي، د مرکزي آسیا هېوادونو په رسمي ډول یوازې د غندلو بیانیې خپروي او د مذاکراتو له لارې په سوله ییزه توگه د شخړې د حل غوښتونکي دي.

د الاقصیٰ له توپان وروسته ایران له اسلامي هېوادونو وغوښتل چې د اسرائیلو صهیونیستي رژیم جنایتونه وغندي او پر دغه رژیم حیاتي جریان شریانونه پرې کړي چې له اسلامي هېوادونو څخه اسرائیلو ته د انرژۍ یا تېلو د صادراتو خنډ وگرځي، د کپلر شرکت شمېرو له مخې اسرائیلو د ۲۰۲۳ز. می میاشتې پورې ۲۲۰ زره بوشکې په ورځ کې وارد کړې چې ٦۰ سلنه یې له دوه هېوادونو اذربایجان او قزاقستان څخه وارد کړې دي.[۲٤]

د حماس او اسرائیلو جگړې پیلېدو او په دې جگړه کې له حماس څخه د لبنان حزب الله ډلې ملاتړ او جگړه کې داخلېدو سره د ایران او اسرائیلو ترمنځ هم شخړې

زیاتې شوې، د اسرائیلو له خوا د لبنان حزب الله مشر حسن نصرالله وژل کېدو او د لبنان سویل کې د ضاحیه شعیه مېشتو سیمو بمبارولو په اړه د مرکزي آسیا هېوادونو په رسمي ډول غبرګون ښکاره نه کړ. د مرکزي آسیا هېوادونو له لورې د اسرائیلو سره نږدې اړیکو پالل او اقتصادي اړیکو پیاوړتیا ددې لامل کېږي چې په بهرني سیاست کې د اسلامي هېوادونو سره ستونزو سره مخامخ شي او کور دننه هم د خپلو عوامو خلکو له غبرګون سره مخامخ شي چې کیدای شي د مرکزي آسیا حکومتونو بقا او امنیت لپاره لوی ګواښونه رامنځته کړي.

**پایله**

د مرکزي آسیا  هېوادونو، د حماس او اسرائیلو جګړې پیل او پر غزې د اسرائیلو صهیونیستي رژیم وحشیانه بریدونو وروسته، اعلامیې خپرې کړې او د شخړې پر سوله ییزو حل لار باندې یې ټینګار وکړ، همدارنګه په ښکاره توګه د فلسطین  څخه ملاتړ کوي او د غزې خلکو سره یې بشردوستانه مرستې کړې دي.

د مرکزي آسیا  هېوادونه چې د اسلامي همکاریو سازمان غړي هېوادونه دي  او نږدې ۸۰ سلنه نفوس یې مسلمانان دي، پر غزه د اسرائیلو صهیونیستي رژیم وحشیانه برید او د عوامو وژلو په اړه د ا علامیو خپرولو پرته په عمل کې څه نه دي کړي او بالعکس له اسرائیلو سره سیاسي، اقتصادي او امنتي اړیکې پالي، اسرائیل د اړتیا وړ ۷۰ سلنه تېل له قزاقستان او اذربایجان څخه  واردوي، له اسرائیلو سره د مرکزي آسیا هېوادونو د اړیکو پالل، په کور دننه  او بهر د ځینو خنډونو رامنځ ته کېدو لاملېږي چې د مرکزي آسیا بهرني سیاست پر وړاندې ستونزې رامنځ ته کولای شي، په مرکزي آسیا کې د عوامو نارضایتي د تاوتریخوالي او حاکم رژیمونو امنیت پر وړاندې ګواښونه رامنځ ته کولای شي او له اسلامي هېوادونو سره پر اړیکو یې هم منفي اغېزې لري.

## مأخذونه

[1]. Erma KAYA. «Central Asia’s Strengthening Relations with Israel», 12/04/2023, available at: https:// www. Ankasam .org/anka-analizler/central-asias-strengthening-relations-with-israel/?lang=en [accessed: 14/11/2024]

[2]. Chris Rickleton.« Central Asian Countries Try To Manage Public Passions Around Israeli-Palestinian Conflict», November 04, 2023 , available: https:// www. rferl.org/ a/ central-asia-public-passions-palestinian-hamas-israel-conflict/32670878.html [accessed:15/11/2024]

[۳]. موسوی شهیدی، مهدی. زارعی، بهادر. بدیعی ازنداهی، مرجان. «تبیین دکترین پیرامونی رژیم صهیونیستی اسرائیل در قفقاز و آسیای مرکزی (با تاکید بر اذربایجان و قزاقستان)»، مجله پژوهش های جغرافیای سیاسی، سال هفتم، شماره چهارم، زمستان ۱۴۰۱، ص ۳۴.

[٤]. مطالعات شرق.«بازخوردهای جنگ غزه در آسیای مرکزی»، ۲۰جوزا ۱۴۰۳، دسترسی: https://www.iess.ir/fa/interview/3745/ [مراجعه: ۴۱۰۳/۸/٦]

[٥]. احمدی، وحیده. «اسرائیل و کشورهای پیرامونی؛ نفوذ امنیتی با پوشش اقتصادی»، فصلنامه مطالعات راهبردی، سال بیستم، شماره دوم،شماره مسلسل ٧٦، تابستان ١٣٩٦، ص١٢٣.

[٦]. مطالعات شرق.«بازخوردهای جنگ غزه در آسیای مرکزی»، ۲۰جوزا ۱۴۰۳، دسترسی: https://www.iess.ir/fa/interview/3745/ [مراجعه: ۴۱۰۳/۸/٦]

[٧]. موسسه مطالعات ایران و اوراسیا. «رژیم صهیونیستی در آسیای مرکزی؛ انگیزه ها و زمینه ها»، ۷ سرطان ۱۴۰۲، دسترسی:https://www.iras.ir/?p=8490 [مراجعه: ۳/عقرب/۱۴۰۳]

[٨]. شفقنا. «ناکامی اسرائیل در جذب کارگران خارجی؛ ورود تنها ۱۱۰۰ کارگر به بخش ساخت‌وساز طی ٦ ماه و کمبود ۸۰ هزار نفری»، ۱۴۰۳/۱/۱۵، دسترسی: https://fa.shafaqna.com/news/1770051/ [مراجعه: ۱۴۰۳/۸/۸۹]

[۹]. مرکز مطالعات آسیای مرکزی. «رئیس جمهور ازبکستان در دیدار با سفیر رژیم‌صهیونیستی: اسرائیل شریک اقتصادی مهم ازبکستان است؛ مبادلات ما در سال گذشته دو برابر شد»، ۲۰ سپتمبر ۲۰۲۴، دسترسی:

https://t.me/mavaraonnahr/1763[مراجعه: ۲۰۲۴/۱۱/۱۲]

[10]. Colleen Wood. «Central Asian Governments React to the Israel-Palestine Conflict», October 30, 2023, available at: https://thediplomat.com/2023/10/central-asian-governments-react-to-the-israel-palestine-conflict/ [accessed: 15/11/2024]

[11]. Astana times. «Kazakhstan Condemns Hamas Attacks, Urges Peaceful Resolution in Israel Conflict»,17 October 2023, available: https://astanatimes.com/2023/10/kazakhstan-condemns-hamas-attacks-urges-peaceful-resolution-in-israel-conflict/[accessed:15/11/2024]

[12]. Kazah info. «Kazakh MFA issues statement on Hamas-Israel armed clash», 17/10/2024, available: https://en.inform.kz/news/kazakh-mfa-issues-statement-on-hamas-israel-armed-clash-55dfdd/ [accessed: 17/11/2024]

[۱۳]. خبرگزاري انادولو. «رئیس جمهور ازبکستان: از تاسیس دولت مستقل فلسطین حمایت می‌کنیم»، ۲۰۲۳/۱۰/۳۱، دسترسی:https://www.aa.com.tr/fa/ 85/3039225 [مراجعه: ۱۴۰۳/۸/۹]

[۱۴]. مطالعات شرق.«پیامدهای تحولات فلسطین در آسیای مرکزی«، ۲۵ عقرب ۱۴۰۲، دسترسی:https://www.iess.ir/fa/analysis/3609/ [٦عقرب ۱۴۰۳]

[15]. Colleen Wood. «Central Asian Governments React to the Israel-Palestine Conflict», October 30, 2023, available at: https:// thediplomat.com/2023/10/central-asian-governments-react-to-the-israel-palestine-conflict/ [accessed: 16/11/2024]

[۱۶]. ضیا، سهراب. «کشورهای آسیای مرکزی بر سر سه‌راهی: ایران، اسرائیل یا بی‌طرفی؟»، ۱۳ میزان ۱۴۰۳، دسترسی:

[مراجعه: https://www.bbc.com/persian/articles/c0m0pzxx18wo
۲/عقرب/۱۴۰۳]

۱۷. مطالعات شرق.«بازخوردهای جنگ غزه در آسیای مرکزی»، ۲۰جوزا ۱۴۰۳، دسترسی: https://www.iess.ir/fa/interview/3745/ [مراجعه: ۱۴۰۳/۸/٦]

18. Colleen Wood. « Central Asian Governments React to the Israel-Palestine Conflict» , October 30, 2023,available: https://thediplomat.com/2023/10/central-asian-governments-react-to-the-israel-palestine-conflict/ [accessed: 16/11/2024]

19. Andrei Kazantsev-Vaisman. «Balancing Policy: Official Positions of the Central Asian States on the Gaza War» , February 9, 2024, available at: https://besacenter.org/balancing-policy-official-positions-of-the-central-asian-states-on-the-gaza-war/ [accessed: 16/11/2024]

20. Ibid

۲۱. مرکز مطالعات آسیای مرکزی.«لغو کنسرت خواننده ازبک حامی فلسطین در نیویورک»، اکتوبر ۲۰۲۳، دسترسی: https://t.me/mavaraonnahr/1736 [مراجعه: ۲۰۲۴/۱۱/۱۱]

۲۲. مرکز مطالعات آسیای مرکزی.«حمله یک دانشجو به سفارت رژیم صهیونیستی در ازبکستان»، اپریل ۲۰۲۴، دسترسی:https://t.me/mavaraonnahr/1508 [مراجعه: ۲۰۲۴/۱۱/۱۳]

۲۳. مطالعات شرق.«بازخوردهای جنگ غزه در آسیای مرکزی»، ۲۰جوزا ۱۴۰۳، دسترسی: https://www.iess.ir/fa/interview/3745/ [مراجعه: ۱۴۰۳/۸/٦]

۲٤. عصر ایران.«کدام کشورهای اسلامی تامین کننده نفت رژیم صهیونیستی هستند؟»، ۱۴۰۳/۲/۱۸، دسترسی:
https://www.asriran.com/fa/news/964497 [مراجعه: ۱۴۰۳/۸/۷]

څېړنواله خاطره شینوارې

# د روسیې او ایران وروستۍ اړیکې او پر افغانستان یې د اغېزو څېړنه (۲۰۲۱ - ۲۰۲۴ ز)

Assoc. Prof. Khatira Shinwari

## Abstract

Russia and Iran maintain a multifaceted relationship grounded in shared interests, strategic imperatives, and common geopolitical objectives. Their partnership spans a broad spectrum, encompassing political cooperation, economic collaboration, cultural exchange, and joint efforts in the field of security. This reflects not only pragmatic considerations but also a mutual recognition of each other's regional significance and global aspirations. While Russia possesses substantial military capabilities as a major regional power, it continues to rely on the collaboration of other states to advance its economic development and strengthen its regional and global influence. This interdependence highlights the importance of strategic partnerships in achieving broader national objectives beyond military strength alone.

On the other hand, Iran—grappling with ongoing Western sanctions—relies on Russian support to advance its strategic objectives. While political-security and economic relations between the two nations have a longstanding foundation, these connections have significantly strengthened and broadened since Russia's invasion of Ukraine in February 2022, reflecting a growing alignment of interests in response to shifting global dynamics. At present, Russia and Iran are actively collaborating in key areas such as energy, transit, and security.

These joint efforts not only reinforce the bilateral relationship but also carry the potential to significantly influence the broader geopolitical landscape of the region.

**لنډیز**

د روسيې او ايران اړيکې د متقابلو ګټو، ستراتيژيکو اړتياو او جيوپوليټيکي اهدافو پر بنسټ رامنځته شوې دي، دواړه هېوادونه په سياسي، اقتصادي، فرهنګي او امنيتي برخو کې پراخې اړيکې لري، که څه هم روسيه د يو ستر نړيوال ځواک په توګه له پوځي پلوه پر ځان بسيا ده؛ خو لا هم د اقتصادي پراختيا او سيمه ييز نفوذ د پياوړتيا لپاره د نورو دولتونو ملګرتيا ته اړتيا لري چې په سيمه ييزه او نړيواله کچه د روسيې تر څنګ ودرېږي.

له بلې خوا ايران چې د لوېديځ له بنديزونو سره مخامخ دی؛ د روسيې ملاتړ ته اړتيا لري چې خپلې ستراتيژيکې موخې تعقيب کړي، د دواړو هېوادونو تر منځ سياسي، امنيتي او اقتصادي اړيکې له پخوا راهيسې موجودې دي؛ خو دا اړيکې د ۲۰۲۲ ز په فبرورۍ کې پر اوکراين د روسيې تر بريد وروسته لا پسې پراخې او ژورې شوې، اوسمهال روسيه او ايران د انرژۍ، ټرانزيټ او امنيتي همکاريو په برخو کې ګډ فعاليتونه لري چې دا ډول همکارۍ نه يوازې د دواړو هېوادونو تر منځ اړيکې پياوړې کوي؛ بلکې د سيمې پر جيوپوليټيک وضعيت هم ژورې اغېزې لرلای شي.

**سریزه**

سره له دې چې د ايران او روسيې اړيکې په تېرو لسيزو کې محدودې او له بې باورۍ ډکې وې؛ خو د اوسني نړيوال وضعيت، متقابلو ګټو او ګډو ګواښونو له امله دا اړيکې د ستراتيژيکي نږدېوالي پر لور روانې شوې دي، دواړه هېوادونه په ځانګړي ډول د امريکا متحده ايالاتو او ناټو د نفوذ پر وړاندې يوشان متقابل سياسي دريځ لري او هڅه کوي چې د لوېديځ د بنديزونو، اقتصادي فشارونو او جيوپوليټيکي محاصرې پر وړاندې يو بل ته سياسي، اقتصادي او نظامي ملاتړ برابر کړي.

له اقتصادي پلوه روسيه او ايران د نړۍ د طبيعي ګاز او نفتو له مهمو صادرونکو هېوادونو څخه شمېرل کېږي، دواړه هېوادونه هڅه کوي د لوېديځ له اقتصادي بنديزونو سره سره نړيوالو بازارونو ته خپل صادرات پراخه او بديلو بازارونو ته لاسرسی پيدا کړي،

دغه ګډې هڅې نه یوازې د دواړو هېوادونو تر منځ د همکاریو د ژورتیا لامل ګرځي؛ بلکې د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو تر منځ د نفوذ د وېش په سیالۍ کې هم د هغوی نقش پیاوړی کوي.

اوسمهال دواړه هېوادونه د اعتماد فضا رامنځ ته کولو او د متقابلو ګټو پر بنسټ د اړیکو پراختیا ته ژمن دي، له همدې امله په یاده څېړنه کې هڅه شوې چې د ۲۰۲۱ – ۲۰۲۴ ز تر منځ د روسیې او ایران سیاسي، امنیتي او اقتصادي اړیکې وڅېړي، ورته مهال د څېړنې په اوږدو کې به پر افغانستان او اوکراین د روسیې او ایران د وروستیو اړیکو اغېزې هم روښانه شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د نړیوالو بدلونونو او جیوپولیټیکي بدلونونو په رڼا کې د روسیې او ایران د وروستیو اړیکو څېړنه ځانګړې اهمیت لري، له یوې خوا روسیه له اوکراین سره په جګړه کې ښکېله ده او له بلې خوا ایران د لوېدیځو هېوادونو له خوا له سیاسي فشار، اقتصادي بندیزونو او منفي درک سره مخامخ دی، په دغسې شرایطو کې د روسیې او ایران نړدېوالی نه یوازې د دوی دوه اړخیزو اړیکو د بدلون ښکارندویي کوي؛ بلکې د سیمې پر امنیتي او سیاسي ثبات هم ژور اغېز کولای شي، په ځانګړې توګه د دغو اړیکو همېشنی پرمختګ کولای شي چې پر افغانستان او اوکراین مستقیمې او نامستقیمې اغېزې ولري، له همدې امله د روسیې او ایران د ستراتیژیکو همکاریو ارزونه د سیمه ییزو او نړیوالو بدلونونو د ژور تحلیل لپاره یوه اړینه څېړنیزه موضوع ده، دا څېړنه به مرسته وکړي چې د دغو دوو هېوادونو د نږدېوالي شالید، موخې او احتمالي پایلې په علمي او تحلیلي بڼه روښانه کړي.

## د څېړنې پوښتنه

د روسیې او ایران تر منځ وروستي سیاسي، امنیتي او اقتصادي تعاملات څرنګه دي او پر افغانستان او اوکراین څه اغېزې لرلای شي؟

## د څېړنې مېتود

په یادې څېړنې کې له توصیفي- تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او ډول یې کتابتوني دی.

## د روسیې او ایران وروستۍ سیاسي- امنیتي اړیکې

په وروستیو کلونو کې د روسیې او ایران تر منځ سیاسي او امنیتي اړیکې د پام وړ پراخې شوې دي، دغه اړیکې چې له سیمه ییزو تحولاتو او نړیوالو ژورو بدلونونو سره هممهاله دي، د دواړو هېوادونو د ستراتیژیکو موخو او ګډو ګټو پر بنسټ پراختیا مومي، په دې څېړنه کې د یوې ټاکلې مودې په ترڅ کې د روسیې او ایران ترمنځ سیاسي-امنیتي اړیکو ته کتنه کېږي چې دغو اړیکو څه ډول وده کړې او د سیمه ییز او نړیوال سیاست پر کومو برخو اغېزې لري؟

په دې وروستیو کلونو کې د ایران او روسیې اړیکې نه یوازې د سیاسي او امنیتي برخو په کچه؛ بلکې په اقتصادي ډګر کې هم د پراخېدو په حال کې دي، دا پراخېدونکې اړیکې د دواړو هېوادونو د لوړپوړو مشرانو د متقابلو سفرونو له لارې په روښانه ډول څرګندېږي، د بېلګې په توګه د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوټین په نږدې کلونو کې دوه ځله ایران ته رسمي سفرونه کړي چې په ترځ کې یې له ایراني مشرانو سره د مهمو موضوعاتو په اړه خبرې کړې دي، له بلې خوا د ایران له لوري هم له روسیې سره د اړیکو پراخولو ته ځانګړې پاملرنه شوې چې یوه تازه بېلګه یې روسیې ته د نوي ایراني ولسمشر مسعود پزشکیان رسمي سفر دی، نوموړي د سفر پر مهال له روسي سیال سره ولیدل، په دې کتنه کې دواړو مشرانو د سیمه ییزو او نړیوالو بدلونونو تر څنګ د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا خبرې وکړې، د دې کتنې پایله د یو ستراتیژیک سند لاسلیک و چې له مخې به یې د ایران او روسیې تر منځ اقتصادي او پوځي همکارۍ لا ژورې شي[1].

که څه هم د شلمې پېړۍ په لومړیو کې؛ یعنې د ایران د اسلامي انقلاب تر پیله وړاندې د ایران او پخواني شوروي اتحاد (اوسنۍ روسیې) اړیکې ترینګلې وې؛ خو دا وضعیت له دې سره تړاو درلود چې ایران د وخت د نړیوالو سیالیو په چوکاټ کې د امریکا نږدې متحد بلل کېده، د ۱۹۷۹ ز د اسلامي انقلاب له بریا وروسته د ایران اټومي پروګرام او له هغې سره تړلي جنجالونه د دې لامل شول چې امریکا او د لوېدیځو هېوادونو ټولنه پر ایران پراخ اقتصادي او سیاسي بندیزونه ولګوي چې له امله یې ایران په نړیوالو اړیکو کې له جدي انزوا سره مخامخ شو، په همدې شرایطو

کې روسيې ته دا موقع برابره شوه چې د ايران پر لور د دوستۍ او همکارۍ لاس وغځوي، د دواړو هېوادونو د ملي او سيمه ييزو ګټو پر بنسټ دغه اړيکې ورو ورو پراخې شوې چې په پايله کې اوسمهال روسيه او ايران د سياسي، امنيتي او آن د اقتصادي همکاريو په ډګر کې پام وړ نږدېوالي ته رسېدلي دي[۲].

د ايران او روسيې تر منځ د امنيتي او دفاعي همکاريو د پراخېدو په دوام د ۲۰۲۳ ز د مارچ پر ۱۱مه ايراني دولتي رسنيو راپور ورکړ چې دواړه هېوادونه يوې مهمې نظامي هوکړې ته رسېدلي، د دې هوکړې له مخې ايران به له روسيې څخه Su-35ډوله جنګي الوتکې تر لاسه کوي چې دا پرمختللې الوتکې د روسيې د هوايي ځواک د عصري تجهيزاتو له جملې څخه ګڼل کېږي[۳].

پورتنی ياد توافق نه يوازې د دواړو هېوادونو تر منځ د نظامي اړيکو ژورتيا ښيي؛ بلکې دا هم څرګندوي چې ايران هڅه کوي د لوېديځو بنديزونو تر سيوري لاندې خپل نظامي ظرفيتونه د بديلو سرچينو له لارې پياوړي کړي، د ايران د هوايي ځواکونو اوسنی وضعيت له جدي محدوديتونو سره مخامخ دی؛ ځکه چې دا ځواک يوازې يو محدود شمېر جنګي جيټ الوتکې لري، په دغو الوتکو کې ځينې يې زړې امريکايي ماډلونه دي چې له اسلامي انقلاب وړاندې تر لاسه شوي وو او نور يې روسي جوړې الوتکې دي چې وروستيو کلونو کې ترلاسه شوې دي، سره له دې چې ايران په ۲۰۱۸ز کې اعلان وکړ چې د "کوثر" په نوم د جنګي جيټ الوتکو کورنی توليد يې پيل کړی او هڅه يې کړې چې د خپلو هوايي ځواکونو اړتياوې له کورنيو امکاناتو پوره کړي؛ خو شواهد ښيي چې ياد توليدات د ايران لپاره بسنه نه کوي، داسې ښکاري چې دغه د الوتکو توليد د ايران لپاره بسنه نه کوي او اړ دي چې له بهرنيو هېوادونو په ځانګړي ډول له روسيې څخه خپل د اړتيا وړ پوځي تجهيزات پوره کړي[۴].

په واقعيت کې د کوثر الوتکې که څه هم د داخلي توليد يو مهم ګام ګڼل کېږي؛ خو له پرمختللو نړيوالو ماډلونو سره د سيالۍ وړتيا نه لري، د دغو محدوديتونو له امله ايران اړ شوی چې د خپلو هوايي او دفاعي ظرفيتونو د پياوړتيا لپاره له بهرنيو سرچينو په ځانګړي ډول له روسيې څخه پوځي تجهيزات او عصري جنګي الوتکې ترلاسه کړي، دا تمايل نه يوازې د ايران د نظامي اړتياو انعکاس دی؛

بلکې د سیمه ییزې او نړیوالې ستراتیژۍ یوه برخه هم ګڼل کېږي چې ایران هڅه کوي خپل پوځي ځواکونه د احتمالي ګواښونو پر وړاندې چمتو وساتي او د ځان بسیا دفاعي وړتیا رامنځته کړي.

د ۲۰۲۲ ز په نومبر کې د روسیې یوه جګپوړي پلاوي د ایران سفر ته په اشارې د بریتانیا ورځپاڼې «ګارډین» راپور ورکوي چې تهران ۱۲ د شاهد په نوم ۱۹۱ او ۱۲۹ بې پیلوټه الوتکې مسکو ته وسپارلې چې دغه الوتکې له ځمکې نه هوا ته د ویشتلو وړتیا لري، شاهد ۱۲۹، ٦۰ کېلو ګرامه وزن بار وړلای شي او یوازې څلور ساعته په هوا کې پاتېدای شي، په داسې حال کې چې شاهد ۱۹۱ کولای شي پنځه ساعته الوتنه وکړي او ۷۰ کېلوګرامه وزن پورته کړي، د یادونې وړ ده دغه الوتکې د شاهد ۱۳۱ او ۱۳٦ بې پیلوټه الوتکو پر خلاف د اوږد واټن د بمونو لېږدولو او اډې ته د بېرته راستنېدو لپاره ډیزاین شوې دي، داسې راپورونه هم شته چې ګواکې روسیې له دغو ایراني بې پېلوټه الوتکو څخه د اوکراین په جګړه کې ګټه اخیستې ده[٥].

ایران رسمي تأیید کړې چې روسیې ته یې بې پیلوټه الوتکې ورکړې دي؛ خو ټینګار کوي چې دا الوتکې یې د ۲۰۲۲ ز د فبرورۍ میاشتې، یعنې د روسیې له خوا د اوکراین د برید له پیله مخکې سپارلې دي، مسکو هم له خپلې خوا تل دا ادعا رد کړې چې ګواکې یې د اوکراین په جګړه کې یې له ایراني بې پیلوټه الوتکو څخه ګټه اخیستې ده، برخلاف د روسیې او ایران ادعاو اوکرایني چارواکو بیا پرله پسې داسې شواهد وړاندې کړي چې پکې ښودل شوي ګڼ شمېر ایرانۍ بې پیلوټه الوتکې په اوکراین کې ویشتل شوې دي.

د دغو شواهدو له خپرېدو سره متحده ایالاتو، برېتانیا او اروپایي ټولنې پر ایران نوي بندیزونه وضع کړي دي، دغه بندیزونه تر ډېره د ایران د پوځي صنعت سکټور، د بې پیلوټه الوتکو جوړوونکو شرکتونو او اړوندو تولیدي شبکو ته متوجه دي، د بندیزونو هدف د ایران د نظامي صادراتو محدودول او د روسیې د جګړه ییز ظرفیت کمزوري کول دي[٦].

له پورته نړيوالو فشارونو سره سره د ايران او روسيې دوه اړخيزې اړيکې لا هم پراخېږي، د دواړو هېوادونو ستراتيژيکې انزوا د لوېديځ له خوا د اقتصادي بنديزونو او د نړيوال سياست د قطبي کېدو په رڼا کې تهران او مسکو پر متقابلې همکارۍ ټينګار کوي، دغه همکاري نه يوازې په پوځي برخه کې څرګنده ده؛ بلکې د سياسي او اقتصادي اړيکو د پراخوالي بڼه يې هم غوره کړې ده.

## د روسيې او ايران وروستۍ اقتصادي اړيکې

د روسيې او ايران تر منځ اړيکې نه يوازې سياسي او امنيتي اړخ لري؛ بلکې اقتصادي همکارۍ يې هم په پراخېدو دي، دواړه هېوادونه هڅه کوي چې د دوه اړخيزو اقتصادي راکړو ورکړو تر څنګ د څو اړخيزو ميکانيزمونو له لارې خپل ګډ اقتصادي اهداف تعقيب کړي، په دې لړ کې ايران او روسيه په يو شمېر مهمو سيمه ييزو او نړيوالو سازمانونو کې ګډ غړيتوب لري، له دې ډلې د برېکس او شانګهای همکارۍ سازمانونه هغه دوه ستر جوړښتونه دي چې دواړه هېوادونه پکې فعاله ونډه لري.

په وروستيو کلونو کې د ايران د بهرني سياست يو مهم تمرکز د لوېديځ له اقتصادي بنديزونو څخه د خلاصون لپاره د متبادلو نړيوالو سازمانونو لور ته ميلان دی، په دې لړ کې د برېکس سازمان ته د ايران غړيتوب ځانګړې پاملرنه رااړولې ده چې د روسيې نقش پکې د پام وړ بلل کېږي، روسيه چې د برېکس يو موسس او اغېزناک غړی هېواد دی، د ايران د غړيتوب په ملاتړ کې يې مهم دريځ غوره کړی او نورو غړو هېوادونو ته يې دا قناعت ورکړی چې ايران بايد نه يوازې د يوه عادي غړي په توګه ومنل شي؛ بلکې په ټولو ستراتيژيکو پرېکړو، بحثونو او غونډو کې دې د فعال ګډون حق ورکړل شي، روسيې د ايران لپاره هڅه کړې چې په نړيوالو سازمانونو کې د ايران غړيتوب ومنل شي، داسې ويل کېږي چې د برېکس په بين المللي سازمان کې د ايران په ورګډېدلو کې د روسيې او چين خورا لوی لاس و او نور غړي هېوادونه يې دې ته وهڅول چې ايران د يوه دايمي غړي په توګه ومني او نه يوازې د يوه غړي په توګه؛ بلکې په ټولو کوچنيو او سترو پرېکړو او غونډو کې دې د فعاله ګډون حق ورکړل شي، د دغو هڅو په پايله کې ايران د ۲۰۲۴ ز د جنوري پر لومړۍ د برېکس سازمان رسمي غړی شو[۷].

دا غړیتوب د ایران لپاره نه یوازې د اقتصادي فرصتونو پراخېدو معنا لري؛ بلکې د نړیوالو مالي تعاملاتو، پانګونې، بدیلو بازارونو او د ډالر محور اقتصادي نظم ته د بدیل پیدا کولو برخه کې یو مهم ګام بلل کېږي، په بریکس سازمان کې د ایران غړیتوب کولای شي ایران سره مرسته وکړي چې د دې ډلې د سوداګریزو، پانګونې او له مالي ظرفیتونو څخه ګټه واخلي، روسیه چې د دې ډلې له بنسټ ایښودونکو غړو څخه ده؛ کولای شي د ایران او نورو غړو تر منځ د تعاملاتو د اسانتیاو په برخه کې مهم نقش ولوبوي[۸].

په بریکس سازمان کې د ایران او روسیې غړیتوب دې ډلې ته دا فرصت برابر کړی چې په نړیوال اقتصادي نظام کې خپل نفوذ پراخ کړي او د بدیل اقتصادي نظم د رامنځته کولو لپاره اغېزمن ګامونه واخلي، له دې سربېره ایران له روسیې سره لا دمخه د شانګهای همکاری سازمان په چوکاټ کې ښه همکاري لري؛ څکه دواړه هېوادونه د یاد سازمان غړیتوب لري چې دا په حقیقت کې د دواړو هېوادونو د سیمه ییزو او نړیوالو اهدافو تر منځ د همغږی انعکاس ګڼل کېږي[۹].

د روسیې او ایران تر منځ د همکاریو یوه ستراتیژیکه او مهمه برخه د انرژی سکټور په ځانګړي ډول د تېلو تړونونه او صادرات دي، له هغې ورځې وروسته چې روسیې پر اوکراین پوځي برید وکړ، د نړیوالو بندیزونو له امله د تېلو نړیوال بازار له بې ثباتی سره مخامخ شو چې له امله یې په آسیا او نورو سیمو کې د تېلو بیې د پام وړ لوړې شوې، په دې لړ کې روسیې او ایران د ۴۰ میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت د تېلو ستر تړونونه لاسلیک کړل، د دغو تړونونو له مخې که روسیه د اوکراین جګړې په جریان کې د انرژی په ځانګړي ډول د تېلو له کمښت سره مخامخ شي؛ ایران به د صادراتو په برخه کې له روسیې سره همکاري کوي، همدارنګه که د سعودي عربستان او امریکا تر منځ د تازه لاسلیک شویو تړونونو له امله په آسیا کې د تېلو بیې لوړې شي، یا د عرضه کېدو په جریان کې کومه ستونزه رامنځ ته شي؛ نو ایران او روسیه به په ګډه هڅه کوي چې د دې احتمالي ناورین مخه ونیسي او د تېلو بیې ثبات ومومي[۱۰].

همدارنګه د ۱۴۰۲ل د وري پر ۲۷مه روسيې او ايران د شمال- سوېل ټرانسپورټي دهلېز د وروستۍ برخې د جوړولو تړون لاسليک کړ، دا دهلېز چې اوږدوالی يې شاوخوا ۷۲۰۰ کيلومتره اټکل شوی، روسيه له فارس خليج او هند سره نښلوي، دغه څو اړخيز ټرانسپورټي پروژه د بېړيو، اورګاډو او سړکونو له لارې د توکو د لېږد رالېږد اسانتياوې برابروي او د روسيې، اذربايجان، ايران او هند تر منځ د اقتصادي همکارۍ د پراختيا لپاره مهمه ګڼل کېږي، په دې تړون کې يو مهم بند د ايران او اذربايجان تر منځ د "استارا" سرحد او د ايران په شمال کې د رشت ښار تر منځ د ١٦۴ کيلو متره اورګاډي پټلۍ جوړول دي چې د روسيې او ايران تر منځ به په ګډه عملي کېږي، د ايران د ټرانسپورټ وزير مهرداد بذرپوش د تړون د لاسليک پر مهال څرګنده کړه چې د رشت- استارا پټلۍ چې د شمال-سوېل دهلېز يوازنۍ پاتې برخه ده، د جوړېدو بهير يې په رسمي ډول پيل شوی او تمه ده چې دا پروژه به په راتلونکو درېو کلونو کې بشپړه شي(۱۱).

په ټوليز ډول ويلای شو چې روسيه او ايران په اوسني وخت کې په دوو مهمو اقتصادي او ټرانسپورټي پروژو کې ستراتيژيک شراکت لري، لومړۍ پروژه د شمال-سوېل ټرانزيټي دهلېز دی چې د روسيې، ايران او هند تر منځ يو مهم ټرانسپورټي او سوداګريز مسير ګڼل کېږي او دويمه پروژه د چابهار بندر پراختيا ده، په دې توګه ويلای شو روسيه او ايران اوسمهال په دوو لويو اقتصادي پروژو کې سره شريک دي چې يو د روسيې او ايران د شمال- سوېل ټرانزيټي دهلېز او بل د چابهار بندر پروژه ده، د شمال-سوېل دهلېز موخه دا ده چې د هند، ايران، روسيې او مرکزي آسيا تر منځ د توکو د لېږد رالېږد بهير ګړندی او اغېزمن کړي، دا دهلېز د بېړيو، اورګاډو او سړکونو له لارې د ټرانسپورټ اسانتياوې برابروي او تمه کېږي چې د سيمې هېوادونو تر منځ اقتصادي اړيکې او سوداګريز تعاملات نور هم پراخ کړي.

## پر افغانستان او اوکراين د روسيې او ايران د اړيکو اغېزې

د روسيې او ايران د اړيکو پر افغانستان او اوکراين د احتمالي اغېزو تحليل د ژورې څېړنې وړ موضوع ده، د افغانستان په اړه داسې ارزونه کېدای شي چې د روسيې او ايران د نږدېوالي په پايله کې دواړه هېوادونه کولای شي افغانستان سره

په سوداګریزو، انرژۍ او ټرانسپورټي برخو کې ګډې اقتصادي پروژې پیل کړي چې د دربواړو هېوادونو تر منځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا زمینه برابروي، له دې جملې څخه د چابهار بندر ځانګړی ستراتیژیک اهمیت لري، دغه بندر چې د ایران په مشرۍ او د هند په مالي ملاتړ جوړ شوی، د افغانستان لپاره د ټرانزیټ بدیله او ارزانه لار برابروي[۱۲].

اوسمهال چابهار د افغانستان لپاره د پاکستان د کراچۍ بندر په پرتله هم له سیاسي او هم له اقتصادي پلوه یو غوره انتخاب ګڼل کېږي، دا وضعیت د روسیې، ایران او افغانستان لپاره د متقابلو ګټو یو نوی فرصت رامنځته کوي چې کولای شي د سیمه ییزو همکاریو لپاره یو نوی څپرکی پرانېزي.

د چابهار بندر د روسیې لپاره هم ستراتیژیک اقتصادي اهمیت لري، د سوېلي آسیا او روسیې تر منځ د سوداګرۍ اوسنی مسیر چې د سویز کانال له لارې تر سره کېږي؛ لګښت او وخت ته په کتو د روسیې لپاره په لوړه بعیه تمامېږي، په همدې موخه روسیه هڅه کوي چې د سویز کانال پر ځای له چابهار بندر څخه د بدیلې لارې په توګه ګټه واخلي، تمه کېږي چې د چابهار له لارې به د روسیې لپاره د سوداګرۍ دا نوې لاره ارزانه، خوندي او اغېزمنه وي، په ټوله کې د چابهار اقتصادي دهلېز د هند، ایران، افغانستان او روسیې تر منځ د سیمه ییز اتصال یوه مهمه نمونه ده[۱۳].

نو په همدې اساس د یادو هېوادونو تر منځ نه یوازې د سوداګرۍ د پراختیا لامل ګرځي؛ بلکې اقتصادي همکارۍ، متقابلې پانګونې او ستراتیژیک باور ته هم لاره هواروي.

د اوکراین په قضیه کې د روسیې او ایران د دریځونو تحلیل د نړیوال سیاست د توازن په فهم کې مهم ځای لري، کله چې روسیې د ۲۰۲۲ز د فبرورۍ پر ۲۴مه پر اوکراین پوځي یرغل وکړ؛ ایران دغه اقدام د "ځانګړو عملیاتو" په توګه تعبیر کړ، د ایران له نظره دا برید د روسیې له اړخه د لوېدیځ د نفوذ د پراخېدو پر وړاندې د امنیتي اندېښنو د ځواب یوه بڼه وه، د ایران د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبدالهیان هغه مهال ټینګار وکړ چې ایران د جګړې د اوږدېدو مخالف دی او له متخاصمو خواو سره یې د وسلو مرسته رد کړه، نوموړي څرګنده کړه: "د غربي هېوادونو برعکس چې په میلیاردونو ډالر او وسلې یې اوکراین ته ورکړي، ایران هېڅ ډول وسلې د جګړې

لپاره کوم لوري ته نه دي ورکړي او موږ په دغه جګړه کې د هېڅ يوه لوري پلويتوب هم نه کوو او د اوکراين جګړې د غځېدو مخالف يو"[۱۴].

دا څرګندونې د ايران د رسمي سياست هغه هڅه منعکسوي چې غواړي ځان د جګړې له مستقيمې ښکېلتيا څخه لرې وساتي؛ خو ورته مهال د روسيې د امنيتي دريځونو د مشروعيت دفاع هم کوي، سره له دې چې ايران په رسمي ډول د روسيې له خوا پر اوکراين د نظامي يرغل ملاتړ نه دی کړی؛ خو ځينې شواهد ښيي چې دغه هېواد په نامستقيم ډول د روسيې ملاتړ کوي، له دې جملې څخه تر ټولو څرګنده بېلګه روسيې ته د ايران له خوا د بې پيلوټه الوتکو ورکړه ده چې د مسکو له لوري د اوکراين پر ضد کارېږي، د دغو توکو کارونه په عملي ډول د ايران او روسيې تر منځ د ستراتيژيکو همکاريو ژورتيا او د جګړې پر بهير مستقيم اغېز څرګندوي، په همدې اساس ويل کېږي چې د ايران او روسيې نږدې اړيکې د اوکراين لپاره منفي پايلې لري؛ ځکه چې د بې پيلوټه الوتکو د کارونې دوام نه يوازې د اوکراين زېربناو د لا ويجاړېدو لامل ګرځي؛ بلکې د اوکرايني وګړو لپاره هم د پراخو انساني او مالي زيانونو لامل ګرځي.

**پايله**

د روسيې او ايران تر منځ اړيکې پخوا ډېرې محدودې وې چې دا محدوديت د دواړو هېوادونو د ستراتيژيکو موخو، جغرافيايي موقعيتونو او تاريخي شرايطو له توپير څخه راوتلی و، د وخت په تېرېدو سره د دې اړيکو بڼه او لاملونه هم بدل شوي دي، د سړې جګړې پر مهال شوروي اتحاد او ايران له يو بله په سياسي او نظامي لحاظ لرې پاتې وو، ايران په هغه وخت کې د امريکا د متحده ايالاتو نږدې متحد و او د لوېديځ له امنيتي چوکاټ سره يې ژورې اړيکې درلودې، له همدې امله د شوروي اتحاد او ايران تر منځ همکاري محدوده پاتې شوه، د ايران اسلامي انقلاب له بريا وروسته چې په ايران کې اسلامي جمهوريت رامنځته شو؛ د ايران او لوېديځ تر منځ اړيکې ترينګلې شوې، ايران له متحده ايالاتو او لوېديځو هېوادونو څخه ځان لرې کړ چې دا وضعيت د روسيې لپاره يو نوی فرصت رامنځته کړ، له همدې امله روسيې له ايران سره د اقتصادي او امنيتي همکاريو د پراخولو هڅې پيل کړې چې په سيمه کې خپل نفوذ پراخ او د متقابلو ګټو پر بنسټ نوي ايتلافونه رامنځ ته کړي.

د روسيې او ايران تر منځ د نږدېوالي يو مهم عامل د غربي نړۍ له خوا پر دواړو هېوادونو اقتصادي او سياسي بنديزونه دي، دغو بنديزونو دواړه هېوادونه دې ته هڅولي چې له يو بل سره خپلې اړيکې پراخې کړي او د همکارۍ فضا رامنځته کړي چې د فشارونو پر وړاندې متقابل ملاتړ ولري، په همدې لړ کې د روسيې او ايران تر منځ ملګرتيا په وروستيو کلونو کې د پوځي همکاريو نوې بڼه غوره کړې ده، دواړو هېوادونو د وسلو او پوځي تجهيزاتو راکړې ورکړې ته دوام ورکړی چې له مخې يې ايران ته پوځي جټ الوتکې ورکړي او ايران روسيې ته خپلې بې پيلوټه الوتکې ورکړې دي، دا همکاري نه يوازې د دواړو هېوادونو پوځي ظرفيتونه پياوړي کوي؛ بلکې په سيمه ييزو او نړيوالو معادلو کې د دوی د نفوذ د پراخېدو سبب هم ګرځي.

په لنډ ډول د روسيې او ايران نږدې پوځي اړيکې د اوکراين د جګړې پر بهير منفي اغېز کولای شي، هر څومره چې دغه دوه هېوادونه خپلې نظامي همکارۍ پراخوي؛ په هماغه اندازه به روسيه د اوکراين په جګړه کې برلاسې مومي چې دا چاره به د اوکراين لپاره جګړه لا پسې پېچلې او ستونزمنه کړي؛ خو د افغانستان په قضيه کې اوسنيو شرايطو د روسيې او ايران تر منځ د يو ډول ستراتيژيک تفاهم زمينه برابره کړې ده، دواړه هېوادونه د افغانستان په ثبات کې ستراتيژيکه لېوالتيا لري؛ ځکه چې د افغانستان بې ثباتي کولای شي د سيمې پر نورو هېوادونو په ځانګړي ډول د مرکزي آسيا پر دولتونو مستقيمې منفي اغېزې وکړي، افغانستان د مرکزي آسيا لپاره د تګ راتګ او نفوذ مهمه دروازه ګڼل کېږي چې له جيوپوليټيک پلوه د روسيې لپاره اهميت لري، روسيه اندېښنه لري چې که افغانستان بې ثباته پاتې شي؛ نو ناامني به يې د منځنۍ آسيا هېوادونو ته وغځېږي او دغه سيمه به له امنيتي ننګونو سره مخامخ شي، داسې اندېښنه لري چې د افغانستان ناامني به د مرکزي آسيا هېوادونو ته هم وغځېږي او دغه سيمې به هم له ناامنۍ سره مخامخ شي؛ نو باثباته افغانستان د روسيې لپاره د اوږدمهاله سيمه ييز ثبات تضمين ګڼل کېږي، همدارنګه ايران چې له افغانستان سره اوږده پوله لري، د دغه هېواد د بې ثباتۍ له ناوړه پايلو سره مخامخېدای شي، له همدې امله تهران هم په افغانستان کې ثبات خپل امنيتي او ستراتيژيک هدف ګڼي، د دغو ګډو اندېښنو له مخې روسيه او ايران هڅه کوي چې د افغانستان په اړه يو ډول همغږه سيمه ييزه تګلاره غوره کړي چې د ګډو ګټو پر بنسټ د افغانستان د ثبات او پرمختګ لپاره همکاري وکړي.

څرنګه چې افغانستان د منځنۍ او سوېلي آسیا تر منځ د یوه ستراتیژیک پله او سیمه ییزو اړیکو د نښلولو د مهم دهلېز په توګه مطرح دی؛ نو روسیه او ایران دواړه هڅه کوي چې له دغه جغرافیايي موقعیته د خپلو اقتصادي او ستراتیژیکو اهدافو لپاره ګټه واخلي، د افغانستان د جیوپولیتیک موقعیت له مخې دا هېواد کولای شي د سوداګرۍ، ټرانزیټ او سیمه ییزو همکاریو په یوه مهم مرکز بدل شي، په دې لړ کې ایران په ځانګړې توګه هڅه کوي چې د چابهار بندر له لارې افغانستان ته بدیله او خوندي سوداګریزه لار پرانېزي چې د سیمې له نورو هېوادونو سره د اقتصادي تبادلو یوه اسانه او اغېزمنه زمینه برابره شي، دغه اقدام نه یوازې د ایران لپاره د اقتصادي نفوذ پراخولو وسیله ده؛ بلکې افغانستان ته هم د یو باثباته اقتصادي راتلونکي د جوړلو فرصت برابروي چې کولای شي هېواد له انزوا او اقتصادي انحصاره وباسي.

## وړاندیزونه

۱- د روسیې او ایران له نږدېوالي څخه افغانستان کولای شي ګټه پورته کړي، هغه داسې چې دواړه هېوادونه دې ته وهڅول شي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

۲- روسیه او ایران ښايي د افغانستان د تولیداتو لپاره ښه بازار جوړ شي.

۳- د روسیې، ایران او افغانستان تر منځ دې د کلتوري او ښوونیزو تبادلو زمینه برابره شي او همدارنګه ګډ ښوونیز پروګرامونه او نندارتونونه دې جوړ شي.

## مأخذونه


۱- ایران له روسیې سره هر اړخیزه ستراتیژیکه هوکړه لاسلیک کړه، بي بي سي، د نشر نېټه،۲۹مرغومی، ۱۴۰۳، لاسرسی:

https//www.bbc.com/Pashto/articles/c1kmm28gm[مراجعه۱۴۰۳/۱۱/۵].

۲- بسیا، حمیدالله "د ایران او روسیې نږدې کېدل او پر افغانستان یې اغېزې" کابل ټکی کام، د نشر نېټه، ۲/۸/۲۰۲۴ لاسرسی: http//kabull.com [ مراجعه ۱۴۰۳/۱۱/۴].

۳- ایران له روسیې پرمختللي جنګي جیټ الوتکې اخلي، دویچه وله، د نشر نېټه، ۱۴۰۱/۱۲/۲۱، لاسرسی:

https://dw.com.ps/iran-to-buy-su-35-fighter-jets-from-russia-iranian-broadcaster/a-64959701
[مراجعه ۱۴۰۳/۱۱/۴].

۴- ایران روسیې ته نوې بې پیلوټه الوتکې قاچاق کړي، دویچه وله، د نشر نېټه، ۲۱/۱۲/۱۴۰۱، لاسرسی: .Phttps://dw.com[مراجعه ۴/۱۱/۱۴۰۳].

۵- روسیه د ایران په همکاری د ډرونونو کارخانه جوړوي، بي بي سي، د نشر نېټه، ۲٦ جولای۲۰۲۲، لاسرسی:

]https//www.bbc.com.pashto/articies/pashto/articles/cpezv9483vy[

مراجعه ۵/۱۱/۱۴۰۳].

٦- الهه کولای، سمیه زنگینه، تاثیر جنگ اوکراین بر روابط ایران و روسیه، د نشر نېټه، ۲۱/۸/۱۴۰۲، لاسرسی: https://piaj.sbu.ac.ir/article-104385.html [ مراجعه ۱۲/۱۱/۱۴۰۳].

۷- بسیا، حمیدالله، د ایران او روسیې نږدې کېدل او پر افغانستان یې اغېزې، کابل ټکی کام، د نشر نېټه، ۴/۸/۲۰۲۴ لاسرسی: http//kabull.com [مراجعه ۴/۱۰/۱۴۰۳].

۸- ریل اقتصادی ایران و روسیه، دنیای اقتصاد، د نشر نېټه، ۱۴۰۳/۱۰/۲۷، لاسرسی، www.donya – e- eqtasad.com، [مراجعه ۸/۱۰/۱۴۰۳].

۹- سلیمان، محمدسلیم، د بریکس سازمان لپاره نوي ننګونې، کابل ټکی کام، د نشر نېټه، ۲۰۲۴/ ٦/۴، لاسرسی: http//kabull.com [مراجعه ۸/۱۱/۱۴۰۳].

۱۰- ترین، عبدارحیم ″روسیه، ترکیه او ایران″ نن ټکی آسیا، د نشر نېټه، جولای۲۰، ۲۰۲۲، لاسرسی: https//www.nunn.asia/204546، [ مراجعه ٦/۱۱/۱۴۰۳].

۱۱- ایران او روسیې د یوې سترې ټرانسپورټي شبکې د جوړولو تړون لاسلیک کړ، د نشر نېټه ۲۷/۱۴۰۲۳، لاسرسی: https// www .pashtovoa.com/a/ -Iran- Russia- ink- deal- to-complete[ مراجعه ۸/۱۱/۱۴۰۳].

۱۲- بسیا، حمیدالله، د ایران او روسیې نږدې کېدل او پر افغانستان یې اغېزې، کابل ټکی کام، د نشر نېټه، ۲/۸/۲۰۲۴ لاسرسی: http//kabull.com [مراجعه ٦/۱۱/۱۴۰۳].

۱۳- دهلیز شمال- جنوب، چابهار، نقطه اتصال دهلیز شمال و جنوب، د نشر نېټه، ۱۱/۹/ ۱۴۰۳،لاسرسی: https://www.cfzo.ir/ns/3234 [مراجعه ۲۹/۱۱/۱۴۰۳].

۱۴- الهه کولای، سمیه زنگینه، تاثیر جنگ اوکراین بر روابط ایران و روسیه، د نشر نېټه، ۲۱/۸/۱۴۰۲ لاسرسی:https://piaj.sbu.ac.ir/article-104385.html [ مراجعه ۱۲/۱۱/۱۴۰۳]

څېړنوال عبدالخالق فردوس

# د زنګزور دهلېز؛ د سیمې هېوادونو ګټې او اندېښنې

# The Zangezor Corridor: Benefits and Concerns of the Regional Countries

Assoc. Prof. Abdulkhaliq Ferdaus

**Abstract**

In the South Caucasus, the Zangezur Corridor connects Azerbaijan to its autonomous republic, Nakhchivan, which does not have a direct land border with central Azerbaijan. This corridor holds geopolitical and transit importance not only for Azerbaijan but also for other countries in the region.

This article focuses on the interests and concerns of the countries linked with the Zangezur Corridor, particularly Turkey, Azerbaijan, Armenia, Iran, and Russia.

Using a descriptive-analytical research method, the article examines the political, economic, and geopolitical impacts of this corridor on the involved countries.

The findings indicate that the corridor creates significant opportunities for Turkey and Azerbaijan, and to some extent for Russia, in areas such as trade, energy transfer, and regional connectivity. For Armenia, it offers benefits in terms of security and the development of regional relations. However, a major concern for Armenia is that the construction of this corridor would result in the loss of its land border with Iran and diminished control over the Syunik region. Additionally, the construction of the corridor reduces Iran's geopolitical importance and threatens its transit significance.

In conclusion, the article emphasizes that diplomatic efforts are essential to address these concerns while maximizing the opportunities provided by the corridor to promote regional stability and economic cooperation in the South Caucasus.

**لنډيز**

په جنوبي قفقاز کې د زنګزور دهلېز اذربایجان له خپل کورواکه جمهوریت نخچوان سره چې ګډه ځمکنۍ پوله ورسره نه لري؛ نښلوي، دغه دهلېز نه یوازې اذربایجان؛ بلکې د سیمې نورو هېوادونو ته هم جیوپولیټیک او ټرانزیټي اهمیت لري.

په دې مقاله کې د زنګزور دهلېز پورې تړلو هېوادونو په ځانګړې توګه د ترکیې، اذربایجان، ارمنستان، ایران او روسیې ګټې او اندېښنې ارزول شوې دي.

د څېړنې د توصیفي ـ تحلیلي مېتود پر اساس پر ښکېلو اړخونو د دې دهلېز سیاسي، اقتصادي او جیوپولېټیکي اغېزې روښانه شوې دي.

د مقالې موندنې روښانوي چې دغه دهلېز د ترکیې او اذربایجان او ان تر یوه بریده د روسیې لپاره د سوداګرۍ، د انرژۍ د لېږد او د سیمه ییزې تړلتیا په برخه کې مهم فرصتونه رامنځ ته کوي، د ارمنستان لپاره د امنیت او سیمه ییزو اړیکو د پراختیا په برخه کې ګټې او له ایران سره د ځمکنۍ پولې د تړلو او د ارمنستان د سیونیک ښار د واکمنۍ د له منځه تللو په برخه کې اندېښنې رامنځ ته کړې دي او دا چې د دغه دهلېز په جوړېدو د ایران جیوپولټیک ارزښت راکم او پر اساس یې کېدای شي دغه هېواد خپل ټرانزیټي اهمیت له لاسه ورکړي.

په پای کې د یاد دهلېز د جوړېدو لپاره باید ډیپلوماټیکې هڅې پراخې شي چې دغه اندېښنې حل او په جوړېدو یې د جنوبي قفقاز د سیمه ییز ثبات او اقتصادي همکاریو لپاره فرصتونه لا زیات شي.

**سریزه**

د زنګزور دهلېز د ارمنستان د سیونیک ښار په زنګزور سیمه کې پروت دی او ۴۳ کیلو متره اوږدوالی لري[۱]، د زنګزور سیمه په ۱۹۲۳ز. د شوروي اتحاد پرمهال له اذربایجان څخه جلا او ارمنستان پورې وتړل شوه[۲]، پر دې اساس اذربایجان له نخچوان کورواکه جمهوریت سره مستقیمه ځمکنۍ تړلتیا له منځه ولاړه، کله چې د ناګورنو قره باغ د سیمې پر سر چې دغه سیمه هم د اذربایجان خاوره وه او د شوروي اتحاد له لوري ارمنستان ته ورکړل شوې وه، د اذربایجان او ارمنستان دویمه جګړه

په ۲۰۲۰ ز. د سپټمبر پر ۲۷ مه ترسره شوه، اذربایجان وکولای شول چې د بیاځلي لپاره یې په خپلې ولکې کې راولي.[۳]

دغه جګړه د دواړو لوریو ترمنځ د روسیې په منځګړتوب پای ته ورسېده، د جګړې د پای ته رسېدو د سند په ۹ ماده کې د ټولو ترل شوو ټرانزیټي لارو چې د زنګزور دهلېز هم په کې شاملېږي؛ دا ډول صراحت راغلی دی: په سیمه کې به ټولې اقتصادي او ټرانزېټي لارې بېرته پرانېستل کېږي، د ارمنستان جمهوریت باید د آذربایجان جمهوریت د لوېدیځو سیمو او د نخچوان کورواکه جمهوریت ترمنځ د ټرانسپورټي اړیکو خوندیتوب تضمینوي، چې د دواړو خواوو اوسېدونکي، وسایط او کارګو په ازادانه توګه تګ او راتګ وکړي.[٤]

دا چې اوسمهال اذربایجان هڅه کوي د پورتنۍ مادې له احکامو څخه په ګټه اخیستنې دغه دهلېز جوړ او په اسانه او ارزانه توګه خپل کورواکه جمهوریت (نخچوان) ته مستقیمه لاره پیدا کړي چې دغه هېواد ته خورا ګټې لري؛ خو په ورته مهال د یاد دهلېز جوړېدل د یو شمېر هېوادونو اندېښنې هم را پارولي دي، افغانستان په وچه کې پروت هېواد دی، اړتیا لري چې نړیوالې سوداګرۍ لپاره بېلابېلې لارې ولري، که چېرې دغه دهلیز جوړ شي؛ نو افغانستان کولای شي د مرکزي اسیا هېوادونو له لارې او له دې دهلیز څخه په ګټه اخیستنې له ترکیې او له هغه ځایه نورې نړۍ سره سوداګریزه راکړه ورکړه وکړي، دا چې په سیمه کې د نویو دهلیزونو جوړېدل پر یو شمېر هېوادونو مثبتې او د یو شمېر نورو لپاره منفي اغېزې کوي؛ نو اړینه ده چې په بېلابېله توګه وڅېړل شي.

د دې **څېړنې موخه** د سیمې هېوادونو لپاره د زنګزور دهلېز د ګټو او زیانونو روښانول دي.

د **څېړنې پوښتنه** په دې ډول مطرح شوې چې د زنګزور دهلېز جوړېدل د کومو لاملونو پر اساس د یو شمېر هېوادونو په ګټه او د یو شمېر نورو لپاره اندېښنې رامنځ ته کړي؟

د څېړنې د مخه داسې فرض شوي چې د قفقاز سیمه کې د زنګزور دهلېز جوړېدل به په سیمه کې د ثبات او اقتصادي پیاوړتیا لامل شي او له ګټو به یې د سیمې ټول هېوادونه برخمن شي.

د **څېړنې ډول** کتابتوني او اړوند مواد د څېړنې د توصیفي ـ تحلیلي مېتود پر اساس تحلیل شوي دي.

## د ترکیې او اذربایجان لپاره د زنګزور دهلیز د جوړېدو ګټې

د زنګزور دهلېز د قفقاز په سیمه کې د مهمې جیوپولټیکي پروژې په توګه د سیمې د هېوادونو په ځانګړې توګه د ترکیې او اذربایجان لپاره د پام وړ موضوع ګرځېدلې ده، دا وړاندیز شوی دهلېز نه یوازې د اذربایجان د نخچوان کورواکه جمهوریت سره په مستقیمه توګه نښلوي؛ بلکې په سیمه کې د نفوذ والو هېوادونو د واک د بلانس په برخه کې مهم نقش لري، یاده موضوع د اذربایجان او ارمنستان له جګړې وروسته د سولې د مذاکراتو په برخه کې له جنجالي او حساسو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي؛ ځکه چې په اړه یې په سیمه کې ښکېل هېوادونه (ارمنستان، اذربایجان، ترکیه، ایران او روسیه) جلا موخې او اندېښنې لري.

د زنګزور دهلېز په سیمه ییزه کچه د ترکیې او اذربایجان لپاره له څو اړخونو اقتصادي، سیاسي او فرهنګي ګټې لري، د دغه دهلېز په جوړېدو سره د دواړو هېوادونو اړیکې پراخېږي، په سیمه کې یې د ستراتیژیک نفوذ پراختیا ته لار هوارېږي، پر اساس یې سیمه ییز ثبات رامنځ ته کېږي، د دوه اړخیزې سوداګرۍ کچه یې لوړېږي، د سیمه ییزو او نړیوالې سوداګرۍ لاره لنډوي، د انرژۍ د لېږد په برخه کې مهم نقش ترسره کوي او د زېربناو د جوړېدو په برخه کې د دواړو هېوادونو لپاره بې شمېره فرصتونه برابروي، اړینه ده چې په بېلابېله توګه ترې بحث وشي.

## ۱ـ د ترکیې او اذربایجان د دوه اړخیزو اړیکو پراختیا

زنګزور دهلېز د ترکیې او اذربایجان دوه اړخیزې اړیکې پراخوي. د دې دهلېز جوړول د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، سیاسي او ټرانسپورټي اړیکو د لا پراختیا لپاره یوه مهمه وسیله ده. د دغه دهلېز پر اساس په لاندې برخو کې د دواړو هېوادونو اړیکې پیاوړې کېږي:

**أ- اقتصادي اړیکې**: د زنګزور دهلېز له لارې، ترکیه او اذربایجان کولی شي د خپلو سوداګریزو اړیکو کچه لوړه کړي، دغه دهلېز د اذربایجان لپاره په ځانګړې توګه د انرژۍ د سرچینو (تېل او ګاز) لپاره مهمه لاره برابروي او ترکیه به د دې منابعو د لېږد لپاره یو

مهم ټرانزیټي مرکز شي. همدارنګه، د دې دهلېز جوړېدو سره، ترکیه کولی شي د مرکزي اسیا له ترک نژاده هېوادونو سره اقتصادي اړیکې لا پیاوړې کړي، چې دا به اذربایجان ته د ټرانزېټي محصول په ترلاسه کولو کې هم ګټه ورسوي.

**ب- ټرانسپورټ او لوجستیک**: زنګزور دهلېز د دواړو هېوادونو لپاره د ټرانسپورټي او لوجستیکي همکاریو پراختیا ته لاره پرانېزي، د دې دهلېز له جوړېدو سره ترکیه او اذربایجان کولای شي خپلې سوداګریزې لارې په مستقیمه توګه د چین، مرکزي اسیا او منځني ختیځ هېوادونو ته د مستقیم وصلوونکو په توګه وپېژني چې په پایله کې به د توکو تګ راتګ اسانه او ګړندی شي، له دې سره به پر دغه دهلېز سوداګریزه راکړه ورکړه زیاته او د دواړو هېوادونو د اقتصاد په وده به مثبتې اغېزې وکړي.

چین هم د دې دهلېز جوړېدلو ته لېواله دی، چین اوسمهال له ګرجستان څخه د جنوبي قفقاز او اروپا د نښلوونکي په توګه ګټه پورته کوي، که چېرې دغه دهلېز جوړ شي؛ نو دا به په جنوبي قفقاز کې د چین لپاره یوه بدیله لاره هم وي، د ناګورنو قره باغ له وروستۍ جګړې وروسته چې په ۲۰۲۰ز کې ترسره شوه؛ په اذربایجان کې د چین سفیر Guo Min ګومین وویل چې زنګزور دهلېز د چین د "یو کمربند یوه لار" ټرانسپورټي پروژه کې به ارزښتناکه نقش ولري[5].

**ج- سیاسي همکاري**: د زنګزور دهلېز له جوړولو سره ترکیه او اذربایجان نه یوازې په اقتصادي برخه کې؛ بلکې په سیاسي اړخ کې هم یو بل سره نږدې کېږي. د دې دهلېز له لارې دواړه هېوادونه د خپلو امنیتي او سټراټیژیکو ګټو په ساتنه کې یو له بل سره همکاري کوي. ترکیه د اذربایجان ستراتیژیک ملګری هېواد دی، دغه دهلېز به د دواړو هېوادونو ترمنځ ملګرتیا نوره هم پیاوړې کړي او د سیمې په سیاسي معادلو کې به د دې هېواد نقش پیاوړی کړي.

**د- کلتوري اړیکې**: د زنګزور دهلېز له جوړېدو یوه موخه داده چې ترکي ژبه پال هېوادونه له جغرافیوي اړخه سره ونښلوي.[6] دا چې ترکیه او اذربایجان دواړه دغه ځانګړنه لري؛ نو دغه دهلېز به د دواړو هېوادونو ترمنځ د کلتوري اړیکو د پراختیا لپاره موجوده فرصت نور هم پیاوړی کړي او دغه دواړه هېوادونه به وکولای شي د یو بل د کلتور، ژبې او دودونو په اړه خپله پوهه زیاته کړي چې دا به د دوی ترمنځ د

همکارۍ روحیه لا پیاوړې کړي او په پای کې به د دیني، کلتوري او تعلیمي تبادلو لپاره یو نوی فرصت رامنځ ته کړي.

## ۲ـ په سیمه کې د ستراتیژیک نفوذ پراختیا

زنگزور دهلېز د ترکیې او اذربایجان لپاره د ستراتیژیک اهمیت یوه کلیدي پروژه ده چې نه یوازې د دوی دوه اړخیزو اړیکو پراختیا ته وده ورکوي؛ بلکې د ټولې ترک نژاده نړۍ لپاره یوه حیاتي، ټرانسپورټي او اقتصادي لاره هم گڼل کېږي. د دغه دهلېز له جوړېدو سره ترکیه او اذربایجان کولی شي خپلې اړیکې نه یوازې د خپلو گاونډیو هېوادونو لکه ارمنستان، بلکې د مرکزي اسیا،چین، منځني ختیځ او حتی اروپا سره هم لا پراخې کړي.

د زنگزور دهلېز یوه مهمه ځانگړتیا دا ده چې ترکیې او اذربایجان د اقتصادي او سیاسي اړیکو د لا پراختیا زمینه برابروي. دا دهلېز د هغو هېوادونو لپاره د اقتصادي راکړې ورکړې یو مستقیم او اغېزمنه لاره برابروي چې د تاریخ په اوږدو کې یې کلتوري، ژبني او تاریخي اړیکې مشترکې دي. د یاد دهلېز له لارې، ترکیه او اذربایجان نه یوازې د انرژۍ او سوداگرۍ په برخه کې گټه ترلاسه کوي؛ بلکې په "ترک نړۍ" کې خپل ټولنیز او کلتوري پیوندونه پیاوړي کوي. په دې اړه د اذربایجان ولسمشر الهام علي اف د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردغان سره په یوه گډ خبري کنفرانس کې داسې وویل: ترکیه او آذربایجان دواړه به د زنگزور دهلېز د د رامنځ ته کېدو لپاره اړین گامونه پورته کړي چې ټوله ترک نژاده نړۍ سره متحده کړي.[۷]

له سیاسي اړخه د زنگزور دهلېز جوړول د ترکیې او اذربایجان لپاره یو ستراتیژیک گام دی، چې له یوې خوا به د دوی سیاسي نفوذ په قفقاز او مرکزي اسیا کې پراخ کړي، او له بلې خوا به په سیمه کې له نورو سترو قدرتونو لکه روسیې او ایران سره د سیالۍ په برخه کې نوي فرصتونه رامنځ ته کړي. د دغه دهلېز له لارې دا دواړه هېوادونه کولای شي خپل اقتصادي او سیاسي پرمختگ ته لاره هواره کړي او د نړیوالو معادلو په اړه خپل موقعیت پیاوړی کړي.

ترکیه او روسیه په مرکزي اسیا او قفقاز سیمه کې د نفوذ د پراختیا په برخه کې یو له بله سره سیالۍ لري، روسیه د شوروی اتحاد را په دې خوا په سیمه کې

تاریخي نفوذ لري او د ساتنې هلې ځلې یې کوي او ترکیه د ژبني، فرهنگي او دیني مشترکاتو پر اساس د دې سیمې له هېوادونو سره د اړیکو د پیاوړتیا او ژور نفوذ د ترلاسه کولو هڅه کوي، نو ترکیه د دې دهلیز له لارې کولای شي د مرکزي اسیا له ترک نژاده هېوادونو سره اقتصادي او سیاسي اړیکې نورې هم پیاوړې کړي، د مرکزي اسیا طبیعي منابع لکه تېلو، گازو او کانونو نه یوازې د دغه هېوادونو لپاره؛ بلکې د ترکیې او اذربایجان لپاره هم یو ستر اقتصادي فرصت گڼل کېږي.

زنگزور دهلېز کولی شي د دغو منابعو د لېږد او سوداگرۍ په برخه کې اسانتیاوې لا زیاتې کړي، په دې توگه به د دغو هېوادونو ترمنځ سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ـ فرهنگي اړیکو کچه لوړه شي او دغه دهلېز به نه یوازې د یوې ټرانسپورتي پروژې؛ بلکې د ترکیې او اذربایجان لپاره د جیوپولیټیکي، اقتصادي او کلتوري اړیکو د پراختیا یوه مهمه وسیله وگرځي چې کولی شي د دواړو هېوادونو د سیمه ییزو او نړیوالو موخو لپاره نوي فرصتونه رامنځ ته کړي.

## ۳ـ ترکیې او اذربایجان ته د نړیوالو د پاملرنې زیاتوالی

د زنگزور دهلېز له جوړېدو وروسته، د لاندې دلایلو پر بنسټ به ترکیه او اذربایجان ته په نړیواله کچه پاملرنه زیاته شي:

**أ- جیوپولیټیک موقعیت**: د زنگزور دهلېز د جوړېدو له امله په سیمه کې د ترکیې او اذربایجان جیوپولیټیک اهمیت پراخېږي؛ ځکه چې دا دهلېز د هغو سیمو له لارې تېرېږي چې د نړیوالو لویو ځواکونو لکه روسیې، چین او امریکامتحده ایالاتو لپاره سټراټیژیک اهمیت لري. ترکیه او اذربایجان به د دې دهلېز له لارې نه یوازې د مرکزي اسیا؛ بلکې د اروپا او منځنی ختیځ ترمنځ د ټرانسپورټ او سوداگرۍ یوه حیاتي برخه شي؛ نو ځکه د نورو هېوادونو پاملرنه جلبوي.

**ب- د انرژۍ د لېږد اسانتیا**: د زنگزور دهلېز له جوړېدو سره ترکیه او اذربایجان به د انرژۍ د لېږد په برخه کې د نړیوالو پام ځانته راجلب کړي. له یوې خوا اذربایجان د تېلو او گازو لویې سرچینې لري او له بلې خوا ترکیه د دې سرچینو د ټرانسپورټ لپاره مهم ټرانزیټي مرکز دی. د دې دهلېز له لارې ترکیه او اذربایجان کولی شي د انرژۍ نړیوالو بازارونو ته د نوې او گړندۍ لارې پر اساس لاسرسی پیدا کړي چې دا به له یوې خوا له

اذربایجان سربېره د مرکزي اسیا د انرژۍ د اسانه او ارزانه لېږد لامل شي او له بلې خوا به د دغو دواړو هېوادونو نړیوال اقتصادي اهمیت نور هم لوړ کړي.

**ج- د "ترک نړۍ" یووالي ته وده**: د زنگزور دهلېز په جوړېدو سره ترکیه او اذربایجان نه یوازې خپل دوه اړخیزه اړیکې پیاوړې کوي؛ بلکې د "ترک نړۍ" د یووالي په برخه کې یو مهم اقدام ترسره کوي. دا دهلېز به د ترک نژاده هېوادونو لکه قزاقستان، ازبکستان، ترکمنستان، او قرغزستان ترمنځ د اړیکو د پراختیا لپاره فرصت رامنځته کړي. څرنگه چې ترک نژاده هېوادونه یو واحد اقتصادي، کلتوري او ان د سیاسي بلاک جوړولو هڅې کوي؛ نو له نړیوالو لویو قدرتونو سره د پاملرنې جلبولو لپاره د دغو هېوادونو د ظرفیتونو پراختیا لاملېږي.

**د- د نړیوالو پانگوالو پام اړول**: د زنگزور دهلېز له جوړېدو سره به بین المللي شرکتونه او پانگوال په دې سیمه کې  د نوو سوداگریزو فرصتونو په اړه فکر وکړي. پانگوال به په دې سیمه کې د نوو ټرانسپورټي او د انرژۍ لېږد نورو پروژو په برخه کې پانگونه وکړي چې د ترکیې او اذربایجان لپاره د اقتصادي پرمختگ یو مهم فرصت گڼل کېږي. له دې سره ترکیه او اذربایجان به د نړیوالې پانگونې او اقتصادي همکارۍ لپاره مهمو هېوادونو په توگه وشمېرل شي.

## ۴ـ د سیمه ییز ثبات رامنځ ته کېدل

زنگزور دهلېز د سیمه ییز ثبات لپاره یو مهم عامل بلل کېږي؛ ځکه چې دا پروژه د څو اړخیزو همکاریو او گډو گټو پر بنسټ ترسره کېږي. د دغه دهلېز جوړېدل نه یوازې د اقتصادي او سیاسي اړیکو په پراختیا کې مرسته کوي؛ بلکې د سیمه ییز امنیت د پیاوړتیا او د سیمې هېوادونو ترمنځ د همغږۍ د رامنځته کېدو په برخه کې هم مثبت تاثیرات لري؛ ځکه چې د دغې پروژې له بشپړولو وروسته په سیمه کې اذربایجان او ترکیې سره د ارمنستان اړیکې رغېږي او هغه لامل چې د سیمې امنیت یې له گواښ سره مخ کړی؛ پای مومي او د دې هېوادونو ترمنځ د جگړې فضا پر دوستۍ بدلېږي.

## ۵ـ د زېربناو او کاري فرصتونو رامنځ ته کېدل

د زنگزور دهلېز د جوړېدو له امله ترکیه او اذربایجان د زیربناو په جوړولو کې یو لړ گټې او فرصتونه ترلاسه کوي چې په لاندې توگه ترې یادونه کوو:

**أ- د ټرانسپورټي زيربناو پراختيا:** زنګزور دهلېز به د ترکیې او اذربایجان د ترانسپورټي زيربناو په پراختيا کې لوی نقش ولري. د دغه دهلېز له لارې به نوي سړکونه او د رېل ګاډو شبکې جوړې شي چې نه یوازې د توکو او مسافرو د لېږد په برخه کې به اسانتیاوې رامنځ ته کړي؛ بلکې په دواړو هېوادونو کې به د زيربناو سکتور پیاوړی کړي.

**ب- د انرژۍ زيربناو پراختيا:** د زنګزور دهلېز په جوړېدو سره د انرژۍ لېږد لپاره نوې لارې او شبکه جوړېږي. ترکیه او اذربایجان د انرژۍ په برخه کې د مهمو منابعو لکه تېل او ګازو صادرونکي هېوادونه دي. د زنګزور دهلېز له لارې به د دې منابعو د لېږد لپاره نوې زېربناوې جوړې شي، لکه د ګاز او تېلو د لېږد او ټرانسپورټ لپاره ځانګړې پایپ لاینونه. دغه زېربناوې د اقتصادي فعالیتونو پراختيا ته وده ورکوي او د انرژۍ نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره مهمې وسیلې دي.

**ج- د سوداګریز مرکزونو پراختيا:** د زنګزور دهلېز له جوړېدو سره به ترکیه او اذربایجان د نوو سوداګریزو مرکزونو جوړولو ته اړتیا ولري. دا مرکزونه د لوجستیکي فعالیتونو، مالونو زېرمه کولو او د نړیوالو تجارتونو لپاره د مناسب ځای په توګه کار کوي. د دې مرکزونو جوړول د زېربناو د پراختيا لپاره یو فرصت بلل کیږي چې د اقتصادي همکارۍ پراختيا ته لاره برابروي. ترکیه او اذربایجان به د دې سوداګریزو مرکزونو له لارې د نړۍ له مختلفو برخو سره خپلې اړیکې نږدې کړي.

**د- د ټکنالوژۍ او نوښت زيربناو ته وده:** د زنګزور دهلېز د جوړېدو له امله ترکیه او اذربایجان نه یوازې په فزیکي زيربناو کې پراختيا کوي، بلکه د ټکنالوژۍ او نوښت په برخه کې هم پرمختګ کوي. د دې زېربناو د جوړولو پروسې د نوو ټکنالوژیو په کارونې سره ترسره کېږي چې د دې هېوادونو په صنعتونو کې نوښت راولي. دا ټکنالوژیکي پرمختګونه به د تولید په برخو کې زیاتوالی راولي او د زيربناو د جوړولو لپاره د نوو مهارتونو او منابعو پراختيا ته زمینه برابروي.

**هـ- د کاري فرصتونو رامنځ ته کېدل:** د زنګزور دهلېز په جوړېدو سره د زيربناو په پراختيا کې د لویو ساختماني پروژو اړتیا پیدا کېږي. ترکیه او اذربایجان به د دغو پروژو له لارې د کار نوي فرصتونه رامنځته کړي، چې په نتیجه کې به د دغو

هېوادونو له اقتصادي پرمختګ سره مرسته وکړي. د ساختماني پروژو له لارې د کارګرانو، انجنیرانو او د نورو مسلکي کسانو لپاره د نوو فرصتونو په منځته راتګ سره اقتصادي وده زیاتېږي.

## د ارمنستان لپاره د زنګزور دهلیز د جوړېدو ګټې او اندېښنې

ترکیه او اذربایجان د ارمنستان دوه ګاونډي هېوادونه دي او د قره باغ شخړې پر اساس یې له دغو دواړو ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې ترینګلې وې،که دغه دهلیز جوړ شي؛ نو نه یوازې داچې د ارمنستان سیاسي اړیکې به له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره ورغېږي، بلکې ټرانسپورټي اړیکې به یې پراخې شي، له ترکیې او اذربایجان سره به د اړیکو له جوړېدو وروسته د دغه هېواد د سیمه ییزې همکارۍ پراختیا ته فرصت برابر شي، د ترکیې او اذربایجان له لارې به له نورو نړۍ سره اقتصادي اړیکې پیل کړي، هغه لګښتونه یې چې له پوځي او امنیتي اړخه له دغو هېوادونو سره د سیالۍ لپاره ترسره کول، له منځه به ولاړ شي چې په دې سره به د دغه هېواد سیاسي ثبات او امنیتي وضعیت ښه والی ومومي او په پای کې به د قفقاز په سیمه کې د یوه مهم لوبغاړي په توګه له خپل جغرافیایي موقعیت څخه په ښه توګه ګټه ترلاسه کړي؛ خو له دې ښېګڼو سربېره یو شمېر ارمنیان فکر کوي چې د دې پروژې پلي کېدل به ارمنستان ته جیوپولېټیکي خنډونه پېښ کړي او د سیونیک پر سیمه به د دغه هېواد حاکمیت کمزوری کړي[٨].

د دغه نظر خاوندانو اندېښنې هغه مهال زیاتې شوي چې اذري او ترکي رسنۍ د ارمنستان په سیونیک ولایت د ګویچه ـ زنګزور جمهوریت د جوړېدو لپاره لابې کوي او ترکي رسنۍ ورسره د ترک کلمه هم اضافه کوي او د ګویچه زنګزور ترک جمهوریت په نوم یې مطرح کوي.[٩]

که څه هم دا راپورونه رسمي بڼه نه لري؛ خو کېدای شي پاروونکي وګڼل شي او هم داسې ویلای شو چې دا پروژه پر ارمنستان د سیاسي فشار د راوستلو په موخه د کارولو وړتیا لري چې د زنګزور دهلیز د پرانېستلو لپاره زمېنه برابره کړي.

ارمنستان دا اندېښنه هم لري چې که دغه دهلیز جوړ شي؛ نو ارمنستان به له ایران سره خپل ۴۰ کیلو متره پوله له لاسه ورکړي او له ایران څخه ارمنستان ته د ګازو د لېږد

په برخه کې به دغه هېواد ته ستونزې وزېږوي، دغه اندېښنې هغه مهال لا زیاتې شوې چې د اذربایجان ولسمشر الهام علي اوف وویل چې د زنگزرو کریډور رامنځ ته کول زموږ تاریخي، ملي او راتلونکې ګټې تېنګوي، که ارمنستان وغواړي یاونه غواړي موږ به دغه کریډور رامنځ ته کړو.[۱۰]

د ارمنیانو له دریځ او د دواړو لوریو ترمنځ د اوربند د هوکړه لیک له احکامو داسې ښکاري چې ارمنستان د اذربایجان د مرکزي حکومت او نخچوان کورواکه جمهوریت ترمنځ د ټرانزېټي لارو د بیا فعاله کېدو په اړه موافق دي؛ خو ترکیه او اذربایجان د بېلابیلو فشار الو پر اساس هڅه کوي چې دغه هېواد دې ته قانع کړي چې دغه سیمه کې د زنگزور دهلېز جوړ او حاکمیت یې هم اذربایجان ته وسپارل شي.

## د ایران لپاره د زنگزور دهلیز د جوړېدو اندېښنې

د زنگزور د احتمالي دهلېز پروژه د ایران لپاره له جیوپولیټیک او اقتصادي اړخونو له امله ژورې ستراتېژیکې اندیښنې راپورته کړې دي. ایراني چارواکي په دې باور دي چې دا نوښت چې د اذربایجان او ترکیې په همکارۍ او د امریکا متحده ایالاتو او اروپایي اتحادیې په ملاتړ پرمخ وړل کېږي، د دې لپاره طرحه شوی چې ترکیې ته له مرکزي آسیا سره یو بې خنډه او د مستقیم اتصال فرصت برابر کړي او په پایله کې به د جنوبي قفقاز په سیمه کې د ایران نفوذ محدود، سیاسي او اقتصادي دریځ کمزوری شي، په تهران کې د بهرنیو او سټراټیژیکو اړیکو شورا چې مشري یې د ایران پخوانی د بهرنیو چارو وزارت وزیر کمال خرازي کوي؛ اندېښنه څرګنده کړې چې د زنگزور دهلېز پرانېستل کېدای شي اذربایجان، اسراییل او ترکیې ته اجازه ورکړي چې د ایران په شمالي اذري مېشته سیمو کې بې ثباتي رامنځ ته کړي.[۱۱]

په ایراني علمي او سیاسي بحثونو کې دا پروژه د پان ترکېزم د پراختیا په چوکاټ کې ارزول کېږي چې د ناټو د غړي (ترکیې) په ملاتړ د سیمې د ستراتیژیک بدلون استازیتوب کوي. له دې امله، تهران دا پروژه د خپل هېواد د ملي امنیت او سیمه‌ییز نفوذ لپاره یو جدي ګواښ ګڼي. په ځانګړي ډول دا دهلېز به د ترکیې لپاره د ایران له خاروې څخه په ګټې نه اخیستلو له مرکزي اسیا سره مستقیمه او

چټکه سوداګریزه لاره برابره کړي او له امله به یې د ایران د ټرانزېټي لارې اهمیت کم شي؛ ځکه چې د زنګزور لاره لنډه ده.[۱۲]

د ایران مذهبي مشرتابه په ځانګړي ډول له ارمنستان سره د تاریخي پولې د ساتنې په اړه خپلې اندېښنې ښکاره کړې دي. ایت الله خامنه یي د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردغان سره په لیدنه کې ټینګار وکړ چې ایران به هېڅکله اجازه ورنه کړي چې د ایران او ارمنستان ترمنځ تاریخي پوله چې د زرګونو کلونو تاریخ لري؛ وتړل شي.[۱۳]

دا په دې دلالت کوي چې هر هغه هڅه چې د دې سرحد جغرافیه بدلوي د ایران لپاره د منلو وړ نه ده، خو یو ټکی د یادونې وړ دی چې ارمنستان د خپلې خاورې واک لري، که دغه هېواد په خپله خوښه وغواړي چې دغه دهلېز رامنځته او ان تر دې چې حاکمیت یې هم اذربایجان ته وسپارل شي؛ نو په دې صورت کې د ایران ګواښونه د دهلېز د جوړېدو د مخنیوي په برخه کې اغېزې نه کوي.

له اقتصادي پلوه؛ د دې دهلېز جوړېدل به د ایران د ګازو د صادراتو پر اهمیت منفي اغېز وکړي؛ ځکه چې اذربایجان به د نخچوان سیمې ته په خپله ګاز ورکړي، نو له دې امله د ایران د اقتصاد لپاره د پام وړ زیان ګڼل کېږي. سربېره پر دې داسې اندېښنه شته چې دغه دهلېز د بهرنیو ځواکونو تر څارنې لاندې جوړېږي؛ که چېرې پر دې دهلیز بهرني ځواکونه د کنټرول او څارنې واک ترلاسه کړي؛ نو دا به د ایران د مواصلاتي خپلواکۍ نقض وګڼل شي؛ ځکه د ایران او ارمنستان اوسېدونکي به اړ وي چې د تګ راتګ لپاره د دربمو هېوادونو له څارنې لاندې لاره وکاروي. په پایله کې؛ د دې دهلېز پر وړاندې د ایران ژورې اندېښنې نه یوازې د اقتصادي او جیوپولیټیک اغېزو له کبله دي، بلکې له دې امله هم دي چې د سیمې د ستراتیژیک وضعیت د بدلون او د ایران د نفوذ د محدودېدو په اړه شته احتمالي ګواښونه زیاتوي.

## د روسیې لپاره د زنګزور دهلیز ګټې او اندېښنې

د روسیې ـ اوکراین جګړې او پر روسیې د لوېدیځو هېوادونو بندیزونو اروپا ته د روسیې د سوداګریزو مالونو د صادراتو په برخه کې ستونزې رامنځته کړې؛ نو ځکه روسیه هڅه کوي

چې په دې برخه کې یو بل بدیل ترلاسه کړي چې د زنګزور دهلېز کولای شي په دې برخه کې د روسیې ګټې خوندي کړي. که څه هم د دې دهلېز جوړېدو پر اساس د ناټو یو غړی هېواد (ترکیه) له خزر بحیرې او مرکزي اسیا سره نښلوي؛ داچې له یوه اړخه د روس ـ اوکراین جګړې سیمه ییزې معادلې بدلې کړي او هم ارمنستان ته د روسیې ټرانزېټ له یوه لوري د ژمي په موسم کې سخت او له بل له لوري له ګرجستان سره د روسیې ترینګلې اړیکې د دغه هېواد له خاورې څخه په ګټې اخیستنې د روسیې پر ټرانزیټ منفي اغېزې کړې دي. د روسیې او ګرجستان اړیکې هغه مهال ترینګلې شوې چې په ۲۰۰۸ز د دواړو هېوادونو ترمنځ ۵ ورځنۍ جګړه ونښتله او په پایله کې یې روسیې د جنوبي اوسیتا او بخازیا خپلواکي په رسمیت وپېژندله.[١٤]

له بله اړخه د اذربایجان ـ ارمنستان ترمنځ د ۲۰۲۰ ز. د جګړې د اوربند پرېکړه لیک چې د اذربایجان ولسمشر الهام علي اوف، د ارمنستان لومړي وزیر نیکول پاشینیان او د روسیې ولسمشر ولادېمیرپوتین له لوري لاسلیک شوی، په نهمه ماده کې یې روسیې ته دا حق ورکړی چې د ارمنستان له لارې د اذربایجان د مرکزي دولت او نخچوان ترمنځ د جوړېدونکې لارې څار به د روسیې د امنیتي ځواکونو له لوري ترسره کېږي.[١٥] له بلې خوا روسیه د ارمنستان په ګیومري ښار کې پوځي هډه هم لري چې موخه یې تر ډېره بریده په سیمه کې د ترکیې د نفوذ مخنیوی دی.[١٦]

روسیه فکر کوي چې په ارمنستان کې د دوی د امنیتي ځواکونو موجودیت او په ځانګړې توګه د زنګزور دهلېز د څارنې په برخه کې د روسي ځواکونو شتون به په سیمه کې د روسیې نقش پیاوړی او  د ناټو سازمان او په ځانګړې توګه د ترکیې د نفوذ کمزوری کړي؛ داسې ویلای شو چې په اقتصادي او ټرانزېټي برخه کې روسیه د دغه دهلېز د جوړېدو له ګټو څخه برخمن شي او په سیاسي او امنیتي برخو کې به تر یوه حده وتوانېږي چې په سیمه کې خپل نفوذ وساتي؛ خو تر ډېره بریده به ونه شي کولای چې په سیمه کې د ناټو او یا هم د ترکیې د نفوذ د پیاوړتیا مخه تر ډېره ډب کړي.

په وروستۍ برخه کې باید یادونه وکړم چې د دغه دهلېز د جوړېدو په برخه کې د ښکېلو لوریو ترمنځ حقوقي او قانوني سند شته، د دې لپاره چې دغه سیمه غرنۍ ده او ډېرو لګښتونو ته اړتیا لري؛ نو ښکېل هېوادونه باید هڅه وکړي چې د ډېپلوماتیکو چینلونو له لارې له یوې خوا د یو شمېر هېوادونو د اندېښنو د رفع کولو او د دې دهلېز

د جوړېدو په برخه کې د یو شمېر خنډونو لکه د مالي سرچینو، تخنیکي او په نوې ټکنالوژۍ سمبال وسایلو د تدارک لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړي.

په سیمه کې د نویو سوداګریزو لارو جوړېدل چې د افغانستان د نښلونې امکانات په کې وي؛ د افغانستان د سوداګرۍ د پراختیا او اقتصادي ودې لامل ګرځي. د زنګزور کرېډور جوړېدو پر اساس افغانستان د مرکزي اسیا له لارې، ترکیې او نړیوالو سوداګریزو بازارونو سره تړل کېږي. که څه هم افغانستان د ایران له خاورې څخه په ګټه اخیستنه له ترکیې سره تړل شوی دی، خو د بدیلو لارو لرل او د دې لارو کارونه نه یوازې دا چې پر دې لاره د پرتو هېوادونو سره د افغانستان اړیکې پیاوړې کېږي؛ بلکې پر ایران د افغانستان ټرانزیټي تکیه کموي او په راتلونکې کې دغه هېواد دې ته زړه نه ښه کوي چې د فشار د یوې الې توګه د پاکستان په څېر خپله ټرانزیټي لار د افغانستان پر وړاندې وکاروي.

**پایله**

د زنګزور دهلېز د جنوبي قفقاز د اقتصادي ادغام، سیمه ییزې همپالنې، سیمه ییز ثبات، د سیمه ییزو اړیکو د پراختیا، د انرژۍ د لېږد او امنیت د پیاوړتیا په برخه کې له ایران پرته په سیمه کې د ټولو ښکېلو هېوادونو لپاره د پام وړ ګټه لرونکی دهلېز ګڼل کېږي. که څه هم پر دې دهلېز د اذربایجان واکمنۍ لرل د ارمنستان لپاره اندېښنې رامنځته کړي؛ خو د ارمنستان له لوري ترکیې او اذربایجان ته د دې امتیاز ورکول به د دې لامل شي چې ارمنستان به له خپلو دوو مهمو ګاونډیو هېوادونو سره پخوانۍ دښمني پای ته ورسوي او د دغه هېواد د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره به لاره هواره شي؛ ځکه چې له اذربایجان او ترکیې سره به یې اړیکې پیل او له دې لارې به له یوې خوا په سیمه ییزو پروژو کې اقتصادي ونډه ترلاسه او له بلې خوا به د دغو هېوادونو له خاورې څخه په ګټې اخیستنې ازادو اوبو ته لار پیدا کړي.

د دغه دهلېز له جوړېدو وروسته به په سیمه کې له یوې خوا د ایران د نفوذ د پراختیا مخه ډب شي، پر جیوپولېټیک موقعیت به یې منفي اغېزې وکړي او ټرانزېټي اهمیت به یې را کم او له دې اړخه به اقتصادي زیان وویني. سربېره پر دې ترکیه چې په دې سیمه کې یو پیاوړی هېواد ګڼل کېږي او هڅه کوي چې له یوې خوا د ترک نژاده قومونو سره چې د قفقاز سربېره په مرکزي اسیا کې مېشت دي خپلې اړیکې پیاوړې او له دې لارې په مرکزي اسیا او قفقاز کې خپل نفوذ زیات کړي او له بله لوري به په دې سیمه کې د ناټو سازمان

چې ترکيه يې غړی هېواد دی، د نفوذ پراختيا ته فرصت برابر شي؛ نو پر دې اساس د ايران پاليسۍ جوړونکي د دغه دهلېز د جوړېدو په اړه اندېښمن دي. روسيه چې پر دې سيمې پخوانی نفوذ لرونکی هېواد شمېرل کېږي، هڅه کوي چې له يوه لوري په سيمه کې د امنيتي حضور او څارنې پر اساس د ناټو د پراختيا هڅې له نږدې وڅاري او له بل لوري د دهليز له ټرانزېټي مزاياوو ګټه پورته کړي.

## مأخذونه


1. Khalid Taimur Akram, Zangezur corridor: A pathway for peace, The Azarbaijan State News Agency, published date: 27/11/2023, available at: https:// azertag.az/ en/xeber/zangezur _corridor _a _pathway_for_peace-2834743.

۲. کاظمی، احمد .امنیت در قفقاز جنوبی، موسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرابر معاصر تهران، وزارت امور خارجه، کتاب خانه ریاست مطالعات استراتیژیک، ۱۳۸۴هـ ش، ص ۴۱۰.

3. Ashur, Shir Gaviria, Inés Sheng, Jiayan Yapar, Hakan. Nagorno-Karabakh Conflict: A Geopolitical Analysis. Universidad Carlos III de Madrid, thises for Master degree, May, 2021, page 9, available at (PDF) Nagorno-Karabakh Conflict: A Geopolitical Analysis | Hakan Yapar - Academia.edu .

4. The Prime Minister of Republic of Armenia, Press Release, Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of the Russian Federation, published date: 10.11.2020, access date: 10.14.2023, available ate: Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of the Russian Federation - Press releases - Updates - The Prime Minister of the Republic of Armenia

5. Ramani, Samuel, How the End of Nagorno-Karabakh Will Reshape Geopolitics, foreign policy, published date: Oct/25/2023, available at: How the End of Nagorno-Karabakh Will Reshape Geopolitics – Foreign Policy.

6. Koolaee, Elaheh & Rashidi, Ahamad, The Zangezur Corridor and Threats to the Interests of the Islamic Republic of Iran in the South Caucasus. Caucasus Analytical Digest,No:136, page 3-6, published date: Feb 2024, available at: https://doi.org/10.3929/ethz-b-000657553

7. Michael, Rubin, the National Interest, Why Turkey and Azerbaijan Won’t Get a Corridor Across Armenia, published date: November 9, 2021, access date: 10/14/2023, available at: Why Turkey and Azerbaijan Won’t Get a Corridor Across Armenia | The National Interest

8. Durso, James. Will Iran Become Part Of This Important Trade Corridor? – Analysis, published date: Oct/10/2023, available at: Will Iran Become Part Of This Important Trade Corridor? – Analysis – Eurasia Review

9. Anri R. Chedia, Zangezur Corridor: Economic Potential and Political Constraints, Russia in Global Affair, page:210 Vol22,No1, Jan – Mar 2024, available at: https://eng.globalaffairs.ru/wp-content/uploads/2023/12/194-216.pdf
10. Michael, Rubin, the National Interest, Why Turkey and Azerbaijan Won't Get a Corridor Across Armenia, published date: November 9, 2021, access date: 10/14/2023, available at: Why Turkey and Azerbaijan Won't Get a Corridor Across Armenia | The National Interest
11. Ramani, Samuel, How the End of Nagorno-Karabakh Will Reshape Geopolitics, foreign policy, published date: Oct/25/2023, available at: How the End of Nagorno-Karabakh Will Reshape Geopolitics – Foreign Policy
12. Koolaee, Elaheh & Rashidi, Ahamad, The Zangezur Corridor and Threats to the Interests of the Islamic Republic of Iran in the South Caucasus. Caucasus Analytical Digest,No:136, page 3-6, published date: Feb 2024, available at: https:// doi.org/ 10.3929/ ethz-b-000657553
13. Anri R. Chedia, Zangezur Corridor: Economic Potential and Political Constraints, Russia in Global Affair, page:2٠٨ Vol22,No1, Jan – Mar 2024, available at: https://eng.globalaffairs.ru/wp-content/uploads/2023/12/194-216.pdf
14. The 2008 Russo-Georgian war, Putin' green light, Atlantic council, published date: Aug/7/2021, available at: https:// www. Atlanticcouncil .org/blogs/ ukrainealert/the-2008-russo-georgian-war-putins-green-light/
15. The Prime Minister of Republic of Armenia, Press Release, Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of the Russian Federation, published date: 10.11.2020, access date: 10.14.2023, available ate: Statement by the Prime Minister of the Republic of Armenia, the President of the Republic of Azerbaijan and the President of the Russian Federation - Press releases - Updates - The Prime Minister of the Republic of Armenia
16. Radio Free Europe, The Russian Military Base In Armenia At The Eye Of A Geopolitical Storm, published date: March/24/2024, available at: The Russian Military Base In Armenia At The Eye Of A Geopolitical Storm .

څېړندوی محمداسماعیل امیري

# د روسیې- اوکراین او ایران- اسرائیلو د جګړو د متقابلو اغېزو څېړنه

# A Study on the Reciprocal Impacts of Russia- Ukraine and Iran- Isaril Wars

Asst. Prof. Mohammad Ismail Amiri

**Abstract**

The world today faces complex security crises, shaped by regional wars, rivalries between great powers, proxy conflicts, cyber-attacks, and economic pressures. The global order has become chaotic since the Cold War, giving rise to new threats. The war between Russia and Ukraine, which began in 2014 and escalated in 2022, poses a major threat to the security of Eastern Europe. Russia seeks to protect itself from Western influence and increase its own sway in the region, while Ukraine desires support from Western nations. This war has created deep divisions between NATO, the European Union, the United States, and Russia. On the other hand, the conflict between Iran and Israel, ongoing since the establishment of the state of Israel, involves Iran's refusal to recognize Israel as a state, and Israel's assertion that Iran supports its proxy forces in the region—such as Hezbollah in Lebanon, the Houthis in Yemen, and the Hamas movement in Palestine. Israel also views Iran's nuclear program as a major threat. Consequently, the wars in both Eastern Europe and the Middle East have not only endangered the security of their respective regions but have also paved the way for increased rivalry among global powers and instability in international security.

This article will examine the Russia-Ukraine and Iran-Israel wars and their reciprocal impacts. Studying these mutual effects is important for Afghanistan because the country is adversely affected by these geopolitical tensions, and any global change directly impacts it.

The research aims to present an analytical picture of the reciprocal effects of the Russia-Ukraine and Iran-Israel wars and assess their impact on Afghanistan.

The study will also propose strategic recommendations for Afghanistan's foreign policy, enabling the country to adopt a balanced and beneficial position within the changing global order. It will also address the questions of how these two wars emerged, what their mutual effects are, and what impact these wars have had on Afghanistan.

This research employs an analytical-descriptive methodology.

**لنډیز**

نړۍ نن ورځ له پېچلو امنيتي بحرانونو سره مخ ده چې د سيمه‌ييزو جګړو، زبرځواکو قدرتونو تر منځ سياليو، نيابتي جګړو، سايبري بريدونو او اقتصادي فشارونو بڼه يې ځان ته غوره کړې ده، له سړې جګړې وروسته نړيوال نظم ګډوډ شوی او نوي ګواښونه راټوکېدلي دي، د روسيې او اوکراين جګړه چې په ۲۰۱۴ز. کې پيل او په ۲۰۲۲ز. کې پراخه شوه، د ختيځې اروپا امنيت ته لوی ګواښ ګڼل کېږي، روسيه غواړي چې د لوېديځو هېوادونو له دسيسو څخه ځان په امان وساتي او په دې سيمه کې خپل نفوذ زيات کړي؛ خو اوکراين د لوېديځو هېوادونو ملاتړ غواړي، دې جګړې د ناټو، اروپايي ټولنې، امريکا متحده ايالاتو او روسيې تر منځ ژور اختلافات رامنځ ته کړي دي، له بل پلوه د ايران او اسرائيلو تر منځ کړکېچ د اسرائيلو د دولت د رامنځ ته کېدو راهيسې پيل شوی چې ايران، اسرائيل د يوه دولت په توګه نه پېژني او اسرائيل بيا ادعا لري چې ايران په سيمه کې له خپلو نيابتي ډلو چې په لبنان کې د حزب الله او په يمن کې د حوثيانو او همدارنګه په فلسطين کې د حماس له حرکت څخه ملاتړ کوي او اسرائيل د ايران اټومي کېدل هم د ځان لپاره يو ستر ګواښ بولي، له همدې امله د ختيځې اروپا او منځني ختيځ دواړو جګړو نه يوازې د خپلو سيمو امنيت له خطر سره مخ کړی؛ بلکې د نړيوالو قدرتونو تر منځ سيالۍ او د نړيوال امنيت ګډوډۍ ته يې هم لاره هواره کړې ده.

په دې مقاله کې به د روسيې- اوکراين او همدارنګه د ايران- اسرائيلو جګړې او يو پر بل يې پر متقابلو اغېزو څېړنه ترسره شي، د دغو متقابلو اغېزو څېړنه د افغانستان لپاره له دې اړخه مهمه ده چې هېواد له دغو جيوپوليټيکو کړکېچونو څخه زيانمنېږي او هر ډول نړيوال بدلون پرې په مستقيمه توګه اغېزه کوي، د څېړنې موخه دا ده چې د

روسيې- اوکراين او ايران-اسرائيلو جګړو د متقابلو اغېزو تحليلي انځور وړاندې کړي او پر افغانستان يې اغېزې وارزوي.

څېړنه به همدارنګه د افغانستان د بهرنۍ پاليسۍ لپاره د تګلارې وړانديزونه وړاندې کړي چې هېواد د بدلېدونکي نړيوال نظم په منځ کې متوازن او ګټور دريځ خپل کړي او همدارنګه دې پوښتنو ته به ځواب ووايل شي چې دا دوه جګړې څنګه رامنځ ته شوې او يو پر بل يې اغېزې څه دي؟ او همدارنګه دغو جګړو پر افغانستان څه اغېزې لرلې دي؟

په دې څېړنه کې له تحليلي- توصيفي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې.

**سريزه**

نن ورځ نړۍ له بېلابېلو امنيتي بحرانونو سره مخ ده چې سيمه‌ييزې جګړې، نړيوالې سياسي سيالۍ او اقتصادي فشارونه پکې رانغښتي دي، له سرې جګړې وروسته نړيوال نظم بدل شوی او نوي امنيتي ګواښونه رامنځ ته شوي دي. په ختيځې اروپا کې د روسيې او اوکراين جګړه او په منځني ختيځ کې د ايران او اسرائيلو جګړه د نړيوال ثبات لپاره جدي خنډونه دي. ستر قدرتونه لکه د امريکا متحده ايالات، چين او روسيه په پوځي، اقتصادي، سايبري او تکنالوژيکي برخو کې يو له بل سره سيالۍ کوي چې دې وضعيت د امنيتي ګواښونو کچه نوره هم لوړه کړې ده او همدارنګه ترهګرې ډلې او نيابتي جګړې چې د دولتي او نادولتي لوبغاړو ترمنځ رامنځ ته کېږي، امنيتي وضعيت يې نور هم پېچلی کړی دی. اقتصادي فشارونه، بنديزونه او د انرژۍ په بازار کې ګډوډي د هېوادونو ترمنځ د فشار او سيالۍ وسيلې ګرځېدلې دي. په ټوليز ډول نننی نړيوال امنيت يو نازک او پېچلی حالت ځانته غوره کړی، د حل لپاره يې له پراخې همکارۍ، ډيپلوماسۍ او ابتکار پرته پرمختګ ناممکن ښکاري.

د روسيې او اوکراين ترمنځ جګړو کې د روسيې له نظره، د پخواني شوروي اتحاد هر پخوانۍ جمهوريت چې اوکراين هم پکې شامل دی، ناټو ته نږدې کېدل يا پکې غړيتوب ترلاسه کول، د مسکو د سرې کرښې څخه د تېريدو په معنی دی[1]. خو اوکراين له ۲۰۰۸ز. کال څخه راپدې خوا کوښښ کوي چې د ناټو غړيتوب واخلي.

له همدې امله د دواړو هېوادونو ترمنځ مستقیمې جګړې رامنځ ته شوي دي او همدارنګه د ایران او اسرائیلو ترمنځ اختلاف د اسرائیلو د دولت له رامنځ ته کېدو سره پیلېږي؛ خو دا کړکیچ د ایران د اسلامي انقلاب له بریا وروسته په ۱۹۷۹ز. کال کې پراخېږي، د ایران اسلامي دولت، د اسرائیلو دولت په رسمیت نه پېژني او د فلسطین د ازادۍ ملاتړ کوي. ایران په منځني ختیځ کې د خپل نفوذ د پراختیا لپاره له بېلابېلو نیابتي ډلو سره مرسته کوي چې دا کار اسرائیل د خپل دولت لپاره مستقیم امنیتي ګواښ ګڼي. چې په پایله کې د دواړو هېوادونو ترمنځ مستقیمې او نامستقیمې جګړې پیلېږي.

په دې مقاله کې به د روسیې-اوکراین او د ایران-اسرائیلو جګړې او یو پر بل یې پر متقابلو اغېزو څېړنه ترسره شي، د دغو متقابلو اغېزو څېړنه د افغانستان لپاره له دې اړخه مهمه ده چې هېواد له دغو جیوپولیټیکو کړکېچونو څخه زیانمنېږي او هر ډول نړیوال بدلون پرې په مستقیمه توګه اغېزه کوي.

د څېړنې موخه دا ده چې د روسیې–اوکراین او ایران–اسرائیلو جګړو ترمنځ د متقابلو اغېزو تحلیلي انځور وړاندې کړي او پر افغانستان یې اغېزې وارزوي، څېړنه به همدارنګه د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ لپاره تګلارې وړاندې کړي چې هېواد د بدلېدونکي نړیوال نظم په منځ کې متوازن او ګټور دریځ خپل کړي.

په دې علمي څېړنه کې د روسیې ـ اوکراین او د ایران ـ اسرائیلو ترمنځ جګړې تر تحلیلي–توصیفي میتود لاندې چې له دویم لاس سرچینو څخه پکې استفاده شوې؛ څېړل کېږي چې دغو مهمو پوښتنو ته به ځواب ووایي: دا دوه جګړې څنګه رامنځ ته شوې او یو پر بل یې متقابلې اغېزې څه دي؟ او همدارنګه دغو جګړو پر افغانستان څه اغېز کړی دی؟

## د روسيې او اوکراين کړکېچ

روسيه او اوکراين خپلې ريښې د «کیایف روس*» په نامه له دولت څخه ګڼي چې دا دولت په نهمه ميلادي پېړۍ کې رامنځ ته او وروسته د مغولو د يرغل په پايله کې له منځه ولاړ، د مغولو له يرغل وروسته د روسيې خلکو د شمالي ولايتونو خلک سره يو ځای کړل او يو ځواکمن دولت يې رامنځ ته کړ؛ خو د اوکراين خلک د ليتوانيا د لوی دوکنشين په نامه تر واکمنۍ لاندې راغلل او ورپسې د لهستان–ليتوانيا په همګټو هېوادونو پورې وتړل شول، بيا د څو پاڅونونو له امله اوکراين د اوولسمې پېړۍ له نيمايي څخه په تدريجي ډول د روسيې امپراتورۍ ته ور ګډ شو.

په هر صورت، د روسيې امپراتورۍ اوکراينيان او بلاروسيان له قومي اړخه روسان ګڼل او هغوی يې د «کوچنيو روسانو» په نوم يادول؛ خو تر لومړۍ نړيوالې جګړې پورې ځينې اوکراينې ملتپالانو د دې نظريې مخالفت کاوه، په همدې لړ کې روسيې د روسي کلتور د ترويج لپاره ځينې کړنې ترسره کړې چې پکې د ښوونځيو، کتابونو، ويناو او نورو برخو کې د اوکرايني ژبې په کارونې بنديز لګول هم شامل و، د لومړۍ نړيوالې جګړې له پای ته رسېدو او د ۱۹۱۸ز. د روسيې له پوځي يرغل وروسته اوکراين له مسکوه خپله بشپړه خپلواکي اعلان کړه، د اوکراين او روسيې ترمنځ د «برسټ–ليټوفسک» دوو تړونونو له لاسليکېدو وروسته د دوی ترمنځ پوځي شخړه پای ته ورسېده.

اوکراين او روسيه په ۱۹۲۲ز. کې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاديې بنسټ ايښودونکي غړو څخه و او داسې يوه اتحاديه يې رامنځ ته کړه چې د ۱۹۹۱ز. تر ډسمبر يعنې د شوروي اتحاد تر ړنګېدو پورې يې دوام وکړ. د شوروي اتحاد له ړنګېدو او د هغه د تابع هېوادونو له خپلواکۍ وروسته، اوکراين يو ځل بيا يو خپلواک هېواد شو. روسيې او لوېديځو هېوادونو، په ځانګړې توګه د امريکا متحده ايالاتو، په ختيځه اروپا کې د دې هېواد پر سر سيالۍ پيل کړې او هر يوه هڅه کوله

*. د کي ايف روس دولت چې د ختيځې او شمال ختيځې اروپا د اسلاوي قومونو يو فدراسيون و او د بالټيک په حوزه کې يې شتون درلود.

چې کي‌ایف خپل لوري ته راواړوي. مسکو په دې وخت کې د اوکراین په حکومتي نظام کې د خپلو وفادارو کسانو واک ته د رسیدو هڅه کوله، ورته مهال واشنګټن هم هڅه کوله چې لوېدیځپلوه څېرې په اوکراین کې واک ته ورسیږي چې د دې څرګند مثال په اوکراین کې د ۲۰۰۴ز. مخملین انقلاب چې د (نارنجي انقلاب په نوم هم پېژندل کېږي) یادولای شو[۲].

که څه هم د ناټو غړیتوب یو وخت نیونکی بهیر دی؛ خو په ۲۰۰۸ز. کې د مسکو لپاره یوه ناخوښه پیښه رامنځته شوه، کله چې ناټو په خپله کلنۍ سرمشریزه کې د ګرجستان او اوکراین د امنیتي-پوځي اتحاد سره د یوځای کیدو امکان ته شین څراغ روښانه کړ. د پخواني شوروي جمهوریتونو د غړیتوب په مسئله کې د ناټو ښکیلتیا روسي چارواکي سخت په غوسه کړل او روسیې ټینګار وکړ چې په ناټو کې د دې هېوادونو غړیتوب د خپل ملي امنیت لپاره یو څرګند او جدي ګواښ ګڼي[۳].

د روسیې او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ په تړونونو کې د امریکا متحده ایالاتو ژمنه کړې وه چې د ناټو پوله به د ختیځې اروپا پر لور نه غځوي؛ خو داسې و نه شول او د ناټو پوله آن د روسیې ګاونډ ته ورسېده[٤].

په هر صورت، د مسکو او واشنګټن د کړکېچ اصلي ریښه د ۲۰۱۴ز. د اوکراین له انقلاب سره تړاو لري. په دغه وخت کې د دې هېواد ولسمشر «ویکټور یانوکوویچ» - چې روسي تباره او د ختیځې دونباس سیمې اوسېدونکی و، له واک څخه ګوښه او پر ځای یې یوه لویدیځپلوه د حکومت واګې په لاس کې واخیستې او همدارنګه د ۲۰۰۴ز. اساسي قانون هم د بیا ځل لپاره نافذ شو[٥]. د دې بدلون تر شا یو مهم عامل دا و چې د اوکراین او روسیې اړیکې د ۲۰۱۳ز. په وروستیو کې د کي‌یف او اروپایي اتحادیې د تاریخي سیاسي او سوداګریز تړون له امله لا پسې ترینګلې شوې. کله چې ولسمشر یانوکوویچ دغه خبرې اترې وځنډولې؛ نو په کي‌یف کې د پراخو اعتراضونو لړۍ پیل شوه چې په پایله کې یې د تاوتریخوالي بڼه غوره کړه[٦].

په دې وخت کې د اوکراین حکومت او د امریکا متحده ایالاتو روزل شویو ډلو د اوکراین د روسانو پر وړاندې ډېر جنایتونه تر سره کول چې دې کار تل د روسیې

غوسه راپاروله؛ بلاخره روسيه اړ شوه چې د هغه ځای د روس تبارو وګړو ملاتړ وکړي او پر پوځي کړنو لاس پورې کړي.[۷]

هماغه و چې په ۲۰۱۴ز. په مارچ میاشت کې روسيې د اوکراين په جنوبي برخه کې د کريميا خپلواکه ټاپووزمه له خپلې خاورې سره يو ځای کړه، په پيل کې زرګونه روسي ژبې ويونکي سرتېري کريميا ټاپووزمې ته ننوتل، په څو ورځو کې روسيې د يوه ټولپوښتنې له لارې چې د اوکراين او د نړۍ د يو شمېر هېوادونو له خوا ناقانوني هم وبلل شوه، د کريميا د يو ځای کولو بهير بشپړ کړ، دې کړنو د دونباس* د اسلاو وګړو لپاره يوه انګېزه پيدا کړه چې له يوې پېړۍ وروسته ياده سيمه له اوکراين څخه جلا او له روسيې سره يې يوځای کړي، د ۲۰۱۴ز. د اپرېل پر ٦مه د دونباس اوسېدونکو پاڅون وکړ او د دولتي ودانيو د نيولو اقدام يې وکړ، هغوی په يوه اعلاميه کې وويل: که د کريميا په څېر ټولپوښتنه ترسره نه شي؛ نو په يو اړخيز ډول به پرته له دې چې د مرکزي دولت موافقې ته اړتيا ولري؛ له اوکراين څخه د جلا کېدو اعلان وکړي او له روسيې سره به يوځای شي، د موقت حکومت مشر «الکساندر تورچينوف» د ۲۰۱۴ز. د اپرېل پر ۱۵مه د دونباس په سيمه کې د پوځي مداخلې امر وکړ چې په پايله کې د بېلتون‌غوښتونکو او د مرکزي دولت د پوځي ځواکونو تر منځ پراخې نښتې رامنځ ته شوې، د دې کړکېچ له زياتېدو سره روسيه د امريکا متحده ايالات او اروپايي اتحاديې ميدان ته راووتل او درې ورځې وروسته، يعنې د اپرېل پر ۱۷مه د دوی تر منځ د «مينسک تړون» لاسليک شو.[۸]

د دونباس بېلتون‌غوښتونکو له روسيې څخه وغوښتل چې د کريميا په څېر دې له مسکو سره يوځای کړي؛ خو د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين دا غوښتنه و نه منله او اعلان يې وکړ چې د کريميا په څېر د دونباس يوځای‌کول د مسکو لپاره ناشوني دي، پوتين بېلتون‌غوښتونکي د سيمې د ارامۍ د ساتنې او د اوکراين له مرکزي حکومت سره د همکارۍ پر لوري دعوت کړل، دقيقاً له همدې مودې وروسته

*. د دونباس سيمه چې د اوکراين په ختيځ کې موقعيت لري، د «دونټسک» او «لوهانسک» له دوو ولايتونو څخه جوړه ده چې په ۱۹۲۲ز. کال کې اوکراين سره يوځای شوې وه او ډېری اوسېدونکي يې روسي‌ژبي دي.

د دونباس سیاسي وضعیت لا پسې پر خرابېدو پیل وکړ، سره له دې چې په ۲۰۱۷ز. کې د بېلتون‌غوښتونکو د اوکراین د حکومت او روسیې تر منځ د «مینسک ۲» تړون هم لاسلیک شو؛ خو بیا هم د دې سیمې ستونزې حل نه شوې[۹].

څرنگه مو چې یادونه وکړه چې د ۲۰۱۴ز. د اوکراین له انقلاب وروسته دغه هېواد د لوېدیځ‌پالو لاس ته ولوېد او ورو ورو له روسیې څخه لرې شو، په دې اته کلونو کې (له ۲۰۱۴ز. نه تر ۲۰۲۲ز. پورې) لوېدیځوالو دغه هېواد د روسیې پر ضد هڅاوه او د جگړې لپاره یې چمتو کاوه، د اوکراین روس‌تباره اوسېدونکي به د هر ډول پلمې په وسیله تر ظلم او ستم لاندې راتلل، په دې وخت کې لوېدیځ اوکراین په یوه پوځي ځواک بدل کړ، آن تر دې چې اوکراین پوځي وسایل جوړول او ورو ورو یې ځان د یوې بشپړې معاصرې جگړې لپاره چمتو کاوه.[۱۰]

د ۲۰۲۱ز. په پیلېدو سره په ناټو کې د اوکراین د غړیتوب او د ناټو له ځینو هېوادونو سره د اوکراین د پوځي اړیکو او له هغوی څخه د کې‌یف د وسلو د اخیستلو مسئله راپورته شوه چې دې کړنو یو ځل بیا د روسیې لپاره د گواښ احساس راپیدا کړ، د ناټو د گواښونو په ځواب کې روسیې د اوکراین پولې ته نږدې د لسگونو زرو سرتېرو راټولول پیل کړل، دا اقدام په پیل کې له سختو نړیوالو غبرگونو سره مخ شو او روسیه دې ته اړ شوه چې تاکتیکي شاتگ وکړي او روسیې هم اعلان وکړ چې دوی دا ځواکونه له سیمې څخه ایستلي دي؛ خو وروسته د اوکراین سرحدي سیمو ته د سرتېرو او تجهیزاتو لېږل بیا پیل شول.[۱۱]

بلاخره د لوېدیځ په مشرۍ د اوکراین او روسیې ترمنځ دښمني د ۲۰۲۲ز. د فبرورۍ پر ۲۴مه د یوې بشپړې جگړې د پیل لامل شوه. په همدې ورځ روسانو د ولادیمیر پوتین په حکم له څلورو خواوو پر اوکراین برید وکړ او د دغه هېواد په ښارونو کې یې چټک پرمختگونه وکړل. په مقابل کې، د اوکراین ولسمشر ولادیمیر زلنسکي فوق‌العاده حالت (نظامي حکومت) او عمومي پاڅون اعلان کړ. دغه یرغل، چې روسانو یې د "پوځي عملیاتو" په نوم یادوي، د اوکراین د غیر پوځي کولو په هدف پیل شو. په مقابل کې، لوېدیځو هېوادونو پر روسیه د بندیزونو ستره څپانده لړۍ ولگوله؛ خو هېڅ یو هم اغېزمن نه و او نه دي؛ ځکه دغو بندیزونو د روسیې پر

ضد منفي پايلې نه دي لرلې؛ بلکې برعکس د جګړې پر مهال د روسيې اقتصاد نور هم وده کړې ده. لوېديځو هېوادونو د خپل ځان د دفاع او د له لاسه وتلو سيمو د بېرته نيولو په موخه له اوکراين سره سياسي او پوځي ملاتړ پيل کړ؛ خو پايله يې د اوکراينيانو لپاره يوازې تاوانونه او وژنې دي[۱۲].

د روسيې له نظره ختيځ لوري ته د ناټو د پراخېدو پلان او همدارنګه په ناټو کې د اوکراين د غړيتوب مسئله د دې هېواد لپاره سرې کرښې شمېرل کېږي او دا ډول اقدام د دې هېواد ملي امنيت ته يو ګواښ ګڼي. په هر حال، له دې څخه له ورايه ښکاري چې په اوکراين کې روان کړکېچ يوازې د قوميت او ژبې پر بنسټ نه دی، بلکې دا د څو اړخيزو او پېچلو عواملو مجموعه ده. د اروپا د بلاک دننه د نژادي، قومي، فکري او مذهبي اختلافاتو رېښې د څو لسيزو، حتی پېړيو تاريخ ته ورګرځي. په ډېرو اروپايي هېوادونو کې د ښي‌پالو ملت‌پالنې غورځنګونه او د چپ‌پالو سوسياليستي جريانونه د خپلو سياسي او ايډيالوژيکي اجنډاو له مخې د ځايي کړکېچونو په تودولو کې فعاله ونډه لري. دا لوبغاړي يوازې د داخلي سياست محصول نه دي؛ بلکې ډېری وختونه د بهرنيو قدرتونو له ملاتړ، تمويل يا هڅونې سره تړاو لري او همدارنګه له جيوپوليټيکي نظره له ناټو سره د اوکراين غړيتوب د روسيې لپاره د امنيتي ستراتيژۍ په کچه د سرې کرښې حيثيت لري.

د مسکو لپاره ناټو يوازې يو دفاعي تړون نه؛ بلکې د لوېديځ د پوځي او سياسي نفوذ د پراختيا نښه ده چې د روسيې تاريخي او نفوذي ساحه محدودوي او سټراټيژيکه سيمه يې له ګواښ سره مخ کوي. له همدې امله، روسيه هڅه کوي چې د هر ډول داسې پرمختګ مخه ونيسي چې ناټو يې د لوېديځې پولې پر مستقيم فشار بدلول غواړي. د امريکا متحده ايالات بيا دې موضوع ته له بل اړخ څخه ګوري، د واشنګټن لپاره د اوکراين او په ځانګړي ډول د دونباس سټراټيژيک اهميت په دې کې دی چې له يو پلوه د روسيې د نفوذ د ختيځې پراختيا مخه نيسي او له بله پلوه د اروپا په امنيتي جوړښت کې د امريکا د متحده ايالاتو رول پياوړی ساتي. له همدې امله، دواړه هېوادونه روسيه او د امريکا متحده ايالات هڅه کوي؛ ترڅو په

دونباس کې داسې وضعیت وساتي چې نه بشپړ سوله رامنځته شي او نه هم مخالف لوري ته د حاکمیت بشپړ انتقال شونی وي.

## د ایران او اسرائیلو کړکېچ

د ایران او د منځني ختیځ د یهودیانو تر منځ تاریخي اړیکه یوه پېچلې او څو بُعدي اړیکه ده. په دې اوږد تاریخ کې له هغو ستاینو څخه چې د یهودیانو په دیني متونونو کې د ایران د پاچاهانو په اړه شوې دي او همداراز له هغو افسانو څخه چې د ایران د لرغوني تاریخ په اړه ویل کېږي؛ نیولې تر شلمې میلادي پېړۍ چې د ایران او اسرائیلو ترمنځ یوه ستراتیژیکه اړیکه رامنځ ته شوه او بیا تر ۲۱مې میلادي پېړۍ پورې چې دا اړیکه په یوه خطرناکه دښمنۍ بدله شوه[۱۳]؛ بېلابېل پړاوونه لیدل کېږي.

عام تصور دا دی چې د محمد رضا شاه پهلوي تر پرزېدو وروسته، چې کله د ایران اسلامي انقلاب په تهران کې واک ترلاسه کړ، د "فلسطین آرمان" ته ډېر ارزښت ورکړ او د یوه خپلواک فلسطیني دولت د جوړېدو کلک پلویان وو. د شلمې میلادي پېړۍ په پیل کې کله چې د صهیونیزم خوځښت د یهودي خپلواک دولت د جوړېدو لپاره په فلسطین کې سر راپورته کړ، د ایران شیعه علماوو هم، د خپلو سني سیالانو په څېر چې په استانبول، قاهره او دمشق کې مېشت وو، د دې مفکورې پر وړاندې د مبارزې په لومړۍ کرښه کې ودریدل. مسلمانانو، مسیحیانو او یهودیانو زرګونه کاله د بیت‌المقدس د کنټرول پر سر یو له بل سره جګړې کړې وې او د لومړۍ نړیوالې جګړې په پای کې، د عثماني امپراتورۍ له ړنګېدو او د بریتانیا له خوا د فلسطین تر اشغال وروسته، د شاوخوا زر کلونو له تېرېدو سره، یو ځل بیا د بیت‌المقدس واک د مسیحیانو لاس ته ولوېد.

د لومړۍ نړیوالې جګړې په پای کې، د ایران شیعه علماء وتوانېدل چې د اساسي قانون په چارو کې د نظر ورکولو او د ملي شورا د پارلمان په ټاکنو کې د ګډون له لارې، خپله یوه برخه له لاسه وتلې سیاسي قدرت بېرته راژوندی کړي. همدې دلیل ته په کتو، له همدې دورې څخه – هغه مهال چې د صهیونیزم د خوځښت عمر له ۳۰ کلونو کم و – د ایران او یهودیانو اړیکه دوه‌مخیزه او په ځینو مواردو کې له ابهام څخه ډکه شوه. احمد شاه قاجار د کورنیو سیاسي بدلونونو سره

سخت لاس او ګريوان و او د يهودانو پر ضد يې کوم څرګند مخالفت ونه ښود؛ خو شيعه علما د يهودي دولت د جوړېدو له نظريې سره سخت مخالف وو. دوی بيت‌المقدس "د مسلمانانو لومړۍ قبله" او يو "مقدس" ښار ګڼي، چې بايد د مسلمانانو په کنټرول کې پاتې شي[١٤].

د صهيونيزم نړيوال سازمان* د دوو نړيوالو جګړو ترمنځ، د يهودي ادارې (Jewish Agency)په جوړولو سره هڅه کوله چې د يهوديانو لپاره د فلسطين خاورې ته د کډوالۍ زمينه برابره کړي. ايران د خپلو يهودي وګړو له امله د دې ادارې لپاره يو مهم هېواد ګڼل کېده؛ خو دا اداره يوازې هغه مهال وتوانېده چې يوه استازولي ايران ته واستوي چې ايران د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د بريتانيا او شوروي له خوا اشغال شوی و. يهودي ادارې په ۱۹۴۲ز. کې خپل استازي ايران ته د ايراني يهوديانو د ديني زده کړو د مرستې لپاره په رسمي هدف واستول، سره له دې چې د دې ادارې او ايران ترمنځ اړيکې پيل شوې؛ خو بيا هم په نړيوالو ناستو کې د ايران رسمي دريځونه په فلسطين کې د يهودي دولت د جوړېدو په اړه منفي و؛ حتی تر دې چې ايران په ۱۹۴۷ز. کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې د فلسطين لپاره د ځانګړې کمېټه (UNSCOP) غړی هم شو او له هغو دريو هېوادونو څخه و چې د يهوديانو او فلسطينيانو ترمنځ د فلسطين د وېش د پلان سره يې مخالفت وکړ؛ خو بيا هم د ملګرو ملتونو د سازمان په عمومي ناسته کې موافقې رايې له مخالفو رايو څخه زياتې او دا طرحه تصويب شوه. اسرائيلو پرېکړه وکړه چې له سيمې څخه د بريتانيايي ځواکونو له وتلو سره به د دې طرحې پر بنسټ خپل خپلواک دولت اعلان کړي چې دا پيښه په ۱۹۴۸ز. کې رامنځته شوه او ايران دا دولت په رسميت ونه پيژانده. همدارنګه اسرائيلو د ملګرو ملتونو له سازمان څخه غوښتنه وکړه چې د دوی دولت ته دې د ملګرو ملتونو په سازمان کې غړيتوب ورکړل شي. ايران بيا هم د عربو هېوادونو ترڅنګ د اسرائيلو د غړيتوب پر ضد رايه وکاروله.

* (World Zionist Organization – WZO)

د عربو او اسرائیلو په لومړۍ جګړه کې د ایران د مدني ټولنې یوې برخې له عربانو څخه ملاتړ وکړ چې له دې اړخه د فلسطینیانو ملاتړ وکړي.

سره له دې چې د ایران دولت د اسرائیلو د دولت پر ضد و؛ خو بیا هم د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکي اړیکې رامنځته شوې وې. دا ځکه چې د ۱۹۴۸ز. کال له جګړې وروسته، ډېرى هغه ایرانیان چې په فلسطین کې مېشت وو، د فلسطینیانو په څېر خپل کورونه او شتمنۍ پرېښودې او له سیمې څخه وتښتېدل. کله چې هغوی بېرته ایران ته راستانه شول، د ایران له دولت څخه یې غوښتنه وکړه چې د هغوی شتمنۍ او ملکیتونه له نوي جوړ شوي اسرائیلي دولت څخه بېرته واخلي. دا مسئله د دې لامل شوه، چې ایران د اسرائیلو د دولت له جوړېدو یو کال وروسته، یو ایراني ډیپلومات چې عباس صیقل نومیده، اسرائیلو ته واستوي؛ ترڅو د یاد هېواد له چارواکو سره د هغو ایراني اتباعو د ملکیتونو او شتمنیو په اړه خبرې وکړي. ښاغلی صیقل د "ایران د ځانګړي استازي" په توګه اسرائیلو ته لاړ او همدې کار اسرائیلو ته پلمه پیدا کړه چې له ایران څخه وغواړي؛ ترڅو خپل ځانګړی استازی تهران ته ولېږي؛ خو د ایران دولت دا غوښتنه رد کړه[۱۵].

په دې وخت کې، اسرائیل یو داسې هېواد و چې له خپلو ټولو ګاونډیانو سره په جګړه کې ښکېل او هېڅ یو هېواد له سیمې څخه حاضر نه و چې له دې نوي دولت سره اړیکې ټینګې کړي. د اسرائیلو د همغه وخت لومړي وزیر ډیوېډ بن ګوریون د دې ستونزې د حل لپاره داسې سیاست غوره کړ چې له هغو هېوادونو سره اړیکې ټینګې کړي چې د اسرائیلو له ګاونډیانو سره ګاونډیان دي. چې دا تګلاره وروسته د «حاشیې دکترینو»(Peripheral Doctrine) په نوم مشهوره شوه. د همدې دکتورینو پر بنسټ و چې ایران د ترکیې او ایتیوپیا ترڅنګ د اسرائیلو د بهرنیو چارو وزارت د لومړیتوبونو په سر کې د اړیکو د ټینګېدو لپاره غوره شول. د دې مفکورې د تعقیب لپاره لومړۍ جدي خبرې اترې په ۱۹۴۹ز کې د اسرائیلي ډیپلومات آبا ابن او د ایران د استازي نصرالله انتظام* ترمنځ ترسره شوې. په پای کې د محمدرضا شاه پهلوي شخصي مداخله د دې

*. دا دواړه ډیپلوماتان هغه مهال په ملګرو ملتونو کې د خپلو هېوادونو استازي وو.

سبب شوه چې د ايران دولت د ۱۹۵۰ز. د مارچ په میاشت کې، اسرائیل د ډیفکټو (په غیر رسمي)** ډول په رسمیت وپېژني. په دې وخت کې محمد مصدق په ایران کې د صدراعظمي مقام ته رسیږي چې له آیت‌الله ابوالقاسم کاشاني سره، چې د هغه وخت تر ټولو مهم سیاسي مذهبي شخص بلل کېده، په یوه نالیکلې ائتلاف کې و. کاشاني د اسرائیلو له سرسختو مخالفینو څخه و او پر مصدق یې فشار راوړ چې د اسرائیلو د رسمي پېژندنې پرېکړه لغوه کړي. محمد مصدق د ۱۹۵۱ز. د جولای په میاشت کې د ایران د حکومت د سیاسي استازولۍ دفتر په بیت‌المقدس کې وتاړه؛ خو اعلان یې وکړ چې د دې پرېکړې دلیل مالي ستونزې دي.

د ۱۹۵۳ز. د اګست د ۱۹ مې له کودتا*** وروسته نه یواځې له درباره بېواکه سیاستوال او د ډموکراسۍ پلویان؛ بلکې شیعه علماء هم خپل سیاسي واک له لاسه

**. په عین وخت کې د «ډیفکټو» په توګه د اسرائیلو پېژندل دا معنا درلوده، چې ایران اسرائیل د یوه قانوني او مشروع دولت په توګه په رسمي ډول ونه پېژانده، بلکې یوازې یې د یو موجود واقعیت په توګه ومانه او له همدې امله یې له دې هېواد سره د قانوني رسمیت د نشتوالي له امله، یواځې محدودې اړیکې ټینګې کړې.

***. د ۲۸ مرداد کودتا چې د ایران په تاریخ کې یې د "کودتای ۲۸ مرداد ۱۳۳۲" په نوم شهرت لري، د ۱۹۵۳ کال د اګست ۱۹مه نېټه وه. په دغه کودتا کې د امریکا د متحده ایالاتو (CIA) او بریتانیا (MI6) د استخباراتي ادارو په مرسته د ایران د لومړي وزیر ډاکټر محمد مصدق حکومت نسکور کړل شو، او محمدرضا شاه پلوې واک ته بېرته راوستل شو. د ۱۹۵۳م کال کودتا، چې د «عملیات آژاکس» په نوم یادیږي، د ایران په معاصر تاریخ کې یو بنسټیز تحول و. دا کودتا د امریکا د متحده ایالاتو (CIA) او بریتانیا (MI6) د ګډې طرحې له مخې عملي شوه، او موخه یې د لومړي وزیر **ډاکټر محمد مصدق** حکومت نسکورول وو، چې د ایران د نفتو د ملي کولو له امله د لوېدیځو شرکتونو ګټو ته جدي ګواښ و. د ۱۹۵۱ کال په مارچ کې، مصدق د انګلیسي کمپنۍ (AIOC «Anglo-Iranian Oil Company» د ملیت کولو پرېکړه وکړه. دا پرېکړه د بریتانیا لپاره غوسه‌ناک وه، ځکه چې د دې کمپنۍ اکثریت ونډې د انګلیس دولت ملکیت وې. بریتانیا لومړی هڅه وکړه د اقتصادي بندیزونو، محاکمو او د تیلو د صادراتو د بندولو له لارې فشار وارد کړي، خو کله چې دا هڅې ناکامه شوې، نو د امریکا متحده ایالاتو ملاتړ یې جلب کړ. د امریکا متحده ایالاتو په لومړي سر کې د مصدق ملاتړ کاوه، خو د سړې جګړې د سیاستونو له امله، دوی اندېښمن شول چې که چیرې مصدق حکومت ړنګ شي، کېدای شي کمونیستان (توده ګوند) واک ته ورسي. همدا وو چې د دواړو هېوادونو استخباراتي ادارو، د «عملیات آژاکس» تر نوم لاندې، کودتا پلان کړه. د دې عملیاتو یوه مهمه برخه دا وه چې د مطبوعاتو، دیني علماوو، مظاهره چیانو، او پوځ د لوړپوړو افسرانو له لارې د مصدق حکومت

ورکړ او کاشاني هم د نورو سیاسي ملایانو په شان له صحنې څنډې ته کړل شو او بیا هېڅکله ولسي جرګې ته ستون نه شو. له دې سره د ایران او اسرائیلو اړیکې دومره نږدې شوې چې موساد د سي‌آی‌اې (CIA) ترڅنګ د ساواک د جوړولو په برخه کې پاچا سره مرسته وکړه. همداراز، په ۱۹۵۸ز. کې کله چې عراق یو جدي ګواښ ګرځېدلی و، موساد د ساواک او د ترکیې له استخباراتي ادارې سره په همکارۍ د استخباراتي معلوماتو د شریکولو یوه طرحه چې د «درېسرې نیزې» (Trident) په نوم رمزي عملیات و، پلي کړل. د ایران له لوري د اسرائیلو د دو فاکتو پېژندنه په ښکاره او علني توګه نه وه اعلان شوې او د اوږدې مودې لپاره ډېرو خلکو په دې اړه دقیق معلومات نه لرل؛ خو په ۱۹٦۰ز. کې، محمدرضا شاه په یوه خبري کنفرانس کې د خپل هېواد له یوه نامتو خبریال او د فلسطینیانو د حقونو ملاتړ کوونکي عبدالرحمن فرامرزي سره مخامخ شو او له شاه څخه یې وپوښتل: آیا ایران، اسرائیل په رسمیت پېژندلی دی او که نه؟ محمدرضا شاه په ځواب کې وویل: «د ایران له خوا د اسرائیلو پېژندنه مخکې د دو فاکتو په ډول شوې وه او دا نوې خبره نه ده. البته د وخت له حالاتو او ښایي د لګښتونو د سپما له امله، څو کاله مخکې زموږ استازي له اسرائیلو راوغوښتل شول او تر اوسه هلته نه دي ستانه شوي».

که څه هم دا څرګندونې د شاه د خبرو په اجنډا کې نه وې؛ خو د دې خبرو نړیوال انعکاس او د مصر د هغه مهال ولسمشر، جمال عبدالناصر، له لوري د پاچا پر ضد پراخه تبلیغاتي کمپاین یو ژور نړیوال بحران رامنځته کړ چې په یوه خوا کې جمال عبدالناصر او د هغه متحدین و او په بله خوا کې د ایران پاچا، چې تور پرې لګېده چې مسلمانانو او د «فلسطین آرمان» ته یې شا کړې ده. په دې توګه، د اسرائیلو موضوع د هغو ملایانو د ویناوو یوه برخه شوه چې د محمدرضا شاه مخالفین وو، د ساواک غبرګون دا و، چې هڅه یې وکړه د اسرائیلو پر ضد له انتقادونو څخه مخنیوی وکړي[16].

بې‌ثباته کړي. په پای کې، د ۱۳۳۲ هـ.ش د مرداد په ۲۸مه (۱۹ اګست ۱۹۵۳) کودتا بریالۍ شوه، مصدق ونیول شو او شاه محمدرضا بیا واک ته راوګرځېد.

Abrahamian, E. (2013). Coup: 1953, the CIA, and the roots of modern U.S.-Iranian relations (pp. 1–35, 103–135).

په ۱۹٦۲ز. کې د حکومت له لوري یوه لایحه تصویب شوه چې له مخې یې ښځو ته د رأی ورکولو حق ورکړل شو او همدارنګه د «ایالتي او ولایتي انجمنونو» (چې ننی ښاروالیو او کلیوالو شوراګانو ته ورته بلل کېږي) د انتخاباتو لپاره د مسلمان شرط له منځه یووړل شو، دا ټول د دې سبب شول چې خمیني د شاه د حکومت پر ضد خپلې سیاسي هلې ځلې ډېرې کړي. له همدې ځایه، هغه په بنسټیز ډول د شاه د واکمنۍ مشروعیت تر پوښتنې لاندې راوست او په دې جمله سره چې: «زموږ دین له خطر سره مخ دی»، هڅه وکړه د هغو بدلونونو پر وړاندې چې د ایران ټولنه ورسره مخ وه، مقاومت وکړي. د امنیتي ادارو له لوري د فشارونو په زیاتېدو سره، بالاخره په ۱۹٦۳ز. د غبرګولي په میاشت کې، خمیني په یوه تاریخي وینا کې د محمدرضا شاه پر ضد تونده نیوکه وکړه او عملاً یې د شاهنشاهۍ نظام پر ضد خپله سیاسي مبارزه پیل کړه. د خمیني استدلال دا و، چې محمدرضا شاه د امریکا متحده ایالاتو او اسرائيلو پورې تړلی شخص دی او د ایران بازارونه یې د دغو هېوادونو په واک کې ورکړي دي او دا ادعا یې هم کوله چې د ایران پاچا اسرائيلو ته نفت ورکوي چې د مسلمانانو پر ضد جګړه وکړي او د هغوی خاوره اشغال کړي.

**په ایران کې د اسلامي انقلاب له بریا وروسته د ایران او اسرائيلو د مخالفت زیاتښت**

په ۱۹۷۹ز. کې د ایران د انقلاب او د اسلامي جمهوریت د تاسیس سره، تهران اعلان وکړ چې نور به اسرائیل په رسمیت ونه پېژني او خپلې ټولې رسمي اړیکې به له دې هېواد سره پرې کړي[۱۷]. یعنې د خمیني او د هغه د همفکرو تر واک ته رسېدو وروسته، د دوی ټول هغه نظریات چې تر هغې مخکې په حاشیه کې وو، د نوي سیاسي نظام بنسټونه وګرځېدل. له پیل څخه، د خمیني لوېدیځضدی سیاست د شوروي اتحاد له ایډیالوژیکو ګوندونو سره یو ډول ګډه بڼه خپله کړه او د امریکا متحده ایالاتو او اسرائيلو ضد دریځ یې د نوي جوړ شوي نظام (اسلامي جمهوریت) د بهرنۍ تګلارې اساسي بنسټ وګرځاوه.

یاسر عرفات چې هغه مهال د فلسطینیانو مشر و، د شاه له نسکورېدو څو ورځې وروسته تهران ته سفر وکړ او له واک ته رسېدلو انقلابیونو یې ستاینه وکړه. دا په

داسې حال کې وه چې عرفات تر انقلاب مخکې هم د ایران د شاه له مالي مرستو برخمن و. په تهران کې د اسرائیلو سفارت هم د فتحې غورځنګ ته وسپارل شو؛ تر څو د یو عملي ګام او لوړ سمبولیک ارزښت په توګه، د نوي حکومت دریځ د اسرائیلو او فلسطین د شخړې په اړه څرګند کړي[18].

له دېنه له وریه ښکاري چې د ۱۹۷۹ز . د ایران د انقلاب له بریا وروسته د اسلامي جمهوریت له خوا د اسرائیلو په رسمیت نه‌پېژندنه او له هغوی سره د اړیکو پرېکول د تهران د نوې تګلارې یو بنسټیز بدلون و چې د خمیني د لوېدیځ‌ضدی او د امریکا متحده ایالاتو–اسرائیلو پر وړاندې د ایډیالوژیک دریځ څرګندونه یې کوله. دا بدلون یوازې د ایران په بهرنۍ پالیسۍ کې د یوې ستراتېژیکې واټن‌نیونې په معنا نه و؛ بلکې د فلسطین د قضیې د نړیوال اهمیت د لوړولو لپاره یې هم عملي او سمبولیک ګامونه پورته کړل چې له دې وروسته ایران د فلسطین د مقاومت یو اصلي ملاتړی او د اسرائیلو سر سخت مخالف و او دی. د ایران بهرنۍ تګلاره په درېیو ستنو، د لوېدیځ ضد ایډیالوژۍ، د فلسطین پر ملاتړ او د اسرائیلو پر دښمنۍ ولاړه شوه چې وروسته یې د سیمې پر جیوپولیټیکو معادلو ژور اغېز وکړ. همدغه و، چې د ایران او اسرائیلو ترمنځ اختلافات نور هم زیات شول چې په لومړیو کې نیابتي جګړو او وروسته مستقیمو جګړو زور واخیست.

## د ایران او اسرئیلو جګړې

ایران او اسرائیل له اوږدې مودې راهیسې د یو بل په وړاندې په نیابتي جګړه کې ښکیل دي. په ۱۹۸۲ز. کې کله چې اسرائیلو پر لبنان برید وکړ. په دې وخت کې ایران د اسرائیلو د نیواک (اشغال) سره د مبارزې لپاره له لبنان سره د حزب الله په جوړولو کې مرسته وکړه.[19]

تهران تل د فلسطین د خلکو د حقونو ملاتړ کړی او د حماس په څیر فلسطیني حرکت سره یې مرسته کړې ده. له هغه وخت راهیسې، ایران او حزب‌الله څو ځله د اسرائیلي دولت له خوا تورن شوي چې د اسرائیلو له هېواد څخه بهر یې په څو بریدونو کې د اسرائیلو او یا د یهودیانو د ګټو پر ضد لاس پورې کړی دی چې یوه نمونه یې په ارجنټاین هېواد کې د یهودیانو د مرکز «آمیا» چاودنه یادوي. لکه څرنګه

مو چې مخکې اشاره وکړه، ايران په ۸۰یمو او ۹۰ يمو زيږديزو لسيزو کې د اسرائيلو پر ضد خپل دريځ نور هم سخت کړ؛ تر هغه ځايه چې علي خامنه‌اي په ګڼو مواردو کې دغه هېواد د «سرطاني غدې» په نوم ياد کړی دی.[۲۰]

ايران په ۱۹۹۸ز. کې ادعا وکړه چې لومړی ځل يې د شهاب-۳ ځمکنی توغندي له ۱۳۰۰ کيلومتره واټن سره آزمايښت کړي دي چې کولای شي تر اسرائيلو ورسېږي[۲۱]. په دې وخت کې د اسرائيلو وېره نوره هم زياتيږي او په مقابل کې يې د امريکا متحده ايالاتو په ملاتړ داسې ګامونه پورته کوي چې ايران ته پکې ضرر ورسيږي. چې له دې جملې څخه د ۲۰۰۰ لسيزې په نيمايي کې، متحده ايالاتو او اسرائيلو د اولمپيکي لوبو پرمهال د ايران اټومي تاسيساتو ته زيان رسوي. په ۲۰۱۰ز. کې په تهران کې د پنځو ايراني اټومي ساينس پوهانو وژنه هم معمولاً اسرائيلو ته منسوبېږي[۲۲] او له دې يو څه مخکې په ۲۰۰۵ز. کې د محمود احمدي‌نژاد د ولسمشرۍ له ټاکنې سره کړکېچونه څو چنده زياتېږي، احمدي‌نژاد په خپلو ويناو کې ډېر ځله د اسرائيلو د له منځه تللو وړاندوينه وکړه او هولوکاست* يې يوه افسانه وبلله، په همدغه کال کې ايران په اصفهان کې د يورانيمو د غني‌کولو فعاليتونه بيا ځل پيل کړل، څو کلونه د سختو لانجو او خبرو اترو وروسته بالاخره د ۲۰۱۵ز. په جولای کې ايران له نړيوالو لويو قدرتونو سره د خپلې اټومي پروګرام په اړه د برجام په نوم يو تړون لاسليک کړ، له ۲۰۱۳ز. راهيسې په داسې حال کې چې په سوريه کې کورنۍ جګړه روانه وه، اسرائيلو د حزب‌الله او ايران د

*. هولوکاسټ (Holocaust) يوه يوناني کلمه ده چې له دوو برخو جوړه شوې ده: (Holos) د «ټولو» او (Kaustus) د «سوځولو او نابودولو» په معنا ده، نو هولوکاسټ په لغت کې د «ټول سوځونې» يا په اور باندې د سوځولو په معنا ده او په اصطلاح کې، هغه نظريې ته ويل کېږي چې ادعا کيږي، شاوخوا شپږ ميليونه يهوديان د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د نازيانو لخوا په کمپونو کې د جبري کار، د ګاز خونو د اعدامونو او د انسان‌سوځوونکو بټيو په څېر کړنو له امله وژل شوي دي. خو د علمي څېړنو او د تاريخ مستندو اسنادو پر بنسټ، د هولوکاسټ کيسه، د انسان‌سوځوونکو بټيو او د ګازو خونو له لارې د شپږ ميليونو يهوديانو د ډله‌يزې وژنې او هر هغه څه چې صهيونيستان يې په دې اړه ادعا کوي، بشپړ دروغ او يوه جوړې شوې افسانه ده. https://fa.wikifeqh.ir/هولوکاست، د مراجعې نېټه: ۱۲/٦/۱۴۰۴.

نظامي مداخلې د مخنیوي لپاره په سلګونو بریدونه د سوریې د دولتي ځواکونو، ایراني ځواکونو او د حزب‌الله جنګیالیو پر ضد ترسره کړل[۲۳].

همدارنګه د ۲۰۲۳ز. د اکتوبر پر ۷مه پر اسرائیلو د حماس له بریدونو وروسته اسرائیلو د مقاومت محور په نښه کړ او د غزې په شخړه او په ۲۰۲۴ز.کال کې د لبنان په یرغل کې ښکیل شو. حزب الله درانه تلفات ولیدل او له داخلي مخالفت سره مخ شو، حماس سخت کمزوری او سوریې د اسد د رژیم له نسکوریدو وروسته له ایران سره اړیکې پرې کړې[۲۴]. په دې وخت کې په دمشق کې د ایران په قونسلګرۍ باندې د اسرائیلو هوایي برید څو ایراني افسران ووژل[۲۵]. په ځواب کې، ایران په همدې میاشت کې پر اسرائیلو برید وکړ او په ۲۰۲۴ز. کال کې، اسرائیلو په تهران کې د حماس مشر اسماعیل هنیه په شهادت ورساوه[۲۶].

نو ویلای شو چې که څه هم ایران او اسرائیل له اوږدې مودې راهیسې په نیابتي جګړو کې ښکېل وو؛ خو په ۲۰۲۴ز. کې لومړی ځل و چې دواړو خواو په ښکاره او مستقیم ډول پر یو بل بریدونه وکړل. اسرئیلو د امریکا متحده ایالاتو په ملاتړ، د یوه منظم پلان پر بنسټ پر ایران د برید زمینه برابر کړه، دوی په سیمه کې هغه نیابتي ډلې چې له ایران څخه یې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول مرستې او ملاتړ تر لاسه کاوه، تر خپلو بریدونو لاندې راوستل، چې ښې بېلګې یې په فلسطین کې د حماس ډله، په لبنان کې د حزب الله ډله، په یمن کې د حوثیانو ډلې کمزوري کول او همدارنګه په سوریه کې د بشرالاسد د نظام نسکورول یادولای شو. کله چې اسرائیلو د امریکا د متحده ایالاتو په ملاتړ په سیمه کې د ایران نیابتي ډلې او یا هم ملاتړي کمزوري کړل، له هغه وروسته اسرائیلو په مستقیم ډول د ۲۰۲۵ز. د جون پر ۱۳مه[۲۷] پر ایران برید وکړ چې ایران ته یې په مختلفو برخو کې ځاني او مالي زیانونه واړول. په دې برید کې د ایران د سپاه پاسدارانو لوړ پوړي پوځي چارواکي، د اټومي انرژۍ مهم تأسیسات، د اټومي انرژۍ پوهان او ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته.

په دې ۱۲ ورځنۍ جګړه کې دواړو خواو ته د زیانونو ترڅنګ په سیمه ییزه او نړیواله کچه هم ځینې هېوادونه له ستونزو سره مخامخ شول، په ایران او اسرائیلو کې هوایي میدانونه وتړل شول، د ایران د حاجیانو راتګ وځنډول شو او همدارنګه

عراق او اردن هم خپل هوايي حریمونه د پروازونو پرمخ وتړل. هوايي شرکتونو د اسراییلو، ایران، عراق او اردن پر فضا الوتنې وځنډولې، ځینو الوتنو خپل مسیرونه بدل کړل او یا هم لغوې شوې. د چین هېواد خپلو وګړو ته چې په ایران کې یې شتون درلود، توصیه وکړه چې له هوښیارۍ څخه کار واخلي[۲۸]، د دې لپاره چې په ایران کې د افغان کډوالو شمېر ډېر زیات دی، د افغانستان اسلامي امارت د هغوی د وضعیت په اړه خپله جدي اندېښنه څرګنده کړه او هغوی ته یې سپارښتنه کوله چې له بې‌ځایه او غیرضروري وتلو څخه ډډه وکړي؛ ترڅو د احتمالي ستونزو او کړاوونو سره مخ نه شي او د خپل راتلونکي د خوندیتوب لپاره د امارت له پالیسیو او لارښوونو سره همغږي پاتې شي.

په اقتصادي او سوداګریزه کچه هم سیمه له یوه لوی ناورین سره مخامخ شوه؛ ځکه د ایران او اسرائیلو د جګړې په لومړیو ورځو کې د تېلو او طبیعي ګازو بیې په نړیواله کچه ۷ سلنه لوړې شوې او ورپسې دا لوړوالی تر ۱۱ سلنې پورې ورسید. له دې سره د سیمې د سوداګریزو فعالیتونو بهیر کمزوری او په نړیوال بازار کې د امریکایي ډالر ارزښت او د سرو زرو بیې په بې‌ساري توګه لوړې شوې. افغانستان چې د تېلو، ګازو او خوراکي توکو یو له مهمو واردونکو هېوادونو څخه ګڼل کېږي، له جدي ستونزو سره مخ شو؛ ځکه د ایران او افغانستان ترمنځ سوداګریزې راکړې ورکړې په بشپړ ډول وځنډېدې او د دې پایله دا وه چې د افغانستان په بازارونو کې د تېلو، ګازو او خوراکي موادو بیې په بې‌ساري توګه لوړې شوې او د خلکو پر ورځني ژوند یې درون اغېز وکړ.

د دې جګړې په اړه په نړیواله کچه ګڼ شمېر هېوادونو غبرګونونه وښودل چې په زیاترو غبرګونونه کې یې اسرائیل د نړیوالو قوانینو او د ملګرو ملتونو د منشور د ښکاره سرغړونکي هېواد په توګه وګاڼه. له دې جملې څخه د افغانستان اسلامي امارت خپل غبرګون داسې څرګند کړ، چې «دا بریدونه د نړیوالو حقوقو له اساسي اصولو، په ځانګړي ډول د هېوادونو له ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا څخه څرګنده سرغړونه بلل کېږي او همدارنګه دا بریدونه په داسې حال کې ترسره کېږي چې د فلسطین مظلوم ولس، په ځانګړي توګه د غزې اوسېدونکي، لا هم د بې‌درېغه

بریدونو تر گواښ لاندې دي او همدارنګه اسلامي امارت له ټولو اړخونو غواړي، چې د سیمې د سولې او ثبات د ساتنې دنده په مسؤلانه ډول ترسره کړي، دې مسئلې ته جدي رسیدنه وکړي او اجازه ورنه کړي چې په سیمه کې لا زیاته بې‌ثباتي او ناامني رامنځته شي»[۲۹]. نو له دې څخه څرګندیږي چې د اسلامي امارت غبرګون د اصولي دریځ او اسلامي هویت پر بنسټ ولاړ دی چې له یوې خوا د فلسطین ملاتړ کوي او له بلې خوا د نړیوالو حقوقو د سرغړونکو غندنه کوي. ورته مهال د اسلامي امارت دا غبرګون په سیمه کې د ثبات او د نړیوالو اصولو د مراعت غوښتونکی دی.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي انتونیو ګوترش ویاند فرحان حق ویلي: چې «د ملګرو ملتونو سرمنشي د منځني ختیځ هر ډول پوځي تاوتریخوالی غندي. هغه په ځانګړي ډول د اسرائیلو له خوا د ایران پر اټومي تأسیساتو بریدونو اندېښمن کړی، په داسې حال کې چې د ایران او متحده ایالاتو ترمنځ د ایران د اټومي پروګرام په اړه خبرې روانې دي»[۳۰].

د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ویاند څرګندونې د دې جګړې نړیوال حساسیت روښانه کوي؛ ځکه چې د ایران پر اټومي تأسیساتو برید نه یوازې د سیمې امنیت ګواښي؛ بلکې د نړیوالو سیاسي خبرو اترو پر بهیر هم منفي اغېز کولی شي، دا ډول غبرګونونه د دې شخړې د خطرناکو پایلو پر وړاندې د احتیاط، ثبات او د نړیوالو اصولو د مراعت غوښتونکي دي، په هر صورت، د ایران او اسرائیلو په ۱۲ ورځنۍ جګړه کې د امریکا متحده ایالات هم په مستقیم ډول ښکېل شول او د ایران پر اټومي بټیو یې برید وکړ، په غبرګون کې یې ایران په قطر کې د امریکا متحده ایالاتو پر پوځي اډې توغندویز برید ترسره کړ؛ خو واشنګټن دا برید کم‌ارزښته وباله او د جګړې د پراخېدو هڅه یې و نه کړه.

د ایران او اسرائیلو جګړه چې د ۲۰۲۵ز د جون په ۱۳مه د اسرائیلو د هوایي بریدونو او د ایران د توغندویي او ډرون بریدونو پر اساس پیل شوې وه؛ شاوخوا دولس ورځې دوام وکړ، په دې موده کې دواړو لورو ته درانه تلفات او مالي زیانونه واوښتل او سیمه له یوې ستري امنیتي او اقتصادي بحراني فضا سره مخ شوه، د جګړې د پراخېدو وېره د نړیوالو بازارونو ګډوډي او د سیمې د بې‌ثباتۍ زیاتوالی د

امریکا متحده ایالاتو، قطر او ځینو نورو منځګړو هېوادونو هڅې ګړندۍ کړې چې په پایله کې د جون په ۲۴مه د امریکا متحده ایالاتو او قطر په منځګړیتوب اوربند رامنځ ته شو او دواړو لورو دا اوربند ومانه.

که څه هم تر اوربند وروسته ځینې محدودې سرغړونې څرګندې شوې؛ خو دغه توافق د جګړې د بشپړ پراخېدو مخه ونیوله او د تاوتریخوالي د لنډمهالي راکمېدو لامل شو، سره له دې چې کړکېچ لا هم پای ته نه دی رسېدلی؛ ځکه اسرائیل د ایران اټومي پروګرام د خپل ملي امنیت لپاره سټراټیژیک ګواښ ګڼي او استدلال کوي چې که دا پروګرام سوله‌ییزه بڼه خپله نه کړي او د نړیوالو څارونکو تر څار لاندې نه وي؛ نو اسرائیل حق لري چې د خپلې ملي امنیتي اړتیا د خوندي کولو په موخه بیا هم پر ایران پوځي اقدام ترسره کړي؛ له همدې امله ویلای شو چې د دواړو هېوادونو تر منځ د جګړې د بیا رامنځ ته کېدو امکان رد کېدای نه شي او که داسې پېښه تکرار شي؛ نو د سیمې پر ثبات به ژور اغېز وکړي او د افغانستان په ګډون ګڼ شمېر هېوادونه به د دې ناورین له سیاسي، امنیتي او اقتصادي پایلو څخه اغېزمن شي.

## د دواړو جګړو متقابلې اغېزې

د روسیې–اوکراین او د ایران–اسرائیلو جګړو تر منځ متقابلې اغېزې په څو لاندنیو برخو کې خلاصه کولای شو:

**لومړی**: له سیاسي او ډیپلوماټیک اړخه.

**دویم**: د اقتصاد او انرژۍ له اړخه.

**درېیم**: له امنیتي او پوځي اړخه.

**څلورم**: د سیمه‌ییز او نړیوال امنیت له اړخه.

د دې اغېزو پایلې شاید متضادې او نابرابرې وي، لکه په لنډمهاله توګه د تېلو او ګازو په قیمتونو کې بدلونونه او په منځمهاله او اوږدمهاله کې د ځواک توازن، د بندیزونو اغېز او د سیمه‌ییزو ملاتړکوونکو تر منځ د سټراټیژیکو بدلونونه را منځ ته کېدل.

## لومړی: له سیاسي او ډیپلوماټیک اړخه

د روسیې–اوکراین جګړې د لوېدیځ ډېری ډیپلوماتیک او سیاسي تمرکز ختیځې اروپا ته اړولی؛ خو که د ایران–اسرائیلو کړکېچ پراخ شي، لوېدیځ به اړ شي؛ ترڅو خپلې ډیپلوماتیکې هڅې د منځني ختیځ د کړکېچونو پر مهار متمرکزې کړي چې دا به د اوکراین د ملاتړ لپاره د سیاسي انرژۍ او منابعو د کمېدو لامل شي او روسیې ته به د خبرو اترو یا پوځي فشار د زیاتولو فرصت برابر کړي[۳۱].

د جګړې د اوږدېدو او د لګښتونو لوړوالي له امله په لوېدیځ کې د متحدینو تر منځ سیاسي اختلافات زیات شوي او د منځني ختیځ نوي کړکېچونه ښایي دا اختلافات نور هم ژور کړي؛ ځکه ځینې هېوادونه د اوکراین د جګړې په پرتله د ایران –اسرائیلو کړکېچ ته زیات اهمیت ورکوي[۳۲] او همدارنګه د اوکراین جګړې د لوېدیځ او د ځینو نورو هېوادونو تر منځ هم اختلافات را څرګند کړي دي؛ ځکه ډېری افریقایي او آسیایي هېوادونه د روسیې پر وړاندې د بندیزونو ملاتړ نه کوي؛ نو که د ایران–اسرائیلو کړکېچ پراخ شي، دا درزونه به څو برابره زیات شي، دا ځکه چې ډېری هېوادونه د منځني ختیځ قضیه د لوېدیځ د دوه‌ګوني سیاست نښه ګڼي، په دواړو جګړو کې د منځګړیتوب لپاره رواني هڅې هم د دوو لویو کړکېچونو د هممهاله شدت له امله ټکنۍ شوې دي او د روسیې یرغل د ملګرو ملتونو د منشور د ځمکنۍ بشپړتیا د اصل پر وړاندې یوه جدي ننګونه ګرځېدلې، په داسې حال کې چې د ایران–اسرائیلو کړکېچ د نړیوالو قاعدو د مراعت لپاره د دوګونو معیارونو بحثونه راپارولي دي[۳۳].

له بله اړخه روسیه هڅه کوي چې لوېدیځ له یو شمېر بحرانونو سره په منځني ختیځ کې بوخت وساتي، که د ایران او اسرائیلو جګړه پراخه شي، روسیې ته به یو سیاسي او سټراټیژیک فرصت برابر شي، هغه دا چې نړیوال ملاتړ به له اوکراین څخه کم شي، د جګړې په پراخېدو سره که چېرې ایران د هرمز تنګي له لارې د تېلو صادرات محدود کړي؛ نو د تېلو او ګازو قیمتونه به لوړ شي چې دا د روسیې عواید زیاتوي او د اوکراین او اروپا لپاره زیانمن تمامېږي او همدارنګه د امریکا متحده ایالاتو متحدین به یو له بل سره مشغول پاتې شي، بل دا چې په دې کې

هېڅ شک نشته که د اسرائيلو او ايران ترمنځ جګړه د بيا ځل لپاره رامنځ ته او پراخه شي؛ نو د نړيوالو رسنيو، سياسي ادارو او نړيوالو قدرتونو تمرکز به له اوکراين څخه منځني ختيځ ته واوړي.

په ټوله کې د دواړو جګړو متقابلې سياسي او ډيپلوماټيکي اغېزې د لوېديځ د پاملرنې وېش، د ائتلافونو د متحد ساتلو ستونزې، د نړيوالو سازمانونو د اغېزمنتيا کمېدل، د نړۍ د هېوادونو او لوېديځ ترمنځ د درزونو پراخېدل او د نړيوال نظم پر مشروعيت د فشار په بڼه څرګندېږي چې دا ټول د نړيوال ډيپلوماټيک نظم د اوږد مهالې بې‌ثباتۍ نخښې ګڼل کېږي، د روسيې–اوکراين او د ايران–اسرائيلو جګړو هممهاله جريان د نړيوال نظم د ثبات، د لوېديځ د سټراټيژيک تمرکز او د نړيوالو سازمانونو د اغېزمنتيا لپاره يو جدي ازموينه ده، د دوو جبهاتو مديريت د لوېديځ تمرکز وېشي او د روسيې لپاره د اروپا په ډګر کې د نفوذ د زياتېدو زمينه برابروي، په داسې حال کې چې د متحدو ائتلافونو د واحدې تګلارې ساتل ستونزمنېږي او د روسيې او ايران لپاره په نړيوال ډيپلوماټيک ډګر کې د... نور فرصتونه برابروي، د ملګرو ملتونو او نورو نړيوالو سازمانونو د منځګړيتوب ظرفيت کم شوی چې دا د نړيوال نظم د کمزورۍ نخښه ده او د سولې د پروسو مخه نيسي، د دې ترڅنګ د دواړو کړکېچونو له امله د اوکراين د سولې خبرې اترې کېدای شي وځنډېږي چې دا به د نړيوال نظم د قاعدو د مشروعيت پر وړاندې شکونه زيات او د نړيوالې اجماع جوړول به لا ستونزمن کړي او د اوږدمهالې بې‌ثباتۍ لامل به وګرځي.

## دويم: د اقتصاد او انرژۍ له اړخه

عموماً جګړې د پانګونې چاپېريال خرابوي، د ټرانسپورټي لارو د خونديتوب په اړه اندېښنې پيدا کوي او د خوراکي توکو او انرژۍ بيې لوړوي چې دا د نړيوال اقتصاد لپاره ستر ګواښ ګڼل کېږي، په بېلابېلو مرحلو کې دواړو جګړو د نړيوالو تېلو او ګازو بازارونه بې ثباته کړي دي، د روسيې او اوکراين د جګړې له امله پر روسيې غربي بنديزونه، د د روسي ګازو او تېلو پر صادراتو محدوديتونه، د عرضې کمښت او د ګازو، تېلو او نورو محصولاتو په بيو کې بدلونونه رامنځ ته کړي دي، دې جګړې د روسيې د عوايدو لپاره ځينې فرصتونه او خطرونه رامنځ ته کړي دي.

د انرژۍ د نړیوالې ادارې(IEA*) د راپورونو له مخې په تیرو څو میاشتو کې (د روان زېږدیز کال له مارچ څخه د جولای تر اخره) کله چې د تېلو او ګازو بیې لوړې او صادرات یې زیات شول؛ نو د روسیې د خامو تېلو او محصولاتو عوایدو زیاتوالی وموند. د روسیې لپاره لوړې بیې د لنډ مهال لپاره د عایداتو سرچینه ده؛ خو د اوږد مهال لپاره د بیو عمومي بې ثباتي د مسکو اقتصاد لپاره خطر جوړولای شي؛ ځکه چې د صادراتو کچه کمیږي او دا به د روسیې د تېلو او ګازو د استخراج لپاره یو لوی زیان وي. د دې ادارې د راپورونو له مخې د ۲۰۲۵ز. د مارچ په میاشت کې د روسیې د تېلو د صادراتو او محصولاتو عواید ۲۱ سلنه او د همدې کال د جون په میاشت کې ۱۴ سلنه د تیر کال په پرتله کموالی درلود چې دا کموالی د عرضې د کمېدو او د روسیې د تخفیفونو له امله رامنځته شوی دی[٣٤].

دا به په نړیواله کچه د انرژۍ د بازار عمومي بې‌ثباتۍ ته زیان ورسوي، په ورته وخت کې د ایران او اسرائیلو جګړې د خلیج او هرمز تنګي په اړه اندېښنې راپورته کړې دي چې تېلو ته د رسېدو خطر یې رامنځ ته کړی، د مالي/اقتصادي تحلیلي ادارې* د تحلیل له مخې که چېرې د یوې میاشتې لپاره د هرمز تنګي نیمایي برخه د تېلو د انتقال پر مخ وتړل شي؛ نو د تېلو د یوه بیرل بیه به په موقت ډول تر ۱۱۰ ډالرو پورې ورسېږي[٣٥] او همدارنګه د انرژۍ د نړیوالې ادارې (IEA) او یورونیوز (Euronews) د راپورونو له مخې د هرمز تنګی یو له بااهمیته تنګیو څخه دی چې په هره ورځ کې د تېلو تقریباً ۲۰ میلیونه بیرله تېل او د تېلو محصولات د نړۍ ډېرو برخو ته انتقالوي، که دا تنګی وتړل شي یا د انتقال لارې یې له خطر سره مخ شي؛ د تېلو بیې په چټکۍ سره لوړېږي[٣٦].

د نړیوال بانک د یوه راپور له مخې، که د تېلو په عرضه کې اختلال رامنځته شي، د تېلو بیې له ۲۱٪ څخه تر ۳۵٪ پورې لوړېدلای شي، یعنې دا چې د یوه بیرل بیه به له

* International Energy Agency (IEA)

*. Goldman Sachs

۱۰۹ ډالرو څخه ۱۲۱ ډالرو پورې ورسېږي او په لوړه کچه د نرخونو ګډوډې، دا قيمتونه له ۱۴۰ ډالرو څخه تر ۱۵۷ ډالرو پورې رسولای شي[۳۷].

بل دا چې د ايران- اسرائيلو کړکېچ د انرژۍ بازار ته د روسيې د نفوذ کچه لوړه يا ټيټولای شي؛ ځکه چې لګښتي هېوادونه د بديلې عرضې لارې لټوي، د اقتصادي همکارۍ او پراختيا سازمان (OECD)** او د انرژۍ د نړيوالې ادارې راپورونو له مخې د انرژۍ د امنيت اړتياوې، لکه د انرژۍ د وارداتو کموالی او د توليدي لګښتونو لوړوالی، د پانګونې چاپېريال ته نوي خطرونه او پېچلتياوې رامنځ ته کوي؛ نو که د انرژۍ سرچينې خرابې يا انتقال لارو ته يې خطر پېښ شي؛ نو د توليد لګښتونه لوړېږي، پانګوال به احتياطي تدابير غوره کړي چې دا د پانګونې د کچې د راټيټولو لاملېږي[۳۸].

همدارنګه دې جګړو د خوراکي توکو او انرژۍ پر واردونکو هېوادونو درونډ مالي بار تحميل کړی؛ ځکه چې د غلو او تېلو بيو لوړېدل د دې هېوادونو د عمومي بيو او انفلاسيون فشار مستقيم زياتوي. د ټرانسپورټي لارو د خونديتوب په اړه انديښنې، لکه بنديزونه، د سمندري لارو تعرض، د بيمې لوړ شوي نرخونه او د لارو د تړل کېدو يا ځنډېدو خطر، د نړيوال تجارت لګښتونه او د وارداتو او صادراتو وخت په پراخه کچه زيانمن کړی دی، دغه وضعيت پانګوال په ځانګړي ډول په ټيټ او منځني عايد لرونکو هېوادونو کې له نوو پروژو څخه ډډې کولو ته اړ کړي دي؛ ځکه چې د نامنۍ او قېمتونو د بې‌ثباتۍ له امله د پانګونې خطر زيات شوی چې پايله يې د مستقيمو پانګونو کموالی او د اقتصادي ودې ټکني کېدل دي، نړيوال بانک، د پيسو نړيوال صندوق، د خوړو نړيوال پروګرام، اقتصادي همکارۍ او پراختيا سازمان (OECD) او د انرژۍ د نړيوالې ادارې(IEA) په خپلو راپورونو کې پر دغو ننګونو ټينګار کوي او هېوادونو ته يې سپارښتنه کړې چې د غذايي امنيت د پياوړتيا، د انرژۍ د وارداتو د تنوع او د پانګونې د اعتبار او اعتماد د ساتنې لپاره بېړني او اغېزمن ګامونه واخلي.

**. Organization for Economic Co-operation and Development (OECD).

## درېیم: له امنیتي او پوځي اړخه

په امنیتي او پوځي ډګر کې د روسیې-اوکراین او ایران-اسرائیلو جګړو یو پر بل د متقابل فشار او فرصت په توګه عمل کړی، د سرچینو وېش، د اکمالاتو ستونزې، د پرمختللو ټکنالوژیو تبادله، د سمندري لارو ناامني او د لوېدیځو متحدینو ترمنځ د کورني فشار زیاتوالی هغه کلیدي فکټورونه دي چې دواړه جګړې یو د بل پر وضعیت اغېزمنوي، دا وضعیت نه یوازې د سیمه‌ییز امنیت؛ بلکې د نړیوالو ایتلافونو د ثبات لپاره هم سترې ننګونې زېږوي، د روسیې-اوکراین جګړې لوېدیځ هېوادونه، په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالات او ناټو اړ کړي چې په ختیځه اروپا کې د اوکراین د ملاتړ لپاره پراخ نظامي او مالي سرچینې ولګوي[39].

له بله پلوه د لوېدیځ هېوادونو د وسلو او مهماتو زېرمې د اوکراین د جګړې له امله د پام وړ کمې شوې دي؛ نو د یوې نوې جبهې پرانیستل، لکه د ایران-اسرائیلو جګړه، دا زېرمې نورې هم خالي او د اکمالاتو پر مهالویش یې اغېزې کولای شي[40] او لوېدیځ به د وسلو د تولید زیاتولو ته اړ شي؛ خو دا به ډېر وخت ونیسي او په لنډمهال کې به د اوکراین دفاعي ظرفیت زیانمن کړي چې دا به روسیې ته یو ښه فرصت برابر کړي.

د دواړو جګړو اړخونه د بې‌پیلوټه الوتکو، هوایي دفاع، الکترونیکي جګړې او اوږده واټن توغندیو په برخه کې د پرمختللو ټکنالوژیو څخه کار اخلي. دا وسلې او تجربې ممکن د متحدینو ترمنځ تبادله شي. د بېلګې په توګه، ایران پر روسیې بې‌پیلوټه شهید ډرون الوتکې پلورلې دي[41]، چې د اوکراین په جګړه کې کار ورڅخه اخیستل کېږي. دا پوځي همکاری د دواړو جګړو د اغېزو ترمنځ مهم پل ګڼل کېږي. د اوکراین د جګړې اوږدېدل د ایران د وسلو تقاضا لوړه کړې او د اسرائیلو سره د ایران کړکېچ د دې وسلو پرمختګ ته نوره هم لاره هواره کړې ده. د ګاردین ورځپاڼې د یوې لیکنې له مخې، ایران د بې‌پیلوټه الوتکو (شهید ۱۲۹، شهید ۱۹۱) او مهاجر ٦ ډرونونه په پټو یا نیمه‌پټو لارو روسیې ته استولي دي[42] او ایران د شهید ۱۳۱ او ۱۳٦ ډرونونه روسیې ته ورکړي او روسیه د دغو ډرونونو لپاره د تخنیکي برخو واردات هم کوي[43].

همدارنګه اسرائيل د لوېديځ د دفاعي ټکنالوژۍ یو مهم شریک دی، چې د اوکراين ملاتړ هم کوي. د ايران د ډرونونو کارول، د اسرائيلو د ټکنالوژيکي ځواب لټون ته لاره هواروي او دا به دواړو جګړو کې د ټکنالوژۍ د سيالۍ کچه لوړه کړي، له دې جګړو څخه يوه اړينه مسئله هم د يرغليزې او دفاعي ټکنالوژۍ پرمختګ او د هېوادونو ترمنځ پرې د سياليو رامنځته کېدل دي، د روسيې او اوکراين د جګړې اوږدوالی او همدارنګه د ايران او اسرائيلو جګړې، د نړۍ نور هېوادونه او په ځانګړي ډول، ايران دې ته هڅولی؛ ترڅو د ډرون جوړولو او په ځانګړي ډول هغه ډرونونه چې په ټيټه بيه او په کثرت سره توليديږي، مخه کړي چې دې کار د اسرائيلو لپاره د چټکو غبرګونو اړتيا رامنځ ته کړې ده چې نوي دفاعي سيسټمونه جوړ او نوې ټکنالوژي لوړ حد ته ورسوي.

اسرائيل وايي چې د برېښنايي جګړې (spectrum warfare) ټيمونه دې ته چمتو دي چې د ايران لخوا د ډرون بريدونه په هوايي او برېښنايي ساحو کې کشف او مخنيوی يې وکړي. دا کار د هغو ډرونونو لپاره اړين دی چې ښه پېژندل کېدل يې ستونزمن دي[٤٤] او همدارنګه اسرائيل خپل دفاعي صنعت ته اجازه ورکړې چې د ډرونونو د مخنيوي ټکنالوژۍ ته پرمختګ ورکړي.

## څلورم: د سيمه‌ييز او نړيوال امنيت له اړخه

د روسيې او اوکراين جګړې په اروپا کې د امنيتي توازن بنسټونه سخت ولړزول، چې دا بدلون د منځني ختيځ لپاره هم زوړ اهميت لري. لوېديځ ځواکونه اوس د دوو جبهاتو، اوکراين او منځني ختيځ ترمنځ د خپلو نظامي او ډيپلوماټيکو سرچينو په وېشلو مجبور شوي دي. په داسې حال کې، که د ايران او اسرائيلو کړکېچ پراخ شي، د لوېديځ تمرکز به لا پسې وووېشل شي او دا به روسيې ته يو سټراټيژيک فرصت برابر کړي څو د اوکراين په جبهه کې له نړيوال فشار او سختو بنديزونو څخه څه ناڅه ساه واخلي. برعکس، که د روسيې او اوکراين جګړه په ناڅاپي ډول پراخه شي، لوېديځ ښايي د منځني ختيځ د کړکېچونو، په ځانګړي ډول د ايران د نفوذ د مهارولو لپاره کافي سياسي او پوځي سرچينې و نه لري، دا دوه اړخيزه وضعيت نه يوازې د نړيوال امنيت لپاره نوي ګواښونه رامنځ ته کوي؛ بلکې د سترو قدرتونو تر منځ سيالۍ نوره هم پېچلې کوي.

د ناټو په یوه رسمي راپور کې راغلي دي، چې د ۲۰۲۲ز. د روسیې له یرغل وروسته، په اروپا کې د جګړې او امنیتي اندېښنو کچه لوړه شوې ده او د ناټو متحدینو خپلې دفاعي بودیجې لوړې کړې دي، د اروپا په شرقي پولې ( Eastern Flank) کې پوځي تشکیلات او د چټک غبرګون ځواکونه (battle-groups) ځای پر ځای شوي دي[٤٥].

په یوه بل راپور کې چې د چین-روسیې د نږدې ښکېلتیا په اړه دی، وایي چې د روسیې او چین همغږې پالیسي د اروپا لپاره امنیتي ګواښ دی؛ ځکه چې اروپا اوس باید په څو اړخونو کې له فشار سره مقابله وکړي، دا فشارونه یوازې د اوکراین له جبهې څخه نه دي؛ بلکې د منځنی ختیځ د احتمالي کړکېچونو او د چین له اقتصادي او سیاسي ځوابونو څخه هم رامنځ ته کېږي[٤٦].

د دې راپورونو له مخې ویلای شو، چې د روسیې–اوکراین جګړې د اروپا امنیتي توازن له څو اړخونو زیانمن کړی، چې پکې د دفاعي تیاریو زیاتوالی، د ناټو په کچه ګډ پوځي تمرینونه، په پولو کې د ځواکونو ځای‌پرځای کول او د انرژۍ د امنیت حساسېدل شامل دي، چې دا ټول د لوېدیځو هېوادونو لپاره د مالي او لوجستیکي فشارونو سرچینې ګرځېدلي دي. په بل اړخ کې، که د ایران–اسرائیل کړکېچ پراخ شي، لوېدیځ به اړ شي چې خپل پام، وسایل، ډیپلوماټیکي هڅې او پوځي اکمالات څو جبهاتو ته ووېشي، چې دا وېش به د اوکراین د ملاتړ په شدت کې د کمښت یا ځنډ لامل شي؛ نو په دې صورت کې روسیه له دې وضعیت څخه د خپلو عملیاتو د پیاوړتیا او د فشار راوړنو د زیاتوالي لپاره ګټه پورته کولای شي. سره له دې لوېدیځ هېوادونه، په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالات او اروپایي متحدین یې، تر اوسه پر اوکراین د ملاتړ ژمنې ته پابند پاتې دي او د نړیوالې ډیپلوماسۍ د حیثیت، د بشري حقونو مسایل او د متحدینو کورني سیاسي فشارونه د دې مخه نیسي چې لوېدیځ په بشپړ ډول د منځنی ختیځ کړکېچونو ته توجه واړوي.

## پر افغانستان د ایران، اسرائیلو او روسیې، اوکراین جګړو اغېزې

په اوسني نړیوال سیستم کې د سیمه‌ییزو او نړیوالو قدرتونو سیالۍ او شخړې یوازې د ښکېلو هېوادونو تر پولو پورې محدودې نه پاتې کېږي؛ بلکې د ګاونډیو او

حتی لرې پرتو هېوادونو پر سياسي، اقتصادي او امنيتي وضعيت هم ژور اغېز کوي. د ايران– اسرائيلو دوامداره کړکېچ او د روسيې– اوکراين اوږدمهاله جګړه په دې لړ کې دوه مهم بحرانونه دي چې د منځني ختيځ، مرکزي آسيا او جنوبی آسيا امنيتي معادلات يې بدل کړي دي.

افغانستان د جغرافيايي موقعيت او سياسي حساسيت له امله د دې دواړو کړکېچونو له اغېزو خوندي نه دی پاتې شوی. د ايران او اسرائيلو شخړه په منځني ختيځ کې د نيابتي جګړو د زياتېدو لامل شوه، چې د سيمه‌ييزو وسله‌والو ډلو ترمنځ د وسله‌والو تجهيز او تمويل بهير يې پياوړی کړی. دا بهير کولای شي په افغانستان کې د امنيتي انډول پر ګډوډولو، په ځانګړي ډول که د سيمې د افراطي ډلو ترمنځ د ايديولوژيکو اړيکو پراختيا رامنځته شي، اغېز وکړي.

د ايران او اسرائيل د جګړې يوه مستقيمه اغېزه پر افغان کډوالو د ايران د «امنيتي کمپاين» چټکېدل او د جبري ستنوولو (Deportations) زياتيدل دي. د ايران چارواکو او دولتي رسنيو په ايران کې مېشت افغانان د ايران لپاره «امنيتي ګواښ» ونومول او د نيولو، بندي کولو او جبري ايستلو کچه يې لوړه کړه[٤٧]. د نړيوالې کډوالۍ ادارې (IOM)* د راپورونو له مخې د ۲۰۲۵ز. د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۲۹ نېټې پورې تقريباً ۷۰۰زره او د همدې کال يوازې د مې په مياشت کې تقريباً ۲۵٦۰۰۰ افغانان جبراً له ايران څخه ايستل شوي دي[٤٨].

له دې څخه له ورايه ښکاري چې ايران له کلونو راهيسې د افغان کډوالو لپاره يو کوربه هېواد و؛ خو د ايران او اسرائيلو له جګړې وروسته، ايران د افغان کډوالو پر وړاندې سخت دريځ خپل کړ او هغوی يې د «امنيتي ګواښ» په نوم جبراً ستنول پيل کړل. د ۲۰۲۴ز. په پرتله په ۲۰۲۵ز. کې په ايران کې د افغان کډوالو ايستل درې برابره زيات شوي دي. دغه جبري بېرته ستنېدنې په افغانستان کې د سرحدي سيمو د استوګنځايونو او بشري مرستو غوښتنه ډېره کړې، د ښارونو پر کاروبار او ټولنيزو خدمتونو فشار زيات شوی، همدارنګه د ستنېدونکو پر لارو خطرونه هم ډېر

*. International Organization for Migration (IOM).

شوي، لکه د هرات د اگست خونړۍ پېښه چې لسگونه کډوال پکې ووژل شول. په ټوله کې، د ایران او اسرائیلو د جگړې له امله د ایران امنیتي اندېښنو د افغان کډوالو جبري ستنول چټک کړي او دا بهیر افغانستان ته د جدي ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د راتلو لامل شوی دی.

همدارنگه دې کړکېچونو په اقتصادي لحاظ هم په نړیواله کچه هېوادونه او په ځانگړي توگه افغانستان زیانمن کړی دی، د تېلو او گازو بیې تل، لویو جیوپولیټیکو پېښو او نړیوال اقتصادي حالت ته په کتو بدلون کوي؛ نو د اسرائیلو او ایران د بریدونو د پیل پر مهال یې د بیو بدلون د حېرانتیا خبره نه ده. دا ځکه چې درې کاله دمخه د روسیې له خوا د اوکراین له برید وروسته پېښ شول او په نړیواله کچه یې ژوند اغېزمن کړی دی. کله چې د تېلو او گازو عمده بیې لوړې شي؛ نو د نړۍ پر هېوادونو په ځانگړي توگه په افغانستان کې ډېر خلک نېغ په نېغه د دې بیو د لوړوالي احساس کوي، هغه د دې لپاره چې د ژوندانه د اولیه توکو بیې په بې‌سارې ډول لوړې شي. دا یو حقیقت دی چې دا لوړوالی له صنعتي تر کرنیزو توکو د ټولو پر بیو اغېز کوي.

او بل دا چې د لوېدیځوالو له لوري پر ایران د لگېدلو اقتصادي بندیزونو اغېزې یوازې د دغه هېواد پر داخلي اقتصاد پورې نه محدودېږي؛ بلکې د افغانستان پر سوداگریزو مسیرونو هم مستقیم اغېز لري؛ ځکه چې ایران د افغانستان لپاره د یو مهم ټرانزیټي دهلېز په توگه د مرکزي اسیا، خلیج او اروپا تر منځ د نښلونکي پُل حیثیت لري. له همدې امله، هر ځل چې د ایران پر وړاندې بندیزونه زیاتېږي، د افغانستان د صادراتو او وارداتو بهیر یا محدودېږي او یا هم د بدیلو لارو (لکه کراچۍ بندر یا مرکزي آسیایي مسیرونه) لگښتونه لوړیږي. برعکس، که د بندیزونو په شدت کې نرمښت راشي، نو د افغانستان لپاره د چابهار بندر او د ایران نورې ټرانزیټي لارې د سوداگرۍ د پراختیا لپاره نوې فرصتونه برابروي.

د منځني ختیځ روان کړکېچ یوازې د سیمې د ستراتیژیکو معادلو د بدلون نښه نه ده؛ بلکې د افغانستان د اسلامي امارت لپاره هم د بهرنۍ تگلارې په ډگر کې نوې ننگونې او فرصتونه پیدا کولای شي. هغه دا چې له یوې خوا، د ایران او اسرائیلو ترمنځ د شخړې پراخېدل او د لوېدیځو هېوادونو سخت دریځ، کولی شي پر اسلامي

امارت د فشار د زیاتېدو لامل شي؛ ترڅو د سیمې له متخاصمو لورو سره دریځ ټاکلو ته اړ شي او د خپلو اړیکو په توازن کې د حساسیتونو سره مخ شي؛ خو له بلې خوا، همدغه کړکېچ کولای شي د افغانستان لپاره د ځینو سیمه‌ییزو هېوادونو، لکه چین، روسیې او پاکستان، له لارې د سیاسي ملاتړ، اقتصادي همکارۍ او نوي ټرانزیټي فرصتونو د ترلاسه کولو امکان هم زیات کړي. په همدې توګه، د منځنۍ ختیځ شخړې د اسلامي امارت د بهرنۍ تګلارې د توازن د پالیسۍ پر ازموینې بدلېدلای شي چې پایله یې د سیمه‌ییزو اړیکو په بڼه، یا د نویو محدودیتونو او یا پراخو فرصتونو په راڅرګندېدو تمامیدلای شي.

همدارنګه د روسیې او اوکراین د جګړې له اړخه ویلای شو چې روسیه د افغانستان په اړه خپل ډیپلوماتیک دریځ د لویدیځ سره د روانو ستراتیژیکو سیالیو په رڼا کې رامنځته کوي؛ ترڅو د نړیوالو قدرتونو د نفوذ په ډګر کې خپل موقعیت خوندي او پراخ کړي. د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې بحث هم د همدې ستراتېژیکو محاسبو برخه ده؛ ځکه مسکو هڅه کوي له یوې خوا د افغانستان له لارې د مرکزي آسیا امنیتي ثبات او د ترهګرۍ د خپرېدو مخه ونیسي او له بلې خوا د لویدیځو هېوادونو پر وړاندې د سیاسي نفوذ د یوې وسیلې په توګه د کابل لوري ته د ملاتړ یا بې‌اعتبارۍ ستراتیژي وکاروي. په دې وخت کې د روسیې او لویدیځ کړکېچ کولای شي د افغانستان لپاره په سیمه کې د متوازن سیاست د لوبولو یو نوی فرصت برابر کړي؛ ځکه چې کابل د بېلابېلو قدرتونو تر منځ د متقابلې اړتیا پر محور ولاړ دی؛ خو که چیرې اسلامي امارت د دغې پېچلې معادلې مدیریت په سمه توګه کنټرول نه شي کړای؛ نو دغه فرصت د فشار په یوې جدي سرچینې او د سیاسي انزوا په یوه عامل بدلېدلای شي.

له اقتصادي اړخه هم، د روسیې او اوکراین جګړې د نړیوالو خوراکي او انرژۍ بازارونو پر ثبات ژور اغېز کړی دی. د دې جګړې له امله د غنمو او خوراکي توکو نړیوال بازارونه ګډوډ شوي دي چې په پایله کې یې افغانستان، چې د غنمو او اوړو یوه لویه برخه له بهر څخه واردوي، د خوراکي توکو د عرضې او بیو د بې‌ثباتۍ سره مخ شوی و. له بلې خوا، د لوېدیځو بندیزونو له کبله د روسیې د انرژۍ د صادراتو کچه

محدود شوې؛ خو مسکو د بدیلو بازارونو د موندلو هڅه کوي؛ دغه وضعیت کولای شي، د افغانستان لپاره د ټرانزیټي دهلېزونو د اهمیت زیاتېدو او د نوي اقتصادي فرصتونو د رامنځته کېدو لامل شي، په ځانګړي ډول که د مرکزي آسیا، ایران او پاکستان له لارې د انرژۍ د لېږد بدیلې لارې فعالې شي، بل دا چې د جګړې اوږدېدل د نړیوالو توجه د افغانستان له ستونزو او اقتصادي اړتیاوو څخه نورو بېړنیو نړیوالو بحرانونو ته اړولې ده چې د افغانستان د بهرنیو مرستو د جذب بهیر یې کمزوری کړی دی. په همدې توګه، د روسیې او اوکراین جګړه د افغانستان لپاره هم ډېرې ستونزې (لکه د تېلو او ګازو لوړې بیې) رامنځته کړې دي.

د امنیت له اړخه هم، د روسیې او اوکراین جګړې د نړیوال قدرتي نظم پر محورونو ژور اغېز کړی، چې له امله یې د مرکزي آسیا او افغانستان په امنیتي معادلاتو کې د مسکو د رول د بیا ارزونې اړتیا رامنځته شوې ده. که روسیه د جګړې د اوږدېدو، اقتصادي بندیزونو او سیاسي انزوا له امله د لا ډېر فشار لاندې راشي؛ نو د روسیې د سیمه‌ییز نفوذ او ځواک په کمېدو سره به د افغانستان امنیتي وضعیت له نویو ننګونو سره مخ شي؛ هغه دا چې د روسیې شتون د مرکزي آسیا د امنیتي چتر په توګه ګڼل کېږي او د روسیې د کمزورۍ په صورت کې به د سیمې د قدرتي توازن تشه رامنځته شي؛ نو دا تشه کولای شي د افراطي ډلو د بیا راټولېدو، د سرحدي ناامنۍ د پراخېدو او د سیمې د سیالو قدرتونو ترمنځ د نفوذي جګړې د زیاتېدو لامل شي چې افغانستان به یې لومړنی متأثر هېواد وي. له همدې امله، د اوکراین جګړه د افغانستان د امنیتي راتلونکې لپاره د یوې مهمې ناپېژندل شوې معادلې په توګه مطرح کېږي.

## پایله

نړیوال سیاسي او امنیتي بدلونونه د معاصر نړیوال نظم له جوړښت، د قدرتونو د تګلارو او د ستراتېژیکو موخو له میکانیزمونو سره ژور او متقابل تړاو لري. د روسیې او اوکراین جګړه او د ایران–اسرائیلو کړکېچ، سره له دې چې د جغرافیایي موقعیت، مذهبي محور او مستقیمو لوبغاړو له پلوه جلا دي؛ خو د نړیوال نظام د سیالۍ، د انرژۍ

د سرچينو د کنټرول او د زېرځواکو هېوادونو د ستراتېژيکو سياستونو له لارې په متقابل ډول سره تړلي دي.

د روسيې–اوکراين جګړې د نړيوال قدرتي توازن پر محورونو اغېزې کړې او د لوېديځو هېوادونو د بهرنۍ تګلارې د بيا تنظيم سبب شوې، چې د نړيوال اقتصاد په ځانګړې توګه د خوراکي توکو او انرژۍ په بازارونو کې يې ګډوډي رامنځته کړې ده. له بلې خوا، د ايران–اسرائيلو کړکېچ د منځني ختيځ امنيتي معادله نوره هم پېچلې کړې او د لوېديځو قدرتونو په ځانګړي ډول د امريکا د متحده ايالاتو ستراتېژيک تمرکز يې د دې سيمې پر لور اړولی دی.

په داسې حال کې چې د دې تورونو امتيازات د بحرين په محکمو کې په عادلانه توګه و نه ټاکل شول، د بحرين له شيعه ګانو سره د سنيانو دښمني په دې وخت کې ډېره زياته او بده شوه، د بحرين د مظاهرو او پاڅونونو په جريان کې سني مشرانو په مکرر ډول شيعه ګان ايران ته په ژمنتيا تورن کړل او وړانديز يې وکړ چې دوی دې ياد هېواد ته کډوال شي، ځينو معتدل شيعه ګانو اعتراف وکړ چې د شيعه افراطيانو د بيانياتو او همدارنګه د شيعه ټولنې د تبعيض تاريخ له امله د ټولنې اړيکې زيانمنې شوي، د بحرين حکومت د سعودي په مشرۍ له مداخلې وروسته د خپل واک د ټينګولو لپاره نورې ستونزې هم درلودې، د ۲۰۱۱ ز. د اپريل په مياشت کې د بحرين حکومت د وفاق ګوند او د اسلامي عمل په ټولنه بنديز ولګاوه.[٦]

وفاق په بحرين کې تر ټولو لوی سياسي ګوند دی او د بحرين د پارلمان په ولسي جرګه کې يې له ۴۰ څوکيو څخه ۱۸ ترلاسه کړې، کله چې د همدې کال د فبرورۍ په ۱۴ مه ناامني پيل شوه؛ په دې اړه سعوديان پوه شول چې د امريکا متحده ايالاتو اندېښنه او غبرګون ښودلی او له هغو سازمانونو څخه يې د مشروع سياسي ګوندونو په توګه دفاع وکړه چې د قانوني لارو د سمون لپاره مبارزه کوي.[٧]

د بحرين حکومت په چټکۍ سره د متحده ايالاتو د سختو نيوکو له امله په خپل دريځ له سره غور وکړ او داسې ښکارېده چې د دې ګوندونو د ناقانوني کولو لپاره حرکت ودرول شو، په دې لړ کې د بحرين حکومت له امريکا سره د ښو اړيکو ارزښت ته دوام ورکړ، په داسې حال کې چې سعودي عربستان يې تر ټولو مهم ملګری پاتې شو، سربېره پردې د بحرين خلکو د ايران په وړاندې د متحده ايالاتو همکاريو ته ارزښت ورکړ او په بحرين کې د متحده ايالاتو د پنځمې بېړۍ د مرکز شتون د دوی په وړاندې د ايران د نظامي انتخابونو د محدودولو لپاره يو مهم خنډ وګاڼه، په بحرين باندې تورونه هم د نورو مسئلو په اړه د ايران او GCC تر منځ د دښمنانه بيانياتو د پام وړ زياتوالي لامل شو، د ۲۰۱۱ز. په اپريل کې د GCC د بهرنيو چارو وزيرانو د يوې غونډې يو بيان خپور کړ چې د سازمان غړي هېوادونه د ايران د مداخلې د دوام په اړه ژور اندېښمن دي او ټينګار يې کړی و چې تهران د GCC هېوادونو له حاکميت څخه سرغړونه کوي.[٨]

مخکې رياض په بحرين کې د سعودي په مشرۍ د مداخلې په اړه د ايران انتقاد ته په ځواب کې ويلي وو چې د ايران تورونه نامسؤلانه دي او د سعودي عربستان په وړاندې بې بنسټه تورونه ښکاره جرم دی.[9]

د کويټ د بهرنيو چارو وزير محمدصباح الصباح هم پر ايران غږ کړی و چې خپل چلند بدل کړي؛ خو هېڅ خليجي هېواد له تهران سره اړيکې پرې نه کړې[10] او بحرين په مختلفو وختونو کې هغه کسان نيول چې له ايران سره يې د کار کولو شک پرې درلود.[11]

## ۳- په سوريه کې د ايرن او سعودي عربستان سيالۍ

د ايران نږدې عربي متحد سوريه وه او تهران په سوريه کې د ۲۰۱۱ز. مشهورو ناکراريو ته د پام وړ اندېښنو په سترګه کتل، د سورېې په ناکراريو کې د لاريونوالو زړورتيا هم د پام وړ ده، د علوي اقليت اسلامي فرقه چې د سورېې حکومت په مشرتابه کې شامل و؛ په واک کې پاتې کېدل د دوی د راتلونکي هوساينې او شايد د دوی د ټولنې د ډېرى غړو د راتلونکي بقا لپاره اړين وي، که څه هم د علوي ټولنې غړي د سورېې د نفوس يوازې ۱۰ سلنه جوړوي؛ خو د سورېې د جمهوري غوښتونکو ګارډ او څلورمه زغرواله فرقه، اشرافي واحدونه چې تقريباً د علوي افسرانو او سرتېرو له خوا اداره کېږي او هلته استخباراتي او امنيتي ځواکونه هم د علوي ډلې اړوند واکمنان دي او نااشرافي واحدونه معمولاً د دوی په سازماني جوړښت کې په کليدي پوستونو کې علوي افسران ځای پرځای کوي چې دا ټول ساختماني احتياطونه ډېر ستونزمنوي چې د رژيم د واک په وړاندې يو اغېزمن بغاوت رامنځ ته کړي، که څه هم ناراضه لاريونوال د رژيم له ځواکونو سره په مقابله کې زړورتيا ښيي، ښايي دوی کولای شي د وسلوالو ځواکونو سني غړي ژمنې کولو ته وهڅوي، بغاوت وکړي او يا ورسره يوځای شي، په سوريه کې روانې مبارزې ته په کتو احتمال لري چې تهران به تاوان وکړي، په داسې حال کې چې ايران او سوريه د ايران د اسلامي جمهوريت له جوړېدو راهيسې ښې اړيکې لري.[12]

د ايران د انقلاب له بريا وروسته سوريه يو له هغو دوو عربي دولتونو څخه وه چې د ايران- عراق جګړې پر مهال يې د تهران لپاره ډيپلوماټيک او بيانياتي ملاتړ چمتو کړ[13]،

سوريه د يو سيکولر بعثي دولت په توګه له اسلامي جمهوريت سره په حکومتي جوړښت کې ډېر توپير لري، سره له دې چې د دغو هېوادونو تر منځ ښو اړيکو د ايران- عراق تر جګړې وروسته هم د يو لړ دلايلو له مخې دوام درلود، د روانو اړيکو د پياوړتيا لپاره يو ځانګړی مهم عامل له اسرائيلو سره په راتلونکي کې د سوريې د هر ډول مقابلې په صورت کې د سوريې د ملاتړ د چمتو کولو ادعا وه، په همدې او نورو دلايلو دواړه هېوادونه په متحده ايالاتو ژور بې باوره شول، د جورج ډبليو بوش د واکمنۍ پر مهال ايران او سوريه د امريکا له نه ستړې کېدونکې دښمنۍ سره مخ شول، په داسې حال کې چې يوازې ايران د بديو د محور دولت نومول شوی و، دمشق په ښکاره انديښمن و چې د متحده ايالاتو په مشرۍ په عراق بريد به په سوريې له بريد سره وتړل شي، که چېرې عراق ژر تر ژره ارام شي او يو لوېديځ پلوه حکومت ته وسپارل شي، د بوش ادارې هيله درلوده چې دا کار وکړي.[۱۴]

که څه هم اوس داسې ښکاري چې د سوريې دا انديښنه بې بنسټه وه، دا د هغه وخت د متحده ايالاتو او سوريې د اړيکو خراب حالت منعکسوي، پداسې حال کې چې د متحده ايالاتو او سوريې اړيکې د ولسمشر اوباما د ادارې په وخت کې يو څه ښې شوې، دوی د سوريې د نه ليوالتيا له امله کمزوري پاتې شول چې بايد د حماس او حزب الله ملاتړ کم کړي.[۱۵]

وروسته له واشنګټن سره اړيکي د بشارالاسد د رژيم د ظالمانه جبر په وړاندې د مبارزې لپاره د لاريونوالو لپاره د متحده ايالاتو د خواخوږۍ له امله نورې هم کمې شوې، په وروستيو کلونو کې سوريايي او ايرانيو وګړو ځانونه د حماس او حزب الله تر څنګ د مقاومت محور بلل چې له اسرائيلو سره د مقابلې لپاره د دغو هېوادونو او سازمانونو ګډې لېوالتيا ته اشاره کوي، ايرانيان اکثره وخت ځان د دې ايتلاف د طبيعي مشر په توګه ګڼي، په داسې حال کې چې دمشق د تهران د هڅو په وړاندې مقاومت کوي، دا مبارزه کله نا کله ستونزمنه شوې هم ده؛ ځکه چې ايران د سوريې لپاره د پوځي مرستو يوه مهمه سرچينه وه، په ځانګړې توګه د راکټ او مزايل د ټکنالوژۍ په برخو کې.

تهران په سوریه کې د اسرائیلو د راتلونکو بریدونو په مخنیوي کې له نورو بیا مرسته غوښته، د ایران د هغه وخت د ولسمشر مرستیال محمد ارد رحیمي په دمشق کې په یوه خبري کنفرانس کې ویلي وو چې ایران به د اسرائیلو د هر ډول تېري پر وړاندې د سوریې تر څنګ ولاړ وي، له ایران سره د سوریې د اړیکو مهم ارزښت دا دی چې تهران ته په لبنان کې د خپلو متحدینو د ملاتړ لپاره لوژستیکي ملاتړ برابروي لکه څنګه چې حزب الله هم د سوریې متحد دی؛ نو دا ستونزمنه ده چې سوریه په دې لاره کې د ایرانیانو د ملاتړ لپاره هر ډول قرباني ورکړي، سربېره پر دې د اسرائیلو په وړاندې د متحد په توګه د ایران ارزښت شاید کم شوی وي؛ ځکه چې د بشارالاسد رژیم په زیاتېدونکي توګه پوهېږي چې د اسرائیلو مشران شک لري چې په سوریه کې د رژیم بدلون به د اسرائیلو امنیت ته وده ورکړي، په زړه پورې خبره دا ده چې اسرائیلیان په خپل هېواد کې د سوریې ناکراریو د اغېزو په اړه د دوی په ارزونه کې وېشل شوي، اسرائیلیان د بعثي رژیم له خوا له بشارالاسد څخه وروسته د یو ځواکمن او په مساوي ډول د اسرائیل ضد رژیم په اړه اندېښمن دي.[١٦]

د ډېرو اسرائیلیانو لپاره مهمې پوښتنې کېدای شي دا وي چې ایا په سوریه کې ډموکراټیک انقلاب کولای شي یو لیبرال رژیم رامنځ ته کړي او تر ټولو مهم په سوریه کې انقلاب کولای شي چې په ایران کې د انقلابي ناورین په بیا را ژوندي کولو کې مرسته وکړي، لکه څنګه چې د ۲۰۰۹ز. له جنجالي ټاکنو وروسته پېښې شول، سوریایانو د ۲۰۱۱ ز. په مارچ کې په بحرین کې د سعودي د پوځي مداخلې ملاتړ وکړ.[١٧]

د ۱۹۷۰لسیزې راهیسې سوریه د بشارالاسد کورنۍ د قوي علوي ولسمشرانو له خوا رهبري کېږي، علویان معمولاً د شیعه مسلمانانو یوه فرعي ډله ده چې په ایران، عراق او لبنان کې خپلې عقیدوي او نورې اړوندې چارې پرمخ وړي، د دې کړنلارې تر ټولو د پام وړ مثال ښایي ممکن د ۱۹۹۰ز. د خلیج بحران وي، کله چې صدام حسین په کویټ یرغل وکړ او دمشق د دې یرغل په وړاندې د (۱۹۹۱-۱۹۹۰) ز.کلونو په ترڅ کې په نړیوال ایتلاف کې د ګډون لپاره سعودي عربستان ته ۱۷۰۰۰ زغرواله فرقه او ۳۰۰ ټانکونه ولېږل.[١٨]

د سعودي عربستان او سوريې اړيکې د ۲۰۰۵ ز. د فبرورۍ په ۱۴مه هغه مهال خرابې شوې؛ کله چې د لبنان پخوانی لومړی وزير رفيق حريري او د هغه اته تنه همکاران وروسته له هغه ووژل شول چې له پارلمانه کور ته روان وو او هغه ته په موټر کې يو لوی بم ځای پر ځای شوی و، له بريد وروسته تقريباً په ټوله نړۍ کې داسې انګېرل کېده چې دا کار د سوريې د استخباراتو کار و، له حريري سره د سعودي عربستان ځانګړو اړيکو او د هغه وژنې يو مهم جيوسټراټيژيک خنډ جوړ کړ، د بريد په پايله کې سعودي عربستان د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د ۱۵۵۹پرېکړه ليک ۲۰۰۴ز، د سپټمبر ۲ په اساس خپل ملاتړ تازه کړ چې له امله يې سوريې له لبنانه د خپلو نظامي ځواکونو د ايستلو غوښتنه وکړه او له لبنانه د سوريې د اردو او استخباراتي خدماتو د ايستلو په لار کې متحده اياﻻتو د هغوی د ډيپلوماټيکو هڅو ملاتړ وکړ.(۱۹)

دا هڅې د ۲۰۰۵ز. د اپريل په مياشت کې له لبنان څخه د سوريې د ځواکونو د ايستلو لامل شوې چې دوی د ۱۹۷۰ لسيزې له نيمايي راهيسې ځای پر ځای شوي وو، په ځينو وختونو کې سعوديانو وکوﻻی شول چې د سوريې د رژيم په وړاندې خپله دښمني له منځه يوسي او هڅه يې وکړه چې له دمشق سره په لبنان کې د خراب شوي وضعيت د ژغورلو په برخه کې مرسته وکړي چې د حريري په وژنه کې د سياسي قطبي کولو په شمول مخ په زياتېدو و، د ۲۰۱۰ز. د جوﻻی په ۳۰ مه بشار اسد او د سعودي پاچا عبدالله د پخواني لومړي وزير رفيق حريري د قتل په موضوع چې د حزب الله په غړو احتمالي تورونه په کې شامل وو؛ د تاوتريخوالي کمولو په اړه په بيروت کې کتنه وکړه.(۲۰)

د لبنان ځانګړې محکمه سوريه په مستقيم ډول د حريري د وژنې مسؤله نه بولي او پر ځای يې د څلورو لبناني شکمنو کسانو د نيولو امر صادر کړ چې د حزب الله غړي دي، حزب الله د تورونو په وړاندې په غوسه غبرګون وښود، په داسې حال کې چې د حريري پلوه ډلو له محکمې سره د لبنان د همکارۍ غوښتنه وکړه، دا موضوع تر اوسه ناحل پاتې ده، که څه هم تورن کسان د خلکو له نظره ورک شوي او داسې ويل شوي چې شايد ايران ته تښتېدلي وي، سعوديانو، کويټيانو او بحرينيانو د ۲۰۱۱ ز. د اګست په لومړيو کې له دمشقه خپل سفيران د بشاراﻻسد

د رژیم د سیاستونو د اعتراض لپاره وایستل؛ خو ریاض هېڅکله د سوریې رژیم ته د یوه متحد په سترګه نه دي کتلي او تمه کېده چې د دې رژیم له نسکوریدو سره به تهران خپل تر ټولو مهم عرب ملګری له لاسه ورکړي، برعکس ریاض به په یقیني توګه د سوریې وضعیت ته د سعودي د بې کفایته بریا په سترګه و نه ګوري، حتیٰ که د اسد رژیم ړنګ او پر ځای یې د ایران ضد حکومت جوړ شي.

**۴- په فلسطین او لبنان کې د سعودي عربستان او ایران سیالي**

د فلسطین مسئلې او د منځني ختیځ د سولې پروسې په اړه د سعودي عربستان د چلند او پالیسیو ارزونه په پراخه کچه توپیر لري، په ښکاره ډول ریاض د فلسطین د ملي حقونو پیاوړی ملاتړی او په اسرائیلو سخت او پرله پسې انتقاد کوونکی دی، سربېره پر دې سعودیانو په ختیځ بیت المقدس کې د فلسطیني مسلمانانو د ادعاو په کلکه ملاتړ کړی او په زاړه ښار کې د دوی د شتون د پراخولو لپاره د اسرائیلو له هڅو سره دښمني لري، یو شمېر شنونکي سعودي د عرب-اسرائیلو په مسئلو کې منځلاری اړخ ګڼي، د دې لید تر ټولو قوي ثبوت د سعودي عربستان د سولې پلان دی چې د عرب لیګ له خوا د ۲۰۰۲ز. په مارچ کې په بیروت کې د سرمشریزي یې په کنفرانس کې تصویب شوه.(۲۱)

دغه وړاندیز د ۱۹٦۷ ز. د جون په جګړه کې د نیول شوو ټولو سیمو د بېرته راستنېدو په بدل کې د عرب لیګ د ټولو هېوادونو له خوا د اسرائیلو د هراړخیزو پېژندلو موضوع وه، د اسرائیلو ډېری سیاسي مشرانو ویلي وو چې دا پلان خورا ښه او مهم دی، که موږ یې منو، یا نه(۲۲)، په داسې حال کې چې ریاض هر وخت د سولې په بهیر کې د پرمختګ احتمال ته لېواله نه دی، د سعودي مشرانو هم وېره لرله چې د هغې بشپړ سقوط به د دوی په لګښت د ایران سیمه ییز ځواک زیات کړي، په داسې شرایطو کې د ایران سخت دریځه چلند به ډېری عربانو ته وروسته ثابت شي، سعودي عربستان له فلسطینیانو سره د مرستې او د هغوی په ګټه له خپلو مالي سرچینو او سیاسي نفوذ څخه د استفادې لپاره ډېرې هڅې کړي، ریاض د فلسطین له دواړو لویو سیاسي ګوندونو فتح او حماس سره عادي سیاسي اړیکې ساتي چې وروستی یې د متحده ایالاتو له خوا د یو ترهګر سازمان په توګه ونومول شو، په دې لړ کې د سعودي حکومت

له ډېرې مودې راهیسې په مستقیمه توګه د فلسطین مختلفو مؤسسو او ادارو ته پیسې منتقل کړې، د دې پیسو یوه مهمه برخه په لوېدیځه غاړه کې د فلسطین ادارې ته چې د فتح تر کنټرول لاندې ده؛ مرسته شوې.[۲۳]

له حماس سره مالي اړیکې ډېرې جنجالي او پیچلې دي، د سعودي حکومت د اسرائیلو پر ضد د حماس ترهګریز اقدامات غندلي، پاچا عبدالله هم پر غزې د اسرائیلو پوځي بریدونه د فلسطینیانو پر ضد د نسل وژنې عمل بللی دی.[۲۴]

برسېره پر دې د سعودي حکومت په کلکه ټینګار کوي چې حماس ته مستقیمې پیسې نه ورکوي، که څه هم د ۲۰۰۰ لسیزې په لومړیو کې د سعودي خصوصي پیسې د حماس د عملیاتي بودیجې شاوخوا نیمايي اټکل شوې وې[۲۵]، له هغه وخت راهیسې اسرائیلو او امریکايي سرچینو ویلي چې حماس ته د سعودي شخصي پیسې کمې شوې دي.[۲۶]

ښايي دا پرمختګونه پر ریاض د نړیوالو فشارونو او یا هم د سعودي د ناخوښۍ پایله وي چې حماس په ډراماټیک ډول په ایران تکیه وکړه، ایران د فلسطین مسئلې ته په بل ډول کتلي، تهران د سولې لپاره د فورمولونو د وړاندې کولو پر ځای هڅه کړې چې ځان د یو مخکښ وسله وال ځواک په توګه انځور کړي چې د فلسطینیانو د حقونو ملاتړ کوي او د اسرائیلو مخالفت په شمول د دې چې د مختلفو وسیلو له لارې فلسطیني اسلامي وسلوالو ډلو ته وسلې او نور ملاتړ چمتو کوي، د لارښودۍ دغه نقش د تهران لپاره په داخل کې د رژیم د ملاتړ د پیاوړتیا او د خپل سیمه ییز نقش د لوړولو او په ټوله سیمه کې د اسرائیلو ضد ولسونو تر منځ د ودرېدو د لارې په توګه مهم دی، په اوس وخت کې ایران په ښکاره توګه د حماس مخکښ مالي ملاتړی دی، حماس اوس په ایران دومره تکیه کوي چې ډېری وختونه د نیابت په ملاتړ تورنېږي، د فتح مشرانو ویلي چې ایران هڅه کوي له حماس څخه په استفادې د فلسطین پر خلکو خپله اجنډا تحمیل کړي.[۲۷]

فلسطیني ډلو ته د وسلو په ورکولو کې د ایران لېوالتیا ښه ثابته شوې، یوه تر ټولو ډراماټیکه پېښه چې د ایران- فلسطین اړیکې پکې شاملې وې؛ د ۲۰۰۲ز. د جنورۍ په ۳ مه رامنځ ته شوه، کله چې اسرائیلو د فلسطین باروړونکې کارین A بېړۍ ونیوله، په

وسلو کې د کاتیوشا راکټونه، هاوانونه، د کلاشینکوف ټوپکونه، مهمات، د ټانک ضد وسلې، پلاستیکي چاودېدونکي توکي او نورې وسلې شاملې وې، د فلسطین د ادارې مشر یاسر عرفات بیا له بېړۍ سره د هر ډول تړاو خبره رد کړه[۲۸]، د کارین A نېول د اسرائیل او فلسطین په اړیکو هم ناوړه اغېزه درلوده او د فلسطین له ادارې سره یې د متحده ایالاتو اړیکې زیانمنې کړې، د تهران لپاره د کارین پېښې د متحده ایالاتو د ولسمشر جورج ډبلیو بوش باور ته هم لاره هواره کړه چې ویې ویل: ایران د نه منلو وړ فاسد دولت دی، اسرائیلیان په دې باور دي چې له دې لارې برابرې شوې ډېرې وسلې او چاودېدونکي توکي د ایرانیانو تولید دی.[۲۹]

په ډېر ډراماټیک ډول اسرائیلو د ۲۰۱۱ز. په مارچ کې یوه بله اضافي سوداګریزه کښتۍ ونېوله او راپور یې ورکړ چې په دې کې د توغندیو سیسټمونه او همدارنګه په فارسي ژبه له عملیاتي لارښودونو بار شوې وه[۳۰]، اسرائیلي سرچینو ویلي وو چې د ایران پلان دا و چې دغه وسلې د تونلونو له لارې غزې ته دننه کړي، اسرائیلو ویلي وو چې د ۲۰۱۱ ز. د جنورۍ راهیسې چې ولسمشر مبارک له واکه لرې شو؛ د مصر په پوله کې ستونزې ډېرې شوې[۳۱]، ښایي ایران له دې وضعیته د ګټې اخیستو هڅې وکړي، د ایران مشرتابه هم د نړیوالو سرلیکونو په څواب کې له اسرایلو سره د خپل مخالفت او د فلسطین د ملاتړ څرګندولو لپاره ځینې رښې خو اصلاً تشې ژمنې وکړې.

یوه بله ورته پېښه وروسته له هغه رامنځ ته شوه چې د ۲۰۱۰ ز. د جون په میاشت کې د اسرائیلو د سمندري ځواکونو له خوا د ترکیې یوه مرستندویه بېړۍ ودرول شوه چې د نهو ترکانو د وژل کېدو په ګډون یوه لویه نړیواله پېښه رامنځ ته شوه[۳۱]، د برید په پایله کې د ایران د رهبر ایت الله علي خامنه یي استازي وویل چې د ایران د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونه به په راتلونکي کې د غزې ترانګې ته د اکمالاتو د رسولو لپاره د سمندري واحدونو چمتو کولو ته چمتو وي، که څه هم د ایران د دې پالیسۍ د پلي کولو لپاره کومې ورتیا شتون نه درلود[۳۳]، په دې باور ګران کار دی چې تر ټولو سخت دریځه ایراني مشر په دې باور وي چې دا ډول کړنې به د دوی لپاره ښه پایله ولري، بل ځای بیا ایران په لبنان کې له سعودي

عربستان سره په سیالۍ کې برلاسی ښکاري، لبنان یو کوچنی کمزوری دولت دی چې د سیمې او نړۍ د مختلفو هېوادونو له خوا اغېزمن شوی، په وروستیو کلونو کې د لبنان لپاره تر ټولو مهم قدرتونه چې د سوریې، ایران، متحده ایالاتو، اسرائیلو او سعودي عربستان په ګډون پکې نفوذ لري، په دې مبارزه کې ایران د نفوذ په سیالۍ کې ځینې ځرګندې ګټې او موخې لري چې تر ټولو مهم یې د لبنان له سیاسي سازمان حزب الله سره قوي اړیکې دي؛ مګر دا د لبنان په سیاست کې یو له خورا پیاوړو سیاسي سازمانونو څخه دی، حزب الله د لبنان شیعه ګانو لپاره یوه پراخه فلاحي او تعلیمي شبکه چلوي او خپل (المنار ټلویزیون) هم لري او په پرله پسې ډول په پارلمان او کابینه کې استازي هم لري، حزب الله د لبنان یوازنی سیاسي سازمان دی چې دا مهال د کورنۍ جګړې د دورې ملیشې ساتي، د حزب الله د پوځي وسلو د ساتلو پرېکړه اکثره د نورو لبنانیانو له خوا یوه ستونزه ګڼل کېږي، که څه هم د حزب الله غړي او ایرانیان دا ډول کړنې د اسرائیلو د نظامي اقدام په وړاندې د مخنیوي په توګه توجیه کوي.[۳۴]

ایران په حزب الله خپل نفوذ د پراخو مالي او مادي مرستو له لارې ساتي چې معمولاً د سوریې له لارې لبنان ته لېږدول کېږي، حزب الله ښایي د ایران لپاره د یوې ستراتېژیکې شتمنۍ په توګه په خپل نقش کې وده وکړي، د ۲۰۱۰ ز. په اکتوبر کې د حزب الله مشر حسن نصرالله ادعا وکړه چې د هغه سازمان د توغندیو زېرمه شاوخوا ۴۰۰۰۰ راکټونو او توغندیو ته زیاته شوې، په داسې حال کې چې د ۲۰۰٦ ز. په جګړه کې یې یوازې له ۱۴۰۰۰ نه تر ۲۰۰۰۰ پورې د لنډ واټن راکټونه درلودل، د ۲۰۱۰ ز. په اپریل کې د اسرائیلو ولسمشر شیمون پیریز تور ولګاوه چې سوریه حزب الله ته د SCUD توغندي ورکوي چې دا کار به له ایران سره په همغږۍ ترسره شوی وي، پیریز له یو شمېر اسرائیلي چارواکو څخه لومړی نفر و چې دا ډول تورونه یې ولګول، د متحده ایالاتو ژورنالیستیکي سرچینو بیا راپور ورکړی و چې حزب الله تر ۱۰ پورې SCUD-D توغندي لري.

سعودي عربستان د لبنان په سیاست کې وروسته له هغه مهم شو چې د ۱۹۸۹ز. د طایف تړون کې یې مرسته وکړه چې د لبنان کورنۍ جګړه پای ته ورسېده،

د طايف له موافقې وروسته سعودي عربستان هم د لبنان په بيارغونه کې مهم نقش ولوباوه، په ۱۹۹۲ز. کې سعودي پلوه لبناني ميليارډر رفيق الحريري د طايف تړون په پايله کې لومړی وزير شو چې په لبنان کې د سعودي نفوذ روښانه وده او په اقتصادي بيارغونه کې د سعودي د ښکېلتيا لپاره يې قوي احتمال رامنځ ته کړ، حريري يو سني مسلمان و چې په سعودي عربستان کې يې خپله پراخه شتمني جوړه کړې وه، د خپل مالي ځواک او له سعودي مشرتابه سره د نږدې اړيکو له امله په چټکۍ سره په لبنان کې د سنتي عنعنوي اشرافو تر سيوري لاندې شو[۳۵]، حريري په لبنان کې د سعودي ګټو لپاره يو مخکښ سړی و[۳٦]، هغه د (۱۹۹۸-۱۹۹۲ز) پورې د لومړي وزير په توګه دنده ترسره کړه.

د ۲۰۰٦ز. د جولای په مياشت کې د حزب الله په وړاندې په لبنان کې د اسرائيلو پوځي مداخلې د تهران لپاره ځينې فرصتونه رامنځ ته کړل؛ ځکه چې اسرائيلي مشران په خپل اعتراف سره د دې مداخلې له پايلو څخه ناخوښ وو، د ۲۰۰٦ز. په دوبي کې د حزب الله په وړاندې د اسرائيلو ناسمه پلان شوې ۳۳ ورځنۍ جګړه ناکامه شوه، چې دا جګړه حزب الله وګټله، له همدې امله د حزب الله او د هغې د ايراني ملاتړو حيثيت او شهرت په سيمه کې يو څه لوړ شو، تر دې چې حزب الله وتوانيد چې د لوی شمېر کاتيوشا راکټونو او ځينو اوږد واټن توغنديو په کارولو سره په اسرائيلو بريد وکړي، لبنانيانو په پوره چمتوالي دا کار کاوه؛ خو د لبنان د همدې جګړې په جريان کې دوه اسرائيل تښتول شوي وو چې د هغوی له امله په دوی انتقادونه ډېر شول چې په دې انتقادکوونکو کې سعودي عربستان هم شامل و.[۳۷]

د ۲۰۰٦ز. له جګړې وروسته د ايران او سعودي عربستان رقابت او په لبنان کې د هغوی د ملاتړو تر منځ هم داخلي جګړې جريان پيدا کړ چې په دې وختونو کې د ځينو کړنو له امله لبنانيانو د ايران دريځونو ته په متضادو نظرونو کتل؛ خو ډېر لبنانيان ايران خپل نږدې متحد بولي چې له دوی سره يې په سختو ورځو کې د پام وړ ملاتړ کړی دی، د ۲۰۱۰ز. په اکتوبر کې د ايران ولسمشر محمود احمدي نژاد لبنان ته دوه ورځنی رسمي سفر د دې لپاره وکړ چې د ايران او لبنان اړيکې لا روښانه کړي، په داسې حال کې چې په لبنان کې د ايران او د هغوی د رقيبانو د

ملاتړو تر منځ ستونزې او تاوتريخوالی په ډېرېدو و، احمدي نژاد په دې سفر کې د لبنان سوېلي سيمو ته هم تللی و چې د ايران په مالي ملاتړ سرکونه جوړ شوي وو[۳۸]، د ايران ولسمشر دغه سفر د دوی په دوه اړخيزو اړيکو کې بريالی ياد کړی و چې ښه او تود هر کلی يې هم شوی و.[۳۹]

د ۲۰۱۰ ز. په نومبر کې د لبنان د هغه وخت لومړي وزير سعد حريري تهران ته رسمي سفر وکړ چې د دواړو هېوادونو تر منځ د اقتصادي او سياسي اړيکو د ټينګولو په موخه يې يوه هڅه ياده کړې وه[۴۰]، د ۲۰۱۱ ز. په جنورۍ کې د لومړي وزير سعد حريري حکومت ړنګ شو، کله چې د حزب الله د کابينې غړو او د هغوی متحدينو د حکومت د نسکورولو لپاره په ډله ييزه توګه استعفا وکړه؛ دوی دا کار د لبنان په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړې محکمې STL سره د ۲۰۰۵ز. د رفيق حريري د وژنې په تحقيق کې د همکارۍ کولو يا نه کولو په اړه د اختلافاتو له امله وکړ، STL هغه مهال د حزب الله څلور غړي په دې موضوع تورن کړي وو[۴۱]، د حريري له ګوښه کېدو وروسته د لبنان نوی حکومت تر ۵ مياشتو راغونډ نه شو، کله چې ميلياردر او پخوانی لومړی وزير نجيب ميقاتي د حزب الله په ملاتړ دا څوکۍ ترلاسه کړه[۴۲]، نوې کابينه د حزب الله او د هغوی د متحدينو په واک کې وه، په دې شرايطو کې د رفيق حريري په وژنه کې د يو ډول عدالت د ترلاسه کولو لپاره د سعودي عربستان او سني لبناني ټولنو هيلې د پام وړ ټکنۍ شوې، ميقاتي د خپل اړخ لپاره په کلکه ټينګار وکړ چې هغه يو خپلواک سياستوال دی او د حزب الله ګوډاګی نه دی[۴۳]، له دې ډاډونو سره سره د هغه وزيران په پراخه کچه په دې وپېژندل شول چې دوی سوريه او ايران پلوه دي او د دوی نوی لومړی وزير د سورېې د ولسمشر بشارالاسد نږدې ملګری دی.[۴۴]

د ميقاتي حکومت رامنځ ته کېدو د متحده ايالاتو لپاره ستونزې رامنځ ته کړې چې دمخه يې حزب الله د يو ټروريستي سازمان په توګه پېژندلی و او د لبنان په حکومت کې د دوی نوي مونډل شوي شهرت ته يې سپک نظر درلود، په ۲۰۱۰ز. کې لبنان د خپلو امنيتي ځواکونو د پياوړتيا لپاره د متحده ايالاتو له نظامي مرستې څخه شاوخوا ۱۰۰ ميليون ډالر ترلاسه کړل، متحده ايالاتو د ۲۰۰۶ز. تر پايه د

نظامي او قانون پلي کولو پروګرامونو لپاره تر ۸۰۰ میلیون ډالرو پورې تمویل لبنان ته چمتو کړی و(۴۵)، په ځواب کې د ایران حکومت اعلان وکړ چې غواړي د متحده ایالاتو پر ځای د لبنان د نظامي مرستې اصلي سرچینې په توګه وټاکي؛ ځکه چې د ایران لپاره د دفاعي تدارکاتو د بیا پیلولو کومه جدي هڅه به یو سخت کورنی او نړیوال بحران رامنځ ته کړي.(۴۶)

## ۵- په عراق کې د ایران او سعودي عربستان سیالۍ

عراق د ایران او سعودي عربستان دواړو لپاره مرکزي اندېښنه ده او له ۲۰۰۳ز. نه تر مخه د صدام حسین له رژیم سره د دوی دوه اړخیزه دښمني یو له مهمو اندېښنو څخه وه چې دا هېوادونه پکې شریک وو: ریاض او تهران دواړو د خپل تاریخ په مهمو نقطو کې له یوه نادوستانه عراق سره مقابله کړې او دواړه هېوادونه په بغداد کې د یو دښمن رژیم د احتمالي راڅرګندېدو په اړه اندېښمن و، د صدام د نسکورېدو راهیسې دا ستونزه د تهران په پرتله د ریاض لپاره ډېره ستونزمنه شوې وه، ایران له صدام وروسته د شیعه واکمنو حکومتونو په لړ کې له عراق سره خپلې اړیکې د پام وړ ښې کړې، په داسې حال کې چې سعودي عربستان د لومړي وزیر نوري المالکي په ګډون د عراق له ډېری مشرانو سره په کافي اندازه ترینګلې اړیکې وساتلې، دا مهال عراق د تېلو له نړیوالو شرکتونو سره د کار کولو جدي هڅې پیل کړې چې د خپلو تېلو د زیربناو بیارغونه په داسې طریقه جوړه کړي چې د تېلو د مخکښ صادرونکي په توګه راڅرګند شي.(۴۷)

دا پرمختګ کولای شي د نړۍ د تېلو په بازار کې د ریاض سیمه ییز او نړیوال نفوذ کمزوری کړي، ښایي چې د عراق دا کار به د ایران لپاره دومره ستونزمن نه وي؛ ځکه چې تهران او بغداد د تېلو په اړه ورته اندېښنې لري، له بده مرغه سعودیان خامخا اندېښمن دي چې په بغداد کې د شیعه ګانو د واکمنۍ هر ډول حکومت جوړول ممکن داسې شرایط رامنځ ته کړي چې عراق او ایران کولای شي د ډیپلوماټیک پروپاګند او ممکن د تخریب هڅو کې د دوی پر وړاندې د تنظیمولو لپاره سره یوځای شي، دا ډول لنډ مهاله اتحاد په سیمه کې د سعودي ګټو د پرمختګ لپاره احتمالي ویجاړونکی کېدای شي، ایراني مشران سره له دې چې په بغداد کې له خپل اوسني نفوذ سره سره په دې پوهېږي چې دوی د سعودي عربستان په پرتله د یو دښمن بیا

پياوړي شوي عراق څخه ډېره وېره لري، که چېرې اړيکې يې خرابې شي؛ د ايران او عراق د اته کلنې جګړې ميراث چې په ترڅ کې يې دواړو غاړو ته په سلګونو زره کسان ووژل شول؛ په دې برخه کې په ځانګړې توګه د پام وړ دی، په ايراني ټولنه کې سلګونه زره معيوب جنګيالی شتون لري چې د جګړې د پايلو هېرول يې ستونزمن دي.[۴۸]

د جګړې په پايله کې عراق د منازعې سيمې کنټرول ترلاسه کړ او له ايران سره پوله په داسې ډول تعريف شوه چې د عراق ګټې منعکسوي[۴۹]، څو کاله وروسته ايران په لېوالتيا سره وليدل کله چې عراق په دوديزه جګړه کې د صحرا توپان په عملياتو کې په پراخه کچه ماتې وخوړه، په داسې حال کې چې ايران په خپلو توغنديو، ځواکونو او د اټومي بډايه کولو په پروګرام کې ښه بوخت و، کله چې په ۲۰۰۳ز. امريکا په عراق بريد وکړ، په دې اړه رياض ځينې جدي اندېښنې درلودې، که څه هم دا اندېښنې د متحده ايالاتو د سيمه ييز نفوذ د پراخېدو په اړه نه وې؛ بلکې په عراق کې د ايران د نفوذ د پراخېدو او خورېدو او نورو موضوعاتو په اړه وې، بل دا چې سعوديانو د ايران- عراق له جګړې وروسته د صدام حسين په اړه ژوره اندېښنه درلوده چې صدام يې د ځان لپاره يو خطر باله؛ خو دا وېره سعودي ته د ۱۹۹۱ز. د عراق د سترې پوځي ماتې وروسته د نظامي بنديزونو په لړ کې کمه شوه، په ۱۹۹۱ ز. کې د صدام له ماتې وروسته د سعودي عربستان تر ټولو سترې وېرې په عراق کې د ايران پلوه سياستوالو په مشرۍ د سعودي ضد شيعه رژيم احتمالي راڅرګندېدل و، وروسته له هغه چې د صحرا توپان عمليات پای ته ورسېدل، داسې ښکارېده چې رياض صدام ته د يو معيوب او جلا شوي سني په سترګه ګوري، تهران له ۲۰۰۳ ز. راهيسې د رياض په پرتله په عراق کې د نفوذ د ترلاسه کولو په هڅه کې د پام وړ فعال دی؛ ځکه چې په ځانګړې توګه د عراق او افغانستان په ګاونډيو هېوادونو کې د متحده ايالاتو د پوځي ځواک او نفوذ د ناڅاپه زياتوالي له امله اندېښمن شو.[۵۰]

يو له ډېرو ستونزمنو لارو څخه چې ايران په عراق کې خپل نفوذ لري؛ د مختلفو شيعه ملېشو سازمانونو له لارې دی چې دا سازمانونه په عراق کې د ترورېزم او نظامي

بریدونو کې ښکېل دي، دا ایران پلوه ملیشې کله ناکله د ځانګړو ډلو په نوم هم یادېږي، ایران په دوی کې د پام وړ نفوذ لري او د ایران د سپاه پاسداران د قدس ځواک له لارې دغو ځواکونو ته وسلې او روزنه ورکوي[٥١]، له واک څخه د صدام د لرې کېدو وروسته کلونو کې ایرانیانو د عراق د شیعه له سیاسي ګوندونو او حرکتونو سره د الصدر غورځنګ په ګډون نږدې کار وکړ، دې غورځنګ خپلې ملېشې د مهدي پوځ یا (جیش المهدي) په نوم ساتلې چې له تهرانه یې مالي مرستې او پوځي تجهیزات ترلاسه کول، د ۲۰۰۷ز. په شاوخوا کې ایرانیانو د مهدي پوځ لپاره خپل ملاتړ کم کړ، په ۲۰۰۸ز. مقتدا الصدر د مهدي پوځ ته امر وکړ چې بې وسلې شي او یوه بشري ډله شي.[٥٢]

دمګړۍ الصدر په ایران کې پاتې دی او یو بل ملیشه یې تنظیم کنټرولوي چې ٦۰۰۰۰ ملېشه یې ځواک لري[٥٣]، مقتدا الصدر د عراق یو مهم سیاسي او ملیشه یې مشر دی، هغه د عراق پارلمان په ۳۲۵ غړیو کې شاوخوا ۴۰ څوکۍ په واک کې لري او د یوه نامنظم سیاسي مشر په توګه په خپل نقش کې چې د ۲۰۱۱ ز. له ډسمبر وروسته په عراق کې د امریکا له پوځي حضور سره مخالفت کوي؛ خپل نقش لوبوي[٥۴]، دوی به له متحده ایالاتو سره د یو شمېر امریکایي سرتېرو د روزونکو په توګه د پاتې کېدو په اړه خبرې پیل کړي[٥٥]، الصدر دا هم ویلي وو چې ښایي دوی د امریکایي ځواکونو له پاتې کېدو سره موافقه وکړي، تر هغه چې ځینې روزنې ترلاسه شي[٥٦]، په عراق کې د ایران په ملاتړ نورې ملیشې لکه عصائب الحق هم شامل دي چې شاوخوا ۱۰۰۰ ملېشې لري او د کتائب حزب الله لوا یوه وړه اندازه ښایي دوی ته اجازه ورکړي چې په اسانۍ سره د ایرانیانو له خوا کنټرول شي، ایرانیانو دغو دواړو ډلو ته په زیاتیدونکې توګه اغېزمنې وسلې ورکړې دي.[٥٧]

د ایران پخوانی ولسمشر احمدي نژاد د ۲۰۰۸ ز. د مارچ په لومړیو کې عراق ته سفر کړی و چې په هغه وخت کې یې د اقتصادي اړیکو د لا پراختیا لپاره یو لړ سوداګریز تړونونه لاسلیک کړل، په دې وخت کې ایران د عراق تر ټولو لوی سوداګریز شریک و او ایرانیان هم د عراق په ساختماني او صنعتي سکټور کې یو له سترو پانګوالو څخه دي.[٥٨]

واشنګټن او تهران هم په عراق کې ځيني متقابلې ګټې لري، کله چې متحده ايالاتو له هغه هېواده د خپلو سرتېرو ايستل پيل کړل، متحده ايالاتو د عراق د لومړي وزير مالکي او د هغه د قانون د سياسي ايتلاف ملاتړ وکړ؛ ځکه چې هغه د همېشني مشر په توګه ليدل کېده چې د داخلي دفاع په برخه کې به د عراق د ځان بسيا کېدو ملاتړ ته دوام ورکړي، ايران هم د مالکي ملاتړ وکړ، برعکس سعوديان اکثره په عراق کې د متحده ايالاتو په پاليسيو ژور انتقادونه کوي چې دوی د شيعه پلوه، کرد پلوه او سني ضد په توګه ځانګړي کړي او سعودي مشرانو کله کله د امريکا سياستونه د ايرانيانو په لاسونو کې د لوبې کولو په توګه انځور کړي دي.[٥٩]

سعودي مشران مالکي نه خوښوي او هغه يو فرقه پرست شخصيت بولي چې د عراقي ټولنو ترمنځ په پخلاينه کې خنډ دی، د ٢٠٠٧ز. د می په مياشت کې د مصر په شرم الشيخ کې په يوه نړيوال کنفرانس کې پاچا عبدالله له مالکي سره له ليدو ډډه وکړه چې هغه يې د "فرقه يي وېش" په توګه ياد کړ.[٦٠]

لکه څنګه چې يادونه وشوه، رياض په عراق کې د خپلو ايراني سيالانو په څېر ځان نه دی ښکېل کړی، سعودي عربستان د امريکا په مشرۍ د ځواکونو له بريد وروسته عراق ته د ډيپلوماټانو د لېږلو په اړه د زړه نا زړه کېدو له امله ورو پيل وکړ، تر دې مخکې سعوديانو په ١٩٩١ز. کې د صحرا توپان په نوم د عملياتو پر مهال له عراق سره اړيکې پرې کړې وې؛ خو په ٢٠٠۴ ز. کې يې په رسمي ډول دغه اړيکې بېرته جوړې کړې، عراق په ٢٠٠٧ ز. په رياض کې خپل سفارت بيا پرانېست؛ خو اړيکې يو څه ترينګلې پاتې شوې، برعکس ايرانيانو د ٢٠٠٦ز. په مى کې په هغه هېواد کې سفير وټاکه، متحده ايالاتو د GCC هېوادونه وهڅول چې له عراق سره اړيکې ښې کړي او ممکن د داسې حرکتونو په شمول چې عراق ته له GCC سره د يوځای کېدو اجازه ورکړي، د ٢٠٠٩ ز. د اپريل په ٢۵ مه بغداد ته د سفر په ترڅ کې د امريکا د بهرنيو چارو وزيرې کلينټن له امريکايي ډيپلوماټانو سره د خبرو په حواله د بغداد او رياض تر منځ د اړيکو د خراب حالت په اړه اندېښنه څرګنده کړه، په ٢٠٠٩ ز. کې په واشنګټن کې عرب پوځي افسرانو ته په يوه وينا کې د دفاع وزير

ګیټس وویل: «د عراق د ملګرو خلیج هېوادونو له خوا منل به د ایران د ارمانونو په مخنیوي کې مرسته وکړي».

د ۲۰۱۰ز. په مارچ کې د عراق د ملي ټاکنو په جریان کې سعودیانو په ښکاره توګه د سیکولر شیعه مشر ډاکټر ایاد علاوي ملاتړ وکړ چې د سني عربو ګټو او اندېښنو سره د دوستانه سیاسي ایتلاف مشري یې کوله، په دې چاپېریال کې ریاض په پراخه کچه باور درلود چې ډاکټر علاوي ته یې د هغه سازمان د ټاکنیزو هڅو لپاره بسپنه ورکړې، لومړی وزیر مالکي د دې احتمال په اړه په ځانګړې توګه غوسه شو او د سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او نورو عربي هېوادونو څخه د پیسو د نفوذ په وړاندې یې خبرداری ورکړ، برعکس ځینې سني سیاستوال او سیکولر مشران په دې باور و چې د عراق شیعه ګوندونه له ایرانیانو څخه د پام وړ لاربښوونې او پیسې ترلاسه کوي، لومړي وزیر مالکي په خپله دا یادونه وکړه چې ملت د ټولټاکنو په پایله کې د فرقه یزې مسئلې په اړه یوې مربع ته راستون شو، د ډاکټر علاوي په مشرۍ عراقي بلاک په لومړي وزیر مالکي او د هغه پر متحدینو سختې نیوکې وکړې چې له ایران سره په اړیکو کې د عراق د ګټو په دفاع کې پاتې راغلی دی، دې سیاستوالو تور ولګاوه چې مالکي د عراق په خاوره کې د ایراني پوځي نفوذ یا د ایراني ځواکونو له خوا د عراقي کردانو په کلیو د بمبارۍ په مخنیوي کې پاتې راغلی دی.

د عراقیانو بلاک دا هم وایي چې ایران د سیندونو اوبه عراق ته اړولي چې عراق ته له رسېدو سره سم وچې شي، سني عراقیانو کله ناکله د ایراني مشرانو پر ضد مظاهرې هم کولې چې عراق ته د دوی د ټولنې د بې باورۍ څرګندونه کوي، ځینو څارونکو بیا ویلي وو چې سعودي عربستان د عراق له ځینو لویو سني قبیلو سره مالي مرستې کوي، د عراق شیعه واکمن حکومت د عربي پسرلي په دوره کې له سعودي عربستان سره یو لړ اختلافونه رامنځ ته کړل، په بحرین او سعودي عربستان د عراق سختې نیوکې د GCC د یوې پرېکړې لامل شوې چې په ۲۰۱۱ز. کې په بغداد کې د عرب لیګ د سر مشریزې کنفرانس لغوه کولو غوښتنه وکړي.

## پایله

په منځني ختیځ کې د ایران او سعودي عربستان سیالیو دا سیمه ډېره نا ارامه کړې؛ خو یو څه چې د دې څېړنې د پایلې په توګه یې موږ لیکو؛ هغه دا دي چې دا دواړه هېوادونه په یاده سیمه کې د امریکا د متحده ایالاتو د ګټو لپاره خدمت کوي، په دې کې هر یو ځان له بل مخکښ ګڼي، د دې هېوادونو مسؤلینو دې ته پام نه دی کړی چې د دوی له سیالیو څخه مسلمان اغېزمنېږي، په داسې حال کې چې هر یو یې د اسلامي مشرۍ دعوه هم لري، د ایران- عراق د جګړې پرمهال ځینو د یوه او ځینو بیا د بل ملاتړ کاوه، داسې څوک نه و چې د دې جګړې د پای او سولې لپاره لاس پکار شي.

په دې جګړه کې سعودي په ټول توان د عراق ملاتړ وکړ چې امریکا او روس یې هم ملاتړ کاوه، بل ځای بیا سوریې او ځینو نورو هېوادونو د ایران ملاتړ کاوه، دوی غوښتل چې جګړه دوام ومومي، همدا ډول د فلسطین په موضوع کې هم سیالۍ تر اوسه جریان لري.

کله چې حماس رامنځ ته شوی و؛ په لومړیو کې ایران او سعودي دواړو د دې ډلې د ملاتړ ټېر ډېبولی و؛ خو کله چې د حماس ځینو مشرانو ایران ته سفرونه وکړل سعودي یې له ملاتړه لاس واخیست چې په پایله کې یې فلسطین ټوټې ټوټې شو او په زرګونو وګړي یې تر خاورو لاندې شول، مصر هم یو له هغو هېوادونو څخه و چې د سعودي ملاتړ ورسره و؛ خو عرب پسرلي د مصر د حسن مبارک واکمني له منځه یوړه، په دې هېواد کې ایران ته هم د سیالۍ زمینه برابره شوه چې ایران او سعودي له سره پکې لوبې پیل کړې.

په دې سربېره بحرین هېواد چې زیاتره وګړي یې شیعه ګان دي؛ خو حکومت پکې سنیان کوي، دلته هم د ایران او سعودي ډېرې سیالۍ تېرې شوې، ایران اوس هم په دې هڅه کې دی چې حکومتي واګې د دوی پلوې ډلې ته په لاس ورشي، سوریه هم د ایران او سعودي د سیالیو خورا مهم ځای دی، د عرب پسرلي د پاڅونونو یا د ۲۰۱۱ ز. را په دېخوا ایران د بشارالاسد د رژیم کلک ملاتړ کاوه او غوښتل یې چې په هر قیمت به د دې رژیم ساتنه کوي؛ خو سعودي د ترکیې او امریکا په ملاتړ پکې نیابتي ډلې رامنځ ته کړې چې د ۲۰۲۴ز. په ترڅ کې یې د بشارالاسد رژیم چپه او واک سنیانو ته په لاس

ورغی، اوس هم ایران په دې هڅه کې دی چې هلته خپلې نیابتي ډلې وساتي او په راتلونکې کې ترې ګټه واخلي.

لبنان چې د ایران ملاتړ له ځانه سره لري، دلته بیا سعودي کوښښ کوي چې د خپلې خوښې وړ یو رژیم پکې رامنځ ته کړي؛ خو تر اوسه په دې نه دی توانیدلی، لبنان هغه هېواد دی چې سیاستونه یې تر ډېره له ایرانه اغېزمن دي او وخت نا وخت په سمندر کې د اسرائیلو کښتۍ په نخښه کوي او د ایران د ګټو لپاره کارونه کوي.

یوه بله یادونه هم اړینه برېښي هغه دا چې د سعودي نفوذ تل په ډېری مواردو کې د ایراني فعالیت په وړاندې اغېزمنه یا ګټوره مقابله نه ده، په داسې حال کې چې سعودي عربستان معمولاً د پیسو او ډیپلوماسۍ په کارولو سره خپلو ګاونډیانو ته د نفوذ کولو هڅه کوي، ایران بیا ډېر لېواله دی چې په هغو هېوادونو کې د سخت دریځو ملیشو تمویل وکړي چې کمزوري مرکزي حکومتونه او د ایران پلوه عناصرو په ګډون د شیعه ګانو ټولنې لري، د دې تګلارې تر ټولو مخکښه نمونه چې د ایراني ګټو د پرمختګ لپاره کار کوي؛ په لبنان کې حزب الله دی چې د ایران یو پیاوړی او د باور وړ متحد دی.

**وړاندیزونه**

۱- د افغانستان اسلامي امارت ته د یو وړاندیز په توګه ویل کېږي، که د ایران او سعودي په شخړو کې د حل په موخه د منځلارې نقش ولوبوي، ښایي د دې هېوادونو اړیکې ښې شي او په دې سره به اسلامي امارت یو ځانګړی نقش هم خپل کړي.

۲- ایران او سعودي عربستان ته وړاندیز کېږي چې له خپلمنځي مخالفتونو او سیالیو لاس واخلي؛ ځکه دواړو خواو ته دې موضوعاتو درانه زیانونه اړولي او هم یې له عواقبو اسلامي نړۍ ته ستونزې پېښې شوې دي.

۳- ایران او سعودي عربستان دواړه باید د سیمې ثبات ته پاملرنه وکړي، د دې دوه هېوادونو د سیالیو له امله سیمه او منځنی ختیځ ډېر اغېزمن شوی دی.

۴- ایران او سعودي عربستان باید له خپلو سیاستونو څخه د شیعه او سني موضوع لرې کړي؛ ځکه دې موضوع له سیاست ور اخوا د وګړو په ژوند بدې اغېزې کړې دي.

# مأخذونه


1. Reuters, Bahrain tells 16 Lebanese to leave, 5 gone – diplomat, April 11, 2011, Access link: https:// www. Reuters .com/article/world/bahrain-tells-16-lebanese-to-leave-5-gone-diplomat-idUSTRE73A4KS/
2. Ibid.
3. Ibid.
4. Bahraini Opposition flays government crackdown, Arab News, April 24, 2011, Access link: https:// www. Arabnews .com/ node/375354
5. Joby Warrick and Michael Birnbaum, "Questions as Bahrain Stifles Revolt," Washington Post, April 15, 2011.
6. Paul Richter, "Bahrain Backs Away from Ban on Two Shiite Political Groups," Los Angeles Times, April 16, 2011, Access link: https://www.latimes.com/politics/la-xpm-2011-apr-16-la-fg-us-bahrain-20110416-story.html
7. Reuters, Bahrain says will not disband opposition groups: minister, April 15, 2011, Access link: https:// www .reuters .com/article/world/bahrain-says-will-not-disband-opposition-groups-minister-idUSTRE73E3J5/
8. UAE to Iran: Respect neighbors, 21 April 2011, Access link: https://english.alarabiya.net/articles/2011%2F04%2F21%2F146183
9. RAM, Gulf Arabs discuss Iran 'meddling', APRIL 3, 2011, Access link: https://iranfocus.com/iran-general/22995-gulf-arabs-discuss-iran-meddling/
10. GCC to turn new leaf in relations with Tehran, Kuwait Times, April 23, 2011, Access link: https:// www. Kuna .net .kw/ ArticleDetails.aspx?id=2161585&language=en#
11. Reuters, "Bahrain tries 2 Iranians, Bahraini in Iran spy case." Access link: https://www.arabnews.com/node/374154
12. On the development of this relationship, see Patrick Seele, Asad: The Struggle for the Middle East, Berkeley and Los

Angeles, CA: University of California Press, 1988, Chap. 21. Also see Hugh Naylor, "Syria, Seeking Investors, Turns Cautiously to Iran," New York Times, October 4, 2007.
13. Seele, pp. 351-354.
14. Esther Pan, Syria, Iran, and the Mideast Conflict, *July 18, 2006,* Access link: https://www.cfr.org/backgrounder/syria-iran-and-mideast-conflict
15. No Plans to invade Syria, Insists Blair, Guardian, April 14 2003, Access link: https:// www. Theguardian .com/ politics /2003/ apr /14/foreignpolicy.uk2
16. Baha al-Awam, Iran running out of options in Syria, 04/03/2020, Access link: https://thearabweekly.com/iran-running-out-options-syria
17. New U.S. warning to Syria on Scuds," BBC News, May 5, 2010, Access link: http:// news. bbc.co .uk/2/ mobile /middle _east /8653817.stm
18. The author has spoken to a number of Israeli military officials on this issue.
19. US Reacts to Fear of Iran's Rising Clout," Wall Street Journal, March 22, 2011, Access link:
20. See Lawrence Freedman and Efraim Karsh, the Gulf Conflict, 1990-1991: Diplomacy and War in the New World Order, Access link: https://www.amazon.com/Gulf-Conflict-1990-1991-Diplomacy-World/dp/0691086273
21. Office of the White House Press Secretary, "Joint Statement by President Bush and Saudi Crown Prince Abdullah," Washington, DC: The White House, April 25, 2005, Access link: https://georgewbush-whitehouse .archives .gov/ news /releases/2005/04/20050425-8.html
22. Syria, Iran vow support for Lebanon amid Israeli attacks, 05 October 2024, Access link: https:// english .mathrubhumi .com/ news/ world/syria-iran-support-lebanon-israeli-attacks-bc35a9a7

23. L. Carl Brown, the Arab Center: The Promise of Moderation, September/October 2008, Access link: https:// www. foreignaffairs.com/reviews/capsule-review/2008-09-01/arab-center-promise-moderation
24. THE SAUDI PEACE PLAN, *May 2007,* Access link: https:// www.cjpme.org/fs_027
25. Jim Zanotti, U.S. Foreign Aid to the Palestinians, April 4, 2012, Access link: https://unispal.un.org/pdfs/US-AidtoPalestinians.pdf
26. Christopher M. Blanchard, Saudi Arabia: Background and U.S. Relations, CRS Report for Congress, October 5, 2021, p. 32, Access link: https:// www.congress .gov/crs _external _products /RL/PDF /RL33533/RL33533.85.pdf
27. National Technical Reports Library, Saudi Arabia: Terrorist Financing Issues, 2005, Access link: https:// ntrl.ntis.gov/ NTRL/dashboard/ searchResults/ titleDetail/ADA444877.xhtml
28. Ibid. p. 17
29. Muriel Asseburg, The Fatah–Hamas Reconciliation Agreement of October 2017, Access link: https://www.swp-berlin.org/ publications/ products /comments /2017C44 _ass.pdf
30. Ronen Bergman, A Review of: "The Secret War with Iran: The 30Year Clandestine Struggle against the World's Most Dangerous Terrorist Power, p.270-71. Access link: https:// www. Researchgate .net/ publication /239797215 _A_Review _of _The _Secret _War_with_Iran_The_30Year_Clandestine_Struggle_Against_the_World's_Most_Dangerous_Terrorist_Power_By_Ronen_Bergman
31. Haaretz, IAF Hits Gaza Tunnels in Wake of Bombing Attempt by Sea, February 02, 2010, Access link: https:// www.haaretz .com/2010-02-02/ty-article/iaf-hits-gaza-tunnels-in-wake-of-bombing-attempt-by-sea/0000017f-dbad-db5a-a57f-dbef0aa20000

32. Joshua Mitnick, “Israel’s Seizure of arms shipment highlights rising unease about Iran,” Christian Science Monitor, March 15, 2011.
33. The Gaza-Egypt Smuggling Tunnels must be Closed, Wall Street Journal, and January 14, 2009, Access link: https:// www .wsj .com /articles/SB123189664039179733
34. Ian Black, “Gaza Blockade: Iran Offers Escort to Next Aid Convoy, Guardian, and June 7, 2010, Access link: https:// www .theguardian .com/world/2010/jun/06/gaza-blockade-iran-aid-convoy
35. Iran Revolutionary Guards ready to escort Gaza ships, June 7, 2010, Access link: https:// www.ynetnews .com/ articles/ 0,7340,L-3899816,00.html
36. Hezbollah brought stability to Lebanon: Iranian official, Daily Star, June 27, 2011.
37. Michael Young, The Ghosts of Martyrs Square: an Eyewitness Account of Lebanon’s Life Struggle, New York: Simon & Schuster, 2010, p. 67, Access link: https:// www.abebooks .com/ 9781416598633/Ghosts-Martyrs-Square-Eyewitness-Account-1416598634/plp
38. Ibid. p. 67
39. Morten Valbjorn and Andre Bank, “Signs of a New Arab Cold War: The 2006 Lebanon War and the Sunni-Shi’i Divide,” Middle East Report, spring 2007, p. 7, Access link: https:// pure .au.dk/ portal /en/publications/signs-of-a-new-arab-cold-war-the-2006-lebanon-war-and-the-sunni-s/
40. Thanassis Cambanis, “Stronger Hezbollah Emboldened for Fights ahead,” New York Times, October 6, 2010, Access link: https://www.nytimes.com/2010/10/07/world/middleeast/07hezbollah.html
41. Babak Degghanpisheh, “Lebanon Stages a Diversion,” Newsweek, October 25, 2010, Access link: https:// www. newsweek .com/lebanon-stages-diversion-74177

42. Borzou Daragahi, “Lebanon’s Prime Minister Visits Iran,” Los Angeles Times, November 28, 2010, Access link:
43. https://www.latimes.com/archives/la-xpm-2010-nov-28-la-fg-iran-lebanon-20101128-story.html
44. Liz Sly, “U.N. Court Indicts Hezbollah members in 2005 assassination in Lebanon, Washington Post, August 17, 2011, Access link: https:// www. Washingtonpost .com/ world/ middle-east/un-court-indicts-hezbollah-members-in-2005-assassination-in-lebanon/2011/08/17/gIQAv2KTLJ_story.html
45. Nicholas Blanford, An Interview with Lebanon’s Prime Minister Najib Mikati, TIME, March 13, 2011, Access link:
46. https://time.com/archive/6956802/an-interview-with-lebanons-prime-minister-najib-mikati/
47. David Ignatius, “Hezbollah’s Play of Shadows,” Mar. 01, 2011, Access link: https:// www .oregonlive .com/ opinion /2011 /03 /hezbollahs_play_of_shadows.html
48. Matthew Lee “US Considers Slashing Financial Aid to Lebanon,” Nov. 1, 2019, Access link: https:// www. Nytimes .com/ 2019/ 11/ 01/world/middleeast/lebanon-military-aid.html
49. Hamza Takeen, Iran offers military aid to Lebanon: Official, 30.09.2014, Access link: https:// www. aa.com .tr/en/ world/iran-offers-military-aid-to-lebanon-official/115182
50. Patrice Hill, “War-Weary Iraq sees economic rebound,” Washington Times, April 11, 2011, Access link:
51. https://www.washingtontimes.com/news/2011/apr/10/war-weary-iraq-sees-economic-rebound/
52. ibid
53. ibid
54. ibid
55. Anthony H. Cordesman, irans revolutionary gurds, the alquds force and other intelligent and paramilitary forces, August 15, 2007, pp. 78-81, Access link: https:// www.

csis.org/ analysis /irans-revolutionary-guards-al-quds-force-and-other-intelligence-and-paramilitary-forces
56. ibid
57. See Michael Knights, "The Evolution of Iran's Special Groups in Iraq," West Point Counter Terrorism Center Sentinel, November 2010, p. 13, Access link: https:// ctc.westpoint .edu /the-evolution-of-irans-special-groups-in-iraq/
58. Aseel Kami, "US trainers could be targets: Iraq's Sadr," Reuters, August 7, 2011, Access link: https:// www. Reuters .com/article/us-iraq-sadr/u-s-military-trainers-could-be-targets-iraqs-sadr-idUSTRE7760ZD20110807/
59. Reuters, Iraq eyes U.S. trainers, not troops, after 2011, July 18, 2011, Access link: https:// www. Reuters .com /article /world/iraq-eyes-us-trainers-not-troops-after-2011-idUSTRE76H2NS/
60. Tehran times, Iran appoints new ambassador to Iraq, April 11, 2022, Access link: https:// www. Tehrantimes .com/news /471590/Iran-appoints-new-ambassador-to-Iraq

***Published:*** Afghanistan Science Academy (ASA)
***Chief Editor:*** Asst. Prof. Basharmal Zarghoon

***Editorial Board:***
Prof. Dr. Rafiullah Niazi
Assoc. Prof. Abdul Shakoor Salangi
Assoc. Prof. Abdul Saboor Mubariz
Asst. Prof. Imran Zakeria
Asst. Prof. Ehsanullah Ehsan

***Composed Designed By:*** B. Zarghoon

***Annual Subscription:***
Kabul: 320 AFS
Province: 480 AFS
Foreign countries: 20 USD
Price of each issue in Kabul: 80 AFS

- For the University Professors, Teachers and members of Academy of Sciences: 70 AFS
- For the university and school students: 40 AFS
- Other offices: 80 AFS

***Contact Numbers:*** 0202201279 - (+93) 766110008
***Email:*** rsc@asa.gov.afg
***Email:*** Info@asa.gov.af